د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائیوي بولټن



د ۲۰۱۹ کال دویمه ربعه (د ۲۰۱۹ کال د مارچ له ۲۱ څخه د ۲۰۱۹ کال د جون تر ۲۰ پورې)

د افغانستان بانک اقتصادي او احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائیوي بولټن

د ۲۰۱۹ کال دویمه ربعه (د ۲۰۱۹ کال د مارچ له ۲۱ څخه د ۲۰۱۹ کال د جون تر ۲۰ پورې)

د افغانستان بانک اقتصادي او احصائیوي بولټن

د پولي سیاست آمریت
د افغانستان بانک
ابن سینا واټ
کابل
افغانستان
ټلیفون: ۲۱۰۳۹۳۲-۲۰-۹۳+
وب پاڼه: www.dab.gov.af
بریښنالیک: info@dab.gov.af

ټول حقونه خوندي دي

حقونه او اجازه لیکونه

په دې بولټن کې د ټولو مطالبو د خپرولو حق خوندي دی؛ خو نقلول او بیاځلي چاپول یې په آزاده توګه ترسره کېدای شي. د بیا چاپ لپاره د تصدیق پاڼې او د بولټن یوه کاپي لازمي ده.

**یادداښت:**

د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د ډیسمبر په ۲۱ پیلیږي. دا بولټن د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې (د ۲۰۱۹ کال د مارچ له ۲۱ نېټې څخه د ۲۰۱۹ کال د جون تر ۲۰ نېټې پورې) اقتصادي او احصائیوي بدلونونه رانغاړي.

**د محتویاتو لړلیک**

**عمومي کتنه** ............ ۱
**۱. نړیوال اقتصادي وضعیت** ............ ۵
۱.۱ پرمختللي اقتصادونه ............ ۵
۱.۱.۱ د امریکې د متحدو ایالتونو اقتصاد ............ ۵
۲.۱.۱ د بریتانیې اقتصاد ............ ۶
۳.۱.۱ د جرمني اقتصاد ............ ۷
۴.۱.۱ د جاپان اقتصاد ............ ۷
**۲.۱ راغوړېدلي اقتصادونه** ............ ۸
۱.۲.۱ د چین اقتصاد ............ ۸
۲.۲.۱ د ترکیې اقتصاد ............ ۹
۳.۲.۱ د هند اقتصاد ............ ۹
**۲. د بانکې او پولي بازار بدلونونه** ............ ۱۳
۱.۲ پولي پروګرام ............ ۱۳
۲.۲ د نقدینه ګۍ حجم ............ ۱۴
۳.۲ خالصه نړیوالې زیرمې ............ ۱۷
۴.۲ د اسعارو د مبادلې بازار ............ ۱۷
**۵.۲ د آزاد بازار عملیات او د سیالیت شرایط** ............ ۱۸
۱.۵.۲ د بانګه ایزو پاڼو لیلام ............ ۱۸
۲.۵.۲ الزامي او اضافي زیرمې ............ ۲۰
**۳. د انفلاسیون بهیر او لیدلوری** ............ ۲۳
۱.۳ په افغانستان کې د لګښتي توکو بیې ............ ۲۴
۲.۳ په ملي عمومي انفلاسیون کې بدلونونه ............ ۲۵
۲.۳ د کابل په عمومي انفلاسیون کې بدلونونه ............ ۲۹
**۴. د بهرني سکتور بدلونونه** ............ ۳۵
۱.۴ د ادا ینو بیلانس ............ ۳۵
۱.۱.۴ د جاري حساب بیلانس ............ ۳۵
۲.۱.۴ پانګه ایز حساب ............ ۳۶
۳.۱.۴ مالي حساب ............ ۳۶
۲.۴ د توکو سوداګري ............ ۳۷
۳.۴ د سوداګرۍ لوری ............ ۳۸
۴.۴ د سوداګرۍ ترکیب ............ ۴۰

۱.۴.۴ د وارداتو ترکیب ۴۰
۲.۴.۴ د صادراتو ترکیب ۴۱
۵.۴ بهرنۍ پورونه ۴۲
۶.۴ خالصه نړیوالې زیرمې ۴۳
**۵. د مالي سکتور بدلونونه ۴۹**
۱.۵. د بودجې د اجراء نرخ ۵۰
۲.۵ اصلي بودجه (کسر او ډېریدنه) ۵۰
۳.۵ ټولیزه عواید ۵۱
۱.۳.۵ کورني عواید ۵۱
۲.۳.۵ غیر مالیاتي عواید ۵۲
۴.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې ۵۳
۵.۵ لګښتونه ۵۴
**۶. د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی ۵۷**
۱.۶ د بانکي نظام شتمنی ۵۸
۱.۱.۶ ناخالصه پورونه ۵۹
۲.۱.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات ۶۳
۳.۱.۶ پانګه اچونه ۶۳
۴.۱.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات ۶۴
**۲.۶ پوراینې ۶۴**
۱.۲.۶ امانتونه ۶۴
۲.۲.۶ پور اخیستنې ۶۵
**۳.۶ نقدینه ګی (سیالیت) ۶۶**
**۴.۶ پانګه ۶۶**
**۵.۶ ګټورتیا (نافعیت) ۶۷**
**۶.۶ د اسعارو د مبادلې خطر ۶۹**
**۷.۶ د ټکتاپې د نرخ خطر ۶۹**
**۸.۶ د اسلامي بانکوالی د سکتور کړنې ۶۹**
۱.۸.۶ د اسلامي بانکوالی نظام ټولیزه شتمنی ۷۰
۲.۸.۶ ټولیزه امانتونه ۷۵
۳.۸.۶ نقدینه ګي (سیالیت) ۷۶
۴.۸.۶ پانګه ۷۷
۵.۸.۶ ګټورتیا ۷۷

**د ګرافونو لست**

۱.۱ ګراف: د نړۍ اقتصادي وده، پرمختللي او د غوړېدو په حال کې هېوادونه.......................................................۵
۲.۱ ګراف: د امریکا د متحدو ایالتونو د ناخالصو کورنیو تولیداتو وده.......................................................۶
۳.۱ ګراف: د امریکې د متحدو ایالتونو د لګښتي توکو د بیو شاخص د انفلاسیون نرخ.......................................................۶
۴.۱ ګراف: د بریتانیې د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې نرخ.......................................................۶
۵.۱ ګراف: د بریتانیې د لګښتي توکو د بیو شاخص د انفلاسیون نرخ .......................................................۷
۶.۱ ګراف: د جرمني د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې نرخ.......................................................۸
۷.۱ ګراف: د جاپان د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې نرخ .......................................................۸
۸.۱ ګراف: د چین د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې نرخ.......................................................۹
۹.۱ ګراف: د ترکیې د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې نرخ.......................................................۹
۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې پولي زیرمې.......................................................۱۴
۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې په ګردښت کې پیسې.......................................................۱۴
۳.۲ ګراف: خالصې بهرنۍ شتمنۍ، خالصې کورنۍ شتمنۍ او د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2).......................................................۱۵
۴.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، جاري امانتونه او د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه (سلنه).......................................................۱۵
۵.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د خالصه نړیوالې زیرمې حقیقي کچه او هدف.......................................................۱۷
۶.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ .....۱۷
۷.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د انګلیسي پاونډ او یورو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ........۱۷
۸.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د هندي روپۍ او پاکستاني روپۍ پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ...۱۷
۹.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ایراني تومانو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ........۱۸
۱۰.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د امریکایي ډالرو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ.......................................................۱۸
۱۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه.......................................................۱۹
۱۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ..........۱۹
۱۳.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ........۱۹
۱۴.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ ........۲۰
۱۵.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ ......۲۰
۱.۳ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال کلنی ملي عمومي انفلاسیون.......................................................۲۶
۲.۳ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې ربعوار ملي عمومي انفلاسیون .......................................................۲۷
۳.۳ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ملي انفلاسیون ربعوار د اوسط موندلو میتود.......................................................۲۷
۴.۳ ګراف: د کابل کلنی عمومي انفلاسیون، ۲۰۱۸ جون- ۲۰۱۹ جون.......................................................۲۹
۵.۳ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د کابل درې میاشتنی عمومي انفلاسیون.......................................................۳۱
۶.۳ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د کابل درې میاشتني انفلاسیون منځني نرخ .......................................................۳۱
۱.۴ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د جاري حساب بیلانس (په میلیون امریکایي ډالرو).......................................................۳۶
۲.۴ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې پانګه ایز او مالي حسابونه (په میلیون امریکایي ډالرو).......................................................۳۷
۳.۴ ګراف: د بهرنیو مستقیمو پانګونو داخلي جریانونه (په میلیون امریکایي ډالر)، ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه .......................................................۳۷
۴.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنې او بیلانس، ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه.......................................................۳۸
۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه.......................................................۳۸

۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه ۳۹
۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۳۹
۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه ۴۰
۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه ۴۰
۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۴۱
۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه ۴۲
۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۴۲
۱۳.۴ ګراف: د بهرنی پورواینې پرتلنې، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه او ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۴۳
۱۴.۴ ګراف: خالصه نړیوالې زیرمې ( په میلیون امریکایي ډالرو)، ۱۳۹۷ لومړی ربعه - ۱۳۹۸ دویمه ربعه ۴۳
۱.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو، لګښتونو، بودجې او بسپنو پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه او د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۵۰
۲.۵ ګراف: د ټولیزې بودجې پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه او د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۵۰
۳.۵ ګراف: د عملیاتي بودجې او د پرمختیایي بودجې د اجراء د نرخونو پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه او ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۵۰
۴.۵ ګراف: د اصلي بودجې کسر او ډېربډنه، ( د بسپنو په ګډون او نه ګډون)، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه او ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۵۱
۵.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ونډه، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه او د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۵۱
۶.۵ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې د ټولیزه عوایدو ونډه ۵۱
۷.۵ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال د دویمې ربعې او د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې ترمنځ د ټولیزه داخلي عوایدو پرتلنه ۵۲
۸.۵ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې او د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې ستر کورني عواید ۵۲
۹.۵ ګراف: د ټولیزه غیر مالیاتي عوایدو د سترو اجزاوو پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه او د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۵۳
۱۰.۵ ګراف: د بسپنو ورکوونکو ټولیزه شننه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړی ربعه او د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۵۳
۱۱.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډې اجزاوې، د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۵۳
۱۲.۵ ګراف: د بسنه ورکوونکو د ونډې پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه او د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۵۴
۱۳.۵ ګراف: د ټولیزه لګښتونو پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال لومړی ربعه او د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۵۴
۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ډلو ونډه، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړی او دویمه ربعه ۵۷
۲.۶ ګراف: د بانکي نظام د ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړی او دویمه ربعه ۵۹
۳.۶ ګراف: په ټولیزه ناخالصو پورونو کې د منځنیو، کوچینو او تر ټولو کوچنیو پورونو ونډه، د ۱۳۹۸ کال لومړی او دویمه ربعه ۶۲
۴.۶ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړی او دویمې ربعې په پای کې د پور د پورتوفولیو کیفیت ۶۲
۵.۶ ګراف: د بانکونو ترمنځ طلباتو کې د بانکي ډلو ونډه، د ۱۳۹۸ کال لومړی او دویمه ربعه ۶۴
۶.۶ ګراف: په پوراینو کې د بانکي ډلو ونډه، د ۱۳۹۸ کال لومړی او دویمه ربعه ۶۴
۷.۶ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړی او دویمه ربعه کې افغانی امانتونه ۶۵
۸.۶ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړی او دویمه ربعه کې د امانتونو اسعاري ترکیب ۶۵
۹.۶ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړی او دویمه ربعه کې د بانکي ډلو امانتونه ۶۵
۱۰.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي، د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه ۶۵
۱۱.۶ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړی او دویمه ربعه کې د بانکي نظام ګټورتیا ۶۷

۱۲.۶ ګراف: له پانګې ترلاسه شوې ګټه (ROA) او له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه (ROE) .......... ۶۸
۱۳.۶ ګراف: نهايي خالصه ټکټانه .......... ۶۸
۱۴.۶ ګراف: د اسلامي بانکوالۍ د شتمنيو بهير .......... ۷۱
۱۵.۶ ګراف: د اسلامي بانکوالۍ نظام د محصول پر بنسټ پانګونه او مالي تمويل: د ۱۳۹۸ کال د لومړۍ او دويمې ربعې پرتلنه .......... ۷۴
۱۶.۶ ګراف: توليدي پانګونه او مالي تمويل سلنه، د ۱۳۹۸ مالي کال دويمه ربعه .......... ۷۴
۱۷.۶ ګراف: د بانکونو ترمنځ طلبات، د ۱۳۹۸ کال لومړۍ او دويمه ربعه .......... ۷۵
۱۸.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي، د ۱۳۹۸ مالي کال دويمه ربعه .......... ۷۶
۱۹.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي، ۱۳۹۸ مالي کال .......... ۷۷
۲۰.۶ ګراف: د شريعت مطابق محصولاتو د سترو برخو څخه ترلاسه شوې ګټه، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دويمه ربعه .......... ۷۹

**د جدولونو لست**


۱.۲ جدول: د نقدینګی حجم، ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه....... ۱۶
۱.۳ جدول: ملي عمومي انفلاسیون، ۲۰۱۹ (۱۳۹۸)....... ۲۸
۲.۳ جدول: د کابل عمومي انفلاسیون، ۲۰۱۹ (۱۳۹۸)....... ۳۱
۱.۴ جدول: د افغانستان د اداینو بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر)....... ۴۴
۲.۴ جدول: د توکو سوداګري (په میلیون امریکایي ډالر)....... ۴۵
۳.۴ جدول: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې لپاره د بهرنۍ سوداګرۍ لوری (په میلیون امریکایي ډالر)....... ۴۵
۴.۴ جدول: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې لپاره د بهرنۍ سوداګرۍ لوری (په میلیون امریکایي ډالر)....... ۴۶
۵.۴ جدول: د ۱۳۹۷ مالي کال او ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې لپاره بهرنۍ پوراینې....... ۴۶
۶.۴ جدول: خالصې نړیوالې زیرمې (په میلیون امریکایي ډالر)، ۱۳۹۷ لومړۍ ربعې نه تر ۱۳۹۸ دویمې ربعې پورې....... ۴۶
۱.۶ جدول: د بانکونو د شتمنۍ کچه، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه....... ۵۸
۲.۶ جدول: د سکتور پر بنسټ د سوداګریزو بانکونو پورونه، د ۱۳۹۳ مالي کال نه تر ۱۳۹۸ مالي کال دویمې ربعې پورې....... ۶۱
۳.۶ جدول: د نقدینه ګۍ د نسبتونو پرتلنې په سلنه، د ۱۳۹۳ مالي کال نه تر ۱۳۹۸ مالي کال دویمې ربعې پورې....... ۶۶
۴.۶ جدول: د ګټې/ زیان جدول، د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه....... ۶۸
۵.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ د نظام شتمنۍ، د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه....... ۷۱
۶.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ د نظام ټولیزه شتمنۍ او پوراینې، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه....... ۷۲
۷.۶ جدول: د محصول پر بنسټ د اسلامي بانکوالۍ په نظام کې مالي تمویل او پانګونه، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه....... ۷۳
۸.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ نظام د ټینګښت مهم شاخصونه، د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه....... ۷۶
۹.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ د نظام د ګټې او زیان جدول، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه....... ۷۸
۱۰.۶ جدول: د شریعت مطابق د سترو محصولاتو د ډولونو پر بنسټ ګټه، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه....... ۷۹
۱۱.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ نظام د کارکوونکو، پور ورکوونکو او امانت ایښودونو ټولیز شمېر د ۱۳۹۸ مالي کال تر دویمې ربعې پورې. ۷۹



## د افغانستان بانک د ټولو ریاست
## سرپرست رئیس پیغام

″د ټولنې د ډېرو زیانمن کیدونکو وګړو ملاتړ، د افغانستان بانک د پالیسیو او هڅو موخه ده. دا چاره د سالم او اغېزناکه پولي سیاست د تطبیق له لارې ترسره کېږي، هغه سیاست چې د بانک پر لومړني هدف (د بیو پر ثبات) تمرکز کوي.″

**عمومي کتنه**

افغانستان په بریالیتوب سره د پیسو د نړیوال صندوق له لورې د کریډټ د غځونې اسانتیا د درې کلن پروګرام د بشپړولو په حال کې دی. د دې پروګرام پر بنسټ، خالصې نړیوالې زیرمې او پولي زیرمې افغانستان ته د دوو مقداري هدفونو په توګه ټاکل شوې وې چې د افغانستان بانک په ښه توګه د یادو هدفونو په ترلاسه کولو کې بریالی دی. د دې هدفونو پر بنسټ، د پولي زیرمو ټاکل شوی هدف (د کلني زیاتوالي په درلودلو سره) ۱۲ سلنه او د خالصو نړیوالو زیرمو هدف صفر سلنه (د کال تر پایه ثابت) دی.

د افغانستان بانک د نقدینه ګۍ حجم د ساتلو لپاره د هدف ټاکلو له رژیم څخه ګټه پورته کوي چې پر بنسټ یې پولي زیرمې د بانک عمده عملیاتي هدف او د نقدینه ګۍ په موخه په ګردښت کې پیسې د بانک ضمني هدف جوړوي. د افغانستان بانک د خپل عملیاتي هدف د ترلاسه کولو په موخه په بازار کې د اضافي نقدینه ګۍ د کنټرول او اداره کولو لپاره د ازاد بازار له عملیاتو څخه کار اخلي. افغانستان په بریالیتوب سره په دې توانیدلی څو د انفلاسیون نرخ په مطلوب حد کې وساتي، سره له دې چې د انفلاسیون نرخ د تیرې ربعې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۳.۴ سلنه او د تیر کال د دویمې ربعې په پرتله یې ۵.۳ سلنه زیاتوالی تجربه کړی دی. د لګښتي توکو د بیو شاخص د انفلاسیون نرخ د کال په کال شمېرو پر بنسټ د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په منځني ډول ۴.۲ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د منفي ۱.۱ سلنې په پرتله لوړوالی ښکاره کوي. د لګښتي توکو د بیو شاخص د انفلاسیون نرخ د زیاتیدو اصلي لامل په نړیوالو بازارونو کې د توکو د بیو لوړیدل ګڼل کیږي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۸ مالي کال له پیل څخه د دویمې ربعې تر پایه پورې په ټولیزه توګه ۱،۲۰۶.۹۴ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي دي. د افغانستان بانک د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ د څپ څپانتیاوو د راکمولو او په بازار کې د اضافي نقدینه ګۍ د کنټرول په موخه د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې ۶۶۵ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي دي. په ورته وخت کې، د پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه د همدې ربعې په پای کې ۲۷.۰۲ میلیارده افغانۍ په ګوته شوې ده. د یادونې وړ ده چې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه او د روان کال په لومړۍ نیمایي کې افغانۍ د بهرنیو اسعارو پر وړاندې په ترتیب سره ۶.۶۱ سلنه او ۷.۲۳ سلنه خپل ارزښت له لاسه ورکړی دی.

په یاده موده کې د هېواد د اقتصاد په بهرني سکتور کې ښه والی راغلی دی. د توکو د سوداګرۍ کسر د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۶.۷ سلنه راکم شوی دی چې د وارداتو کموالی، د خدمتونو د حساب اړوند په ترلاسه شویو پیسو او د کارګرو په شخصي لیږدونو کې زیاتوالی یې اصلي لامل ګڼل کېږي. په ورته وخت کې د جاري حساب کسر ۶۰۴.۷۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې د پانګې حساب ۳۲ سلنه داخلي بهیدنې لري. همدا ډول، د بهرنۍ مستقیمې پانګونې داخلي بهیدنې په یاده ربعه کې ۸۷ سلنه راکمه شوې دي، حال دا چې بهرنۍ بهیدنې ۸۱ سلنه زیاتې شوې دي. د اداینو بیلانس د ارزونې لاندې ربعه کې په ټولیزه توګه ۵۱۷.۱۲ میلیونه امریکایي ډالره کسر کړی دی.

په دولتي سکتور کې د افغانستان بودجې (له بسپنو پرته) د

۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۶۹ میلیارده افغانۍ کسر تجربه کړې دی، حال دا چې ( د بسپنو په شمول) د دولت بودجې ۲.۶۹ میلیارده افغانۍ زیاتوالی درلودلی دی.

همدا ډول داخلي عواید د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې زیات شوي چې اصلي لامل یې د مالیاتو او ګمرکي عوایدو او د افغانستان بانک د ونډو د عوایدو زیاتوالی ګڼل کېږي.

د بانکي نظام چې د هېواد د ناخالصه کورنیو تولیداتو په سلو کې ۲۱.۵۱ جوړوي، په ټولیزه شاخصونو (ټولیزه شتمنۍ، ناخالصه پورونو، امانتونو، د اکویټۍ پانګه او ګټه) کې زیاتوالی راغلی دی. همدا ډول نقدینه ګي په کافي حد کې پاتې ده، خو د پورونو په کیفیت کې ښه والی راغلی نه دی. د دې ترڅنګ، امانتونه د تل په څېر د بانکي نظام عمده تمویلي سرچینه ګڼل کېږي او د پېرودونکو او د بانکونو ترمنځ امانتونه په کې شامل دي. د اسلامي بانکدارۍ نظام یو بانک او شپږ برخې رانغاړي چې د ټولیزه بانکي نظام د شتمنیو ۱۰.۶۸ سلنه، د ناخالصو پورونو ۲۷.۹۲ سلنه او د امانتونو ۱۰.۳۰ سلنه جوړوي.

# ١


# نړيوال اقتصادي وضعيت

# نړيوال اقتصادي وضعيت

د نړۍ اقتصادي وده د ۲۰۱۹ مالي کال په دويمه ربعه کې په دوامداره توګه راکمه شوې ده چې په نړيوال اقتصاد کې د سوداګرۍ پر وړاندې خنډونه، د غوړېدو په حال هېوادونو کې کمزورې پانګونه، په ګڼ شمېر پرمختللو هېوادونو کې کمزورې اقتصادي وده، زياتيدونکي پوروونه او د بريګزيټ (Brexit) له امله رامنځته شوي فشارونه يې ستر لاملونه ګڼل کېږي.

د پيسو نړيوال صندوق د نړيوال اقتصادي لړليد پر بنسټ د پرمختللو هېوادونو د اقتصادي ودې کچه په ۲۰۱۹ کال کې ۱.۹ سلنه او په ۲۰۲۰ کال کې ۱.۷ سلنه اټکل شوې ده. همدا ډول، د يورو سيمې د هېوادونو د اقتصادي ودې کچه په ۲۰۱۹ کال کې ۱.۳ سلنه او په ۲۰۲۰ کال کې ۱.۶ سلنه اټکل شوې ده. د دې ترڅنګ، د غوړېدو او د پرمختګ په حال هېوادونو کې د اقتصادي ودې کچه په ۲۰۱۹ کال کې ۴.۱ سلنه او په ۲۰۲۰ کال کې ۴.۷ سلنه اټکل شوې ده.

**۱.۱ ګراف: د نړۍ اقتصادي وده، پرمختللي، د پرمختګ او غوړېدو په حال کې هېوادونه**




سرچينه: د پيسو نړيوال صندوق نړيوال اقتصادي لړليد

د پرمختللو هېوادونو له ډلې د امريکې متحده ايالاتو اقتصاد د ۲۰۱۹ مالي کال په دويمه ربعه کې ۲.۱ سلنه وده کړې، حال دا چې د بريتانيې او جرمني اقتصادي وده په ترتيب سره ۰.۲ سلنه او ۰.۱ سلنه راکمه شوې ده. همدا ډول، د غوړېدو په حال کې هېوادونو له ډلې د چين اقتصادي وده ۶.۲ سلنه راټيټه شوې، د هند اقتصادي وده ۵ سلنه لوړه شوې او د ترکيې په اقتصادي وده کې ۱.۵ سلنه ټيټوالی راغلی دی.


## ۱.۱ پرمختللي اقتصادونه

### ۱.۱.۱ د امريکې د متحدو ايالتونو اقتصاد

د امريکا د متحدو ايالتونو د سوداګرۍ وزارت د شمېرو پر بنسټ د دې هېواد اقتصادي وده د ۲۰۱۹ مالي کال په دويمه ربعه کې راټيټه شوې. همدا ډول، د دې هېواد ناخالصه کورني توليدات د تېرې ربعې د ۳.۱ سلنې زياتوالي په پرتله په دې ربعه کې ۲.۱ سلنه زيات شوي دي چې واک ته د ډونالډ ټرمپ تر رسيدو وروسته تر ټولو ټيټه اقتصادي وده ګڼل کېږي.

دولتي او د مستهلکينو لګښتونو په اقتصادي وده کې مثبته ونډه لرلې، حال دا چې سوداګريزې پانګونې اقتصادي وده يو څه راکمه کړې ده. په ورته وخت کې، خصوصي لګښتونه د ۲۰۱۹ مالي کال په دويمه ربعه کې ۴.۳ سلنه زيات شوي، حال دا چې دولتي لګښتونو او ناخالصې پانګونې ۵ سلنه زياتوالی موندلی چې د تيرې ربعې په پرتله د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، ناخالصه خصوصي پانګونه ۵.۵ سلنه او رغنيز لګښتونه ۱۰.۶ سلنه راکم شوي دي. د يادونې وړ ده چې د سوداګريزو فشارونو له امله رامنځته شوې ناډاډمنتياوې په دې موده کې د سوداګرۍ د وضعيت د خرابوالي اصلي لامل په ګوته شوی دی.


**۲.۱ ګراف: د امریکا د متحدو ایالتونو د ناخالصو کورنیو تولیداتو وده (د تیرې ربعې په پرتله د ودې د سلنې بدلون)**




سرچینه: د امریکا متحده ایالاتو د اقتصادي شننې او څیړنې اداره

د لګښتي توکو د بیو شاخص د انفلاسیون نرخ د ۲۰۱۹ مالي کال په دویمه ربعه کې په منځني ډول ۱.۷۳ سلنې ته رسیږي چې په لاندې جدول کې ښودل کیږي. که څه هم د مرکزي بانک چارواکي د انفلاسیون نرخ د زیاتوالي له امله اندیښمن دي، د شرکتونو تر لاسه شوې ګټې د تمې خلاف خورا زیاتې دي چې د شنونکو په باور اقتصادي وده سره له دې چې ټیټه ده، خو تر ډیره د دې ګټو په زیاتوالي کې مرسته کوي.

**۳.۱ ګراف: د امریکا متحده ایالاتونو د انفلاسیون نرخ**





سرچینه: د امریکا متحده ایالاتو د کار احصائیو اداره

### ۲.۱.۱ د بریتانیې اقتصاد

د بریتانیې ناخالصه کورني تولیدات د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې ۰.۲ سلنې ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۰.۵ سلنې په پرتله کموالی ښکاره کوي. همدا ډول، د کال په کال شمېرو پر بنسټ (له اپریل تر جون میاشتې پورې) د دې هېواد د ناخالصو کورنیو تولیداتو وده ۱.۲ سلنه اټکل شوې ده چې د تیرې ربعې د ۱.۸ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د دې ترڅنګ، د دې هېواد نومول شوي ناخالصه کورني تولیدات د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې ۰.۴ سلنې ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۰.۹ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

**۴.۱ ګراف: د بریتانیې د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې نرخ (د تیرې ربعې په پرتله د ودې د سلنې بدلون)**





سرچینه: د بریتانیې د احصائیې ملي اداره

د تولید، خدمتونو او تولیدي محصول کچه د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې راټیټه شوې ده. د تولید کچه په یاده موده کې ۱.۴ سلنې ته راټیټ شوې چې په تولیدي محصولاتو کې ۲.۳ سلنه کموالی یې اصلي لامل په ګوته شوی دی. په ورته وخت کې، تولیدي حاصل د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې د پام وړ زیات شوی دی چې د ۲۰۰۹ زیرډیز کال راهیسې تر ټولو ډیر زیاتوالی ګڼل کیږي. همدا ډول، د خدمتونو حاصل چې د ناخالصه کورنیو تولیداتو په وده کې یې مثبته ونډه لرلې ده، د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې ۰.۱ سلنې ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۰.۴ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي او په تیرو دریو کلونو کې تر ټولو ډیر کموالی ګڼل کیږي. د دې ترڅنګ، د رغونې حاصل په روانه ربعه کې ۱.۳ سلنې

ته رسيږي چې د تيرې ربعې د ۱.۴ سلنې په پرتله لږ څه کموالی ښکاره کوي.

۵.۱ ګراف: د بريتانيې د لګښتي توکو بيو شاخص (د يو کال په تيريدو د سلنې بدلون)




سرچينه: د بريتانيې د احصائيې ملي اداره

دا بې ثباتي په بنسټيزه توګه له اروپايي ټولنې څخه د بريتانيـا د وتلو د اصلي پلان د کړنو په مهال وېش کې له بـدلـونـونـو څخه سرچينه اخلي. له کومې ورځې چې بـارس جانسـن د دې هېواد د لومړي وزير په توګه ټاکل شوی، سترلنګ پاونډ د امريکايي ډالرو په وړاندې ۳ سلنه کموالی موندلی دی.

### ۳.۱.۱ د جرمنی اقتصاد

د جرمني اقتصاد چې د اروپا تر ټولو لوی اقتصادي هـېـواد ګڼل کېږي، د ۲۰۱۹ مالي کال په دويمه ربـعـه کې يې اقتصادي وده ۰.۳ سلنه انقباض کړی دی چې د تيرې ربعې د ۰.۴ سلنې اقتصادي ودې په پرتله ټيټوالی ښکاره کوي. د دې هېواد د اقتصادي ودې د ټيټوالی اصلي لامل نړيوالې او د بريګزيټ اړوند نا ډاډمنتياوې او سوداګريزه جګـړه په ګوته شوي دي. همدا ډول، د دې هېواد صنعتي تـولـيـد تير کال په پرتله د ۲۰۱۹ کال د جون په مياشـت کـې ۵ سلنه راټيټ شوی او اقتصادي وضعيت د اګست په مياشـت کې د پام وړ خراب شوی چې د ۲۰۱۱ زيـږديـز کـال لـه ډيسمبر راپديخوا تر ټولو ټيټه کچه ګڼل کېږي.

د جرمني اقتصاد تر ډېره امريکې متحده اياالتونو او چيـن ته پر صادراتو باندې ولاړ دی او له همدې امله د چيـن او امريکا ترمنځ د سوداګريزې جګړې او په پايله کې يـې د رامنځته کيدونکو نا ډاډمنتياوو له امله د دې هېواد د مـوټـر جوړولو صنعت اغيزمن شوی دی. چين چې د جـرمـنـي د موټر جوړولو صنعت يو له تر ټولو لويو بازارونو څخه دی، د پر له پسې ديارلس مياشتو راپديخوا يـې د مـوټـرو پـه خرڅلاو کې کموالی راغلـی دی. د دې تـرڅـنـګ، پـه نړيواله کچه د موټرو اخيستلو تقاضا هم راکمه شوې ده. د يادونې وړ ده چې د بريګزيټ اړوند ناډاډمنتيـاوو د ۲۰۱۹ مالي کال په دويمه ربعه کې هم پر سوداګـری د پـام وړ اغيزه کړې ده.


### ۴.۱.۱ د جاپان اقتصاد

د جاپان ناخالصه کورني توليدات د کلني نرخ پر بنسټ د ۲۰۱۹ کال په دويمه ربعه کې ۱.۸ سلنې ته رسيږي چې د تيرې ربعې د ۲.۲ سلنې په پرتله ټيټوالی ښکاره کوي چې د امريکې متحده اياالتو او چيـن تـرمـنـځ د دوامـداره سوداګريزې جګړې سربيره يې د بازار اړتياوې پوره کـړې دي. همدا ډول، د جاپان د ناخالصه کورنيو تـولـيـداتـو د ربعوار ودې نرخ په ياده موده کې ۰.۴ سلنې تـه رسـيـږي چې د ۰.۱ سلنه اټکل شوې کچې په پرتله زياتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې، د جاپان دولت پر خـرڅـلاو د مالياتو د لوړولو پلان لري چې له امله يې مـمـکـن د دې هېواد په توليداتو کې کموالی راشي.

د منفي بيروني تقاضا سربيره د سوداګرۍ په نـورو بـرخـو کې د کموالي له امله خصوصي لګښتونه او پانګه اچونه د پام وړ زيات شوي دي چې پر بنسټ يې په داخلي تقـاضـا


کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. خصوصي لګښتونه چې د ناخالصه کورني تولیداتو نیمایي برخه جوړوي، د یادو تولیداتو په وده کې بنسټیز رول لوبوي. په ورته وخت کې، د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې لګښتونه ۰.۶ سلنه زیات شوي چې په اکتوبر میاشت کې پر ټولیزو لګښتونو له ۸ سلنې څخه ۱۰ سلنې ته د مالیې له لوړولو وروسته د مستهلکینو له لورې د ګران بیه توکو لکه موټرو او ایرکنډیشنونو پیرودل یې اصلي لامل ګڼل کېږي.

**۶.۱ ګراف: د جرمني د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې نرخ (د تیرې ربعې په پرتله د ودې د سلنې بدلون)**




سرچینه: د احصائیې فدرالي اداره او د اقتصادي همکاریو او پراختیا سازمان (OECD)

**۷.۱ ګراف: د جاپان د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې نرخ**




سرچینه: د جاپان دولت د کابینې دفتر

همدا ډول، د پانګې لګښتونه د تیرې ربعې په پرتله د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې ۱.۵ سلنه زیات شوي چې د شرکتونو له لورې پر کار کمه پانګونه یې تر ټولو ستر لامل ګڼل کېږي. د دې ترڅنګ، د دې هېواد صادرات هم ۰.۱ سلنه راکم شوي دي چې په چین او نورو آسیایي هېوادونو کې د اقتصادي فعالیت کموالی یې اصلي لامل په ګوته شوی دی.

**۲.۱ د غوړېدو په حال کې هېوادونه**


**۱.۲.۱ د چین اقتصاد**

د چین د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې نرخ د تیرې ربعې په پرتله د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې ۶.۲ سلنې ته رسیږي چې په تیرو ۲۷ کلونو کې تر ټولو ټیټه کچه بلل کېږي. د چین دولت د داخلي او نړیوالې تقاضا د کمیدو او د امریکا له لورې پر چین د سوداګریز فشار د دوام له امله پر مالي هڅونې تمرکز کړی او د ۲۹۱ میلیارده امریکایي ډالرو په ارزښت د زیاتو مالیاتو د کمولو له مخې غواړي خپله اقتصادي وده تقویه کړي. همدا ډول، دې هېواد د رغنیزو بیخبنسټونو د پیاوړتیا لپاره د ۲.۱۵ تریلیون ین په ارزښت پور پاڼې هم ویشلي دي.

سربیره پر دې، د دې هېواد مرکزي بانک پلان لري څو د الزامي زیرمو نسبتونه (RRR) له منځه یوسي او د کوچنیو شرکتونو د مالي پیاوړتیا لپاره له نورو مالي ابزارونو څخه کار واخلي، په داسې حال کې چې د دې هېواد اقتصاد لا هم د یادو مالي هڅونو وروسته ښه والی نه دی کړی او سوداګر پانګوال په پانګونه کې له پوره دقت او احتیاط څخه کار اخلي. په ورته وخت کې، د صنعتي تولید، پرچون پلورنې او ثابتې شتمنۍ د پانګونې په اړه د وروستیو خپرو شویو معلوماتو پر بنسټ داسې ښکاري چې د دولت هڅې به مطلوبې پایلې ولري. په همدې توګه په یاده موده کې صنعتي تولید د تیرې ربعې په پرتله ۶.۳ سلنه او د ثابتې شتمنۍ پانګونه د تیر کال په پرتله د روان کال په لومړۍ

نیمايي کې د اقتصادي شنونکو د ۵.۵ سلنې اټکل شوې کچې برعکس ۵.۸ سلنه زیات شوي دي. د دې ترڅنګ، د روان کال د جون په میاشت کې پرچون پلورنه ۹.۸ سلنه زیاته شوې، حال دا چې د موټرو خرڅلاو په یاده میاشت کې ۱۷.۲ سلنې ته رسیږي چې د تیرې میاشتې په پرتله ۲.۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د فابریکو د تولید او پرچون پلورنې اړوند شمیرې د اقتصادي ودې ثبات ښکاره کوي. له بلې خوا، مالي بازارونه او سوداګریز همکاران د چین او امریکې متحده ایالاتونو ترمنځ د سوداګریزې جګړې په اړه اندیښمن دي او د نړیوال اقتصادي رکود د منځته راتلو ویره لري.

۸.۱ ګراف: د چین د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې نرخ (د تیرې ربعې په پرتله د ودې د سلنې بدلون)





سرچینه: د چین د احصائیې ملي اداره

### ۲.۲.۱ د ترکیې اقتصاد

د ترکیې د احصائیوي انستیتوت د خپرو شویو معلوماتو له مخې، د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې د ترکیې د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې اوسنی نرخ یو تریلیون ترکي لیرو (۱۷۵ میلیارده امریکایي ډالرو) ته رسیږي. همدا ډول، د دې هېواد ناخالصه کورني تولیدات د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربعه کې له ۲.۴ سلنه انقباض وروسته د تیر کال د ورته ربعې په پرتله ۱.۵ سلنه انقباض کړی چې د اقتصاد پوهانو له لوري د ۱.۸ سلنه اټکل شوې کچې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې، د موسم پر بنسټ او د کلیزې له مخې عیار شوې ودې نرخ په تیره ربعه کې ۱.۲ سلنه وه. د دې ترڅنګ، د رغونې سکتور وده ۱۲.۷ سلنه، د صنعتي تولید وده ۲.۷ سلنه او د خدمتونو سکتور وده ۰.۳ سلنه راکمه شوې ده، حال دا چې د کرنې سکتور وده ۳.۴ سلنه زیاته شوې او خالصو صادراتو د ناخالصو کورنیو تولیداتو په وده کې ۷.۴ سلنه ونډه لرلې ده.

سربېره پر دې، د ترکیې د دولت د اټکل له مخې به د ۲۰۱۹ کال په دریمه او څلورمه ربعه کې اقتصادي وده پیاوړې شي چې په ټولیزه توګه په روان کال کې د دې هېواد اقتصادي وده ۲.۳ سلنه، په ۲۰۲۰ کال کې ۳.۵ سلنه او په ۲۰۲۱ کال کې ۵ سلنه اټکل شوې ده.

۹.۱ ګراف: د ترکیې د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې نرخ (د تیرې ربعې په پرتله د ودې د سلنې بدلون)




سرچینه: د ترکیې احصائیوي انستیتیوت او د اقتصادي همکارۍ او پراختیا سازمان

### ۳.۲.۱ د هند اقتصاد

د هند د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې ۵ سلنې ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۵.۸ سلنې او د تیر کال د ورته ربعې د ۸ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي چې په تیرو شپږو کلونو کې ترټولو ټیټه کچه ګڼل کیږي. د هند د ناخالصو کورنیو تولیداتو د کموالي

اصلي لامل د خصوصي لګښتونو او د توليدي سکتور د ودې کموالی ګڼل کېږي. خصوصي لګښتونه د ۲۰۱۹ کال په دويمه ربعه کې ۳.۱ سلنې ته راټيټ شوي چې په تيرو ۱۸ ربعو کې تر ټولو ډير ټيټوالی ګڼل کېږي. همدا ډول، د توليدي سکتور وده ۰.۶ سلنې ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۱۲ سلنې اټکل شوې کچې په پرتله د پام وړ ټيټوالی ښکاره کوي. د دې ترڅنګ، د کرنې سکتور وده تر نيمايي ډيره کمه شوې ده. د خپرو شويو شمېرو پر بنسټ د هند اقتصادي وده د تيرو شپږو کلونو راپديخوا په تر ټولو ټيټه کچه کې ده.

که څه هم د خدمتونو په سکتور کې د سوداګرۍ، هوټلونو او اړيکو وده ۷.۱ سلنې ته رسيږي چې د تيرې ربعې د ۶ سلنې ودې په پرتله زياتوالی ښکاره کوي، حال دا چې د مالي خدمتونو او عامه اداري خدمتونو وده په دې ربعه کې راکمه شوې ده.

له دې وړاندې د هند ريزرف بانک (RBI) د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نيمايي کې د هند د اقتصادي ودې نرخ د ۵.۸ او ۶.۶ سلنې ترمنځ او د روان مالي کال په دوهمه نيمايي کې د ۷.۳ او ۷.۵ سلنې ترمنځ اټکل کړی وه. له همدې امله د دويمې ربعې په پای کې د دې هېواد اقتصادي وده ۵ سلنې ته رسيږي چې د هند د ريزرف بانک د ۵.۸ سلنې اټکل شوې کچې په پرتله ټيټه ده او په دې توګه د ياد بانک په کلني اټکل کې د کموالي لامل کيدای شي. د يادونې وړ ده چې د هند ريزرف بانک د ۲۰۱۹ کال له پيل راهيسې د ټکټانې نرخ څلور ځلې راکم کړی او د هند دولت هم د کمزورې اقتصادي تقاضا د لا پياوړي کولو په موخه بيلا بيلې مالي هڅونې هم اعلان کړي دي.

# ۲

## د بانکي او پولي بازار بدلونونه

## ۲
## د پانگې او پولي بازار بدلونونه

د پولي سکتور د احصائيې او شمېرو له مخې پولي زيرمو د ۱۳۹۸ مالي کال د دويمې ربعې په پای کې ۲.۷۶ سلنه مثبته وده ثبت کړې ده، حال دا چې په تيره ربعه کې يې ۳.۹۵ سلنه منفي وده لرله چې د منفي ۱.۸۷ سلنې ربعوار ودې او د تير کال د دويمې ربعې د ۷.۲۲ سلنې کچې په پرتله زياتوالی ښکاره کوي. د پولي زيرمو د مثبتې ودې اصلي لامل د ارزونې لاندې موده کې د زياتو دولتي عوايدو راټولول گڼل کېږي. په گردښت کې پيسې چې د پولي زيرمې يوه مهمه برخه جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۴.۲۵ سلنه وده ثبت کړې ده او د ۱۳۹۸ مالي کال له پيل راهيسې د دويمې ربعې تر پايه پورې ۱.۴۹ سلنه وده ثبت کړې ده.

تر ارزونې لاندې ربعه کې د پولي زيرمو او په گردښت کې د پيسو وده چې د د افغانستان بانک عملياتي او ضمني هدفونه جوړوي، له ټاکل شوي هدفونو څخه ډېره ټيټه پاتې شوې ده چې ارزونې لاندې کال د دويمې ربعې په اوږدو کې د بازار او بانکونو نه د اضافي نقدينه گۍ راغونډول يې ستر لامل په گوته شوی دی.

د محدوده مفهوم په توگه پيسې (M1) د ارزونې لاندې کال د دويمې ربعې په پای کې ۴۴۸.۹۲۰ ميليونه افغانيو ته رسېږي چې ۵ سلنه وده ښکاره کوي. د پراخه مفهوم په توگه پيسې (M2) هم ورته بهير درلودلی دی چې د ۱۳۹۸ مالي کال د دويمې ربعې په پای کې يې کچه ۴۸۳.۴۲۸.۴۱ ميليونه افغانيو ته رسېږي او ۴.۰۶ سلنه وده ښکاره کوي.

د افغانستان بانک د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د تبادلې د نرخ له حده زيات څپ څپانده کېدو (نوسانونو) د راکمولو او په بازار کې د نقدينگۍ د مديريت کولو لپاره د آزاد بازار تر عملياتو لاندې د اسعارو او پانگه ايزو پاڼو له ليلام څخه کار اخلي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۸ مالي کال له پيله راهيسې د دويمې ربعې تر پايه پورې په ټوليزه توگه ۱،۲۰۶.۹۴ ميليونه امريکايي ډالره او د دويمې ربعې په اوږدو کې يې ۶۶۵ ميليونه امريکايي ډالره ليلام کړي څو په بازار کې له حده زيات سياليت د مديريت ترڅنګ د اسعارو په وړاندې د افغانيو چټک څپ څپاندونه (نوسانونه) راکم کړي. د پانگه ايزو پاڼو ټوليزه ناترلاسه شوې کچه د ۱۳۹۸ مالي کال د دويمې ربعې په پای کې ۲۷.۰۲۰ ميليارده افغانيو ته رسېږي. په ورته وخت کې، د ۱۳۹۸ مالي کال د دويمې ربعې په اوږدو کې د ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت ۶.۶۱ سلنه او د روان مالي کال په لومړۍ نيمايي کې ۷.۲۳ سلنه راکم شوی دی.

### ۱.۲ پولي پروگرام


د ۱۳۹۸ مالي کال د دويمې ربعې په اوږدو کې پولي زيرمې د افغانستان بانک د پولي سياست د يو مهم عملياتي هدف (د کړنې د معيار) په توگه او په گردښت کې پيسې د ضمني هدف په توگه پېژندل شوي دي.

د پولي زيرمو (RM) کره مبلغ چې د کورنيو بيو د ثبات او د د افغانستان بانک د لومړنيو موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، د پيسو د مقداري تيورۍ په کارولو سره ټاکل کيږي. له همدې کبله، د پولي زيرمو او په گردښت کې د پيسو لپاره ټاکل شوي هدفونه د اړونده مودې په

اوږدو کې د اقتصادي ودې او انفلاسيون د تمو پر بنسټ ټاکل کېږي. په ۱۳۹۸ مالي کال کې د پولي زيرمې او په ګردښت کې د پيسو وده ۱۲ سلنه ټاکل شوې ده. د يادولو وړ ده چې د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې د پولي زيرمو حقيقي وده ۲.۷۶ سلنه او په ګردښت کې د پيسو حقيقي وده ۲۵ سلنه وه چې له ټاکل شوي هدف څخه لا هم ډېره ښکته ده. د افغانستان بانک په بازار کې د اضافي نقدينه ګۍ د مديريت کولو او د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د تبادلې د نرخ له حده زيات ټپ ځپانده کېدو (نوسانونو) د راکمولو لپاره د آزاد بازار د عملياتو له لارې ۱،۲۰۶.۹۴ ميليونه امريکايي ډالره ليلام کړي.


۱.۲ او ۲.۲ ګراف د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې لوړه کچه او حقيقي پولي زيرمې او په ګردښت کې پيسې ښکاره کوي.

**۱.۲ ګراف: : د ۱۳۹۸ مالي کال د دويمې ربعې په اوږدو کې پولي زيرمې**




سرچينه: د پولي سياست آمريت، د افغانستان بانک

**۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دويمې ربعې په اوږدو کې په ګردښت کې پيسې (مارچ ۲۲ – جون ۲۱)**




سرچينه: د پولي سياست آمريت، د افغانستان بانک

## ۲.۲ د نقدينه ګۍ حجم

د محدوده مفهوم په توګه پيسې او د پراخه مفهوم په توګه پيسې د پولي او مالي احصائيو د لارښود او د معلوماتو د راټولونې د لارښوونې پر بنسټ راټولېږي.

د محدوده مفهوم په توګه پيسې (M1) د امانت ايښودونکو شرکتونو څخه بهر اسعار او جاري امانتونه رانغاړي، حال دا چې د پراخه مفهوم په توګه پيسې (M2) په ترکيب کې د محدوده مفهوم په توګه د پيسو اجزاوې او داسې نورې لږې سيالې شتمنۍ يا پيسه وزمه شاملې دي.


د ۱.۲ جدول ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پيسې (M1) د ۱۳۹۸ مالي کال د دويمې ربعې په پای کې ۵ سلنه زياتوالی کړی دی چې د ۱۳۹۷ مالي کال د ورته مودې په پرتله ۲۱.۳۱۱ ميليونه افغانۍ توپير او يو څه ټيټوالی ښکاره کوي. د امانت ايښودونکو شرکتونو څخه بهر اسعار يا په ګردښت کې پيسې چې د پراخه مفهوم په توګه پيسو ۴۶ سلنه جوړوي، ۲.۱۵ سلنه وده موندلې چې د تېر کال د ورته مودې د ۲.۷ سلنې ثبت شوې ودې په پرتله ټيټوالی موندلی چې ۴،۶۵۸ ميليونه افغانۍ توپير ښکاره کوي. جاري امانتونه چې د محدوده مفهوم په توګه د پيسو نورې برخې جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال د دويمې

ربعې په پای کې ۷.۹۱ سلنه وده تجربه کړې ده، حال دا چې تېر کال په ورته موده کې یې ۱۱.۳ سلنه وده درلوده چې ۱۶،۶۵۳ میلیونه افغانۍ توپیر ښکاره کوي.

د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) کچه د ارزونې لاندې ربعه کې ۴۸۳،۴۲۸.۴۱ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۴۶۴،۵۷۸.۷۹ میلیونه افغانۍ په پرتله ۴.۰۶ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي، خو د تیر کال د ورته مودې د ۶.۲ سلنې ودې په پرتله یې ټیټوالی موندلی دی. د پراخه مفهوم په توګه د پیسو ټیټه وده په نورو امانتونو کې ټیټدونکي بهیر پورې تړاو لري. دا شمېرې ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پیسې(M1) د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) تر ټولو ستره برخه ۹۲.۸۶ سلنه جوړوي.

پیسه وزمه (Quasi Money) یا نور امانتونه چې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) بله برخه جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې منفي ۶.۶۶ سلنه وده لرلې ده. پیسه وزمه د ارزونې لاندې مودې په پای کې د پراخه مفهوم په توګه پیسو ۷ سلنه جوړوي چې د تیر مالي کال د دویمې ربعې د ۸ سلنه ودې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. له همدې امله، د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) باندې د هغه د بدلون اغېزه ډېره کمه ده. په افغانۍ موده ایزه امانتونو کې کال په کال بدلون ۹،۴۷۹ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې ۲۴.۷۴ سلنه منفي وده ښکاره کوي، حال دا چې د اسعاري موده ایزه امانتونو وده د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۲۵،۰۳۰ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې ۲.۶۸ سلنه وده ښکاره کوي.

**۳.۲ ګراف: خالصې بهرنۍ شتمنۍ، خالصې داخلي شتمنۍ او د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2)**





سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

د افغانۍ موده ایزه امانتونو د کموالي او د اسعاري موده ایزه امانتونو د زیاتوالي اصلي لامل د بانکونو د افغانیو سپما حسابونو ټیټدونکی بهیر او د اسعارو موده ایزه امانتونو زیاتوالی ګڼل کېږي. همدا ډول، د اسعاور په وړاندې د افغانۍ د ارزښت کمیدل د اسعارو موده ایزه امانتونو د زیاتوالي لامل شوي دي. شته شمېرې ښکاره کوي چې د ارزونې لاندې ربعې په مهال یو امریکایي ډالر په ۸۰.۸۷ افغانۍ تبادله کېږي حال دا چې د تیر کال په ورته موده کې یو امریکایي ډالر په ۷۱.۵۸ افغانۍ بدلیده. د افغانۍ موده ایزه امانتونه او د اسعارو موده ایزه امانتونه د پراخه مفهوم په توګه پیسو په ترتیب سره ۱.۹۶ سلنه او ۵.۱۸ سلنه جوړوي.

همدا ډول د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) د ونډې په توګه جاري امانتونه د ارزونې لاندې کال د دویمې ربعې په پای کې ۴۷ سلنې ته رسیږي (د زیاتو معلوماتو لپاره د ۴.۲ ګراف ته مراجعه وکړئ).

**۴.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، جاري امانتونه او د پراخه مفهوم په توګه پیسو د ونډې په توګه پیسه وزمه (سلنه)**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱.۲ جدول: د نقدینه ګی حجم، د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه**

| | د ۲۰۱۷ کال دویمه ربعه | د ۲۰۱۸ کال دویمه ربعه | کال په کال د سلنې بدلون | توپیر | د ۲۰۱۹ کال دویمه ربعه | کال په کال د سلنې بدلون | توپیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تشریحات | مبلغ په میلیون افغانی | | | | مبلغ په میلیون افغانی | | |
| ۱- خالصه بهرنی شتمنی | ۵۹۱,۴۲۲ | ۶۸۱,۵۲۴ | ۱۵.۲٪ | ۹۰,۱۰۲ | ۷۹۲,۶۳۳ | ۱۶.۳۰٪ | ۱۱۱,۱۱۰ |
| (الف) بهرنی شتمنی | ۶۰۲,۶۷۵ | ۶۹۶,۶۰۷ | ۱۵.۶٪ | ۹۳,۹۳۱ | ۸۰۴,۳۸۸ | ۱۵.۴۷٪ | ۱۰۷,۷۸۱ |
| د افغانستان بانک د بهرنیو اسعارو زیرمې | ۴۹۰,۷۱۱ | ۵۸۰,۷۴۷ | ۱۸.۳٪ | ۹۰,۰۳۶ | ۶۶۷,۷۵۲ | ۱۴.۹۸٪ | ۸۷,۰۰۵ |
| سره زر | ۵۹,۷۵۱ | ۶۴,۱۶۰ | ۷.۴٪ | ۴,۴۰۹ | ۷۸,۳۴۲ | ۲۲.۱۰٪ | ۱۴,۱۸۲ |
| نور | ۴۳۰,۹۶۱ | ۵۱۶,۵۸۷ | ۱۹.۹٪ | ۸۵,۶۲۶ | ۵۸۹,۴۱۰ | ۱۴.۱۰٪ | ۷۲,۸۲۳ |
| نوري بهرنی شتمنی | ۱۱۱,۹۶۴ | ۱۱۵,۸۶۰ | ۳.۵٪ | ۳,۸۹۶ | ۱۳۶,۶۳۶ | ۱۷.۹۳٪ | ۲۰,۷۷۷ |
| (ب) بهرنی پورونه | ۱۱,۲۵۳ | ۱۵,۰۸۳ | ۳۴.۰٪ | ۳,۸۳۰ | ۱۱,۷۵۵ | - ۲۲.۰۷٪ | - ۳,۳۲۸ |
| ۲. خالصه کورني شتمنی | -۱۵۱,۳۵۶.۱۳ | - ۲۱۴,۱۸۰.۷۳ | ۴۱.۵٪ | - ۶۲,۸۲۵ | - ۳۰۶,۵۸۲.۳۶ | ۴۳.۱۴٪ | - ۹۲,۴۰۲ |
| (الف) خالص کورنی کریډټ | - ۳۰,۰۷۱ | - ۷۱,۷۱۸ | ۱۳۸.۵٪ | - ۴۱,۶۴۷ | - ۹۵,۵۵۴ | ۳۳.۲۳٪ | - ۲۳,۸۳۵ |
| د غیر مالي عامه سکتور لپاره خالص کریډټ | - ۷۶,۴۳۸ | -۱۱۸,۵۹۷ | ۵۵.۲٪ | - ۴۲,۱۵۹ | - ۱۴۴,۸۵۴ | ۲۲.۱۴٪ | - ۲۶,۲۵۷ |
| د مرکزي حکومت لپاره خالص کریډټ | - ۷۶,۵۳۲ | -۱۱۸,۶۹۱ | ۵۵.۱٪ | - ۴۲,۱۵۹ | - ۱۴۴,۹۴۸ | ۲۲.۱۲٪ | - ۲۶,۲۵۷ |
| د مرکزي حکومت لپاره کریډټ | ۲۲,۸۷۹ | ۱۵,۰۵۹ | - ۳۴.۲٪ | - ۷,۸۲۱ | ۷,۱۸۵ | - ۵۲.۲۹٪ | - ۷,۸۷۴ |
| د مرکزي حکومت لپاره پورونه | ۹۹,۴۱۱ | ۱۳۳,۷۵۰ | ۳۴.۵٪ | ۳۴,۳۳۸ | ۱۵۲,۱۳۳ | ۱۳.۷۴٪ | ۱۸,۳۸۳ |
| د مرکزي او سیمه ایز حکومت لپاره خالص کریډټ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰٪ | ۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰٪ | ۰ |
| د عامه غیر مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډټ | ۹۴ | ۹۴ | ٪۰.۰ | ۰ | ۹۴ | ۰.۰۰٪ | ۰ |
| د خصوصي سکتور لپاره کریډټ | ۴۷,۵۸۵ | ۴۸,۰۶۸ | ۱.۰٪ | ۴۸۳ | ۵۰,۰۳۳ | ۴.۰۹٪ | ۱,۹۶۶ |
| د نورو مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډټ | - ۱,۲۱۹ | -۱,۱۸۹ | - ۲.۴٪ | ۲۹ | - ۷۳۳ | - ۳۸.۳۳٪ | ۴۵۶ |
| (ب) د پانګې حسابونه | ۱۴۲,۱۴۸ | ۱۶۹,۲۸۲ | ۱۹.۱٪ | ۲۷,۱۳۴ | ۲۳۲,۵۵۲ | ۳۷.۳۸٪ | ۶۳,۲۷۰ |
| (ت) نور خالصه اقلام | ۲۰,۸۶۴ | ۲۶,۸۲۰ | ۲۸.۵٪ | ۵,۹۵۶ | ۲۱,۵۲۳ | -۱۹.۷۵٪ | - ۵,۲۹۷ |
| ۳. د پراخه مفهوم په توګه پیسې | ۴۳۷,۴۰۱.۰۲۴ | ۴۶۴,۵۷۸.۷۸۹ | ۶.۲٪ | ۲۷,۱۷۸ | ۴۸۳,۴۲۸.۴۱ | ۴.۰۶٪ | ۱۸,۸۵۰ |
| د محدوده مفهوم په توګه پیسې | ۴۰۰,۶۲۱ | ۴۲۷,۶۰۹ | ۷٪ | ۲۶,۹۸۸ | ۴۴۸,۹۲۰ | ۵٪ | ۲۱,۳۱۱ |
| په ګردښت کې پیسې (هغه پیسې چې له امانت اېښودونکو شرکتونو څخه بهر دي) | ۲۱۱,۴۱۲ | ۲۱۷,۰۶۷ | ۲.۷٪ | ۵,۶۵۴ | ۲۲۱,۷۲۴ | ۲.۱۵٪ | ۴,۶۵۸ |
| جاري امانتونه | ۱۸۹,۲۰۹ | ۲۱۰,۵۴۳ | ۱۱.۳٪ | ۲۱,۳۳۴ | ۲۲۷,۱۹۶ | ۷.۹۱٪ | ۱۶,۶۵۳ |
| نور امانتونه (پیسه وزمه) | ۳۶,۷۷۹.۶۹۶ | ۳۶,۹۶۹.۶۳۸ | ۰.۵٪ | ۱۹۰ | ۳۴,۵۰۸.۴۸۸ | - ۶.۶۶٪ | - ۲,۴۶۱ |
| په افغانی امانتونه | ۱۵,۰۵۹ | ۱۲,۵۹۴ | - ۱۶.۴٪ | -۲,۴۶۵ | ۹,۴۷۹ | -۲۴.۷۴٪ | - ۳,۱۱۵ |
| په بهرنیو اسعارو امانتونه | ۲۱,۷۲۱ | ۲۴,۳۷۶ | ۱۲.۲٪ | ۲,۶۵۵ | ۲۵,۰۳۰ | ۲.۶۸٪ | ۶۵۴ |
| له ونډو پرته بیه لرونکې پاڼې | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ |

سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۳.۲ خالصه نړیوالې زیرمې

د افغانستان بانک په نړیوالو زیرمو کې سره زر، د پیسو د نړیوال صندوق سره د پور زیرمه او ونډه، د برداشت ځانګړی حق (SDR) او همدا ډول مهم اسعار لکه امریکايي ډالر، یورو، انګلیسي پونډ او داسې نور شامل دي. د افغانستان نړیوالې خالصې زیرمې چې په امریکايي ډالرو څرګندیږي، د شتمنۍ هغه زیرمې دي چې د پوراینې زیرمې ترې منفي شوي دي.

خالصه نړیوالې زیرمې د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۱۶.۵ میلیونه امریکايي ډالره (۰.۲۱) سلنه لږ څه کموالی ښکاره کوي. د خالصو نړیوالو زیرمو کچه ۷،۷۰۸.۵۸ میلیونه امریکايي ډالره ټاکل شوې وه، حال دا چې حقیقي کچه یې د ارزونې لاندې موده کې ۷،۶۸۰.۳ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي.

**۵.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د خالصه نړیواله زیرمې حقیقي کچه او هدف**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۴.۲ د اسعارو د تبادلې بازار

#### ۱.۴.۲ د اسعارو د تبادلې نرخونه

د افغانستان بانک وروستۍ موخه د بیو د ټیکاو ساتل دي، خو د د افغانستان بانک د خپل اصلي هدف ترڅنګ د آزاد بازار د عملیاتو لاندې په ګټوره توګه د پالیسي په تطبیقولو سره د پولي ابزارونو سمې ګټې اخیستنې ته هم متوجه وي.

د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د افغانۍ ارزښت د پاکستانۍ کلدارې او ایراني تومان په وړاندې لوړ شوی دی، خو د نړیوالو اسعارو لکه انګلیسي پونډ، یورو، سویسي فرانک، امریکایي ډالرو، د اماراتو د درهم، سعودي ریال او هندي روپۍ په وړاندې راکم شوی دی.


د ارزونې لاندې موده کې د امریکايي ډالرو او نورو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د تبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ په لاندې ګرافونو کې وړاندې کیږي.

**۶.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د امریکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ**





سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۷.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د انګلیسي پاونډ او یورو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ**





سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۸.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د هندۍ روپۍ او پاکستانۍ روپۍ په وړاندې د افغانۍ د تبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۹.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ایراني تومان پر وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی منځنی نرخ**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک


### ۲.۴.۲ د اسعارو لیلام

د افغانستان بانک په داخلي مارکیټ کې د بیو د ثابت ساتلو او د پیسو د عرضې د کنټرولولو په موخه د پولي زیرمو د ودې کچه لوړه ساتي او په همدې موخه په اونۍ کې درې ځلې د اسعارو لیلام او په اونۍ کې یو ځلي د پانګه ایزو پاڼو لیلام ترسره کوي چې د د افغانستان بانک ورځخه د عمده پولي ابزارونو په توګه کار اخلي. د افغانستان بانک په دوامداره توګه د اسعارو لیلام ترسره کړی، څو له بازار څخه اضافي نقدینه ګي لرې کړي او د بهرنیو اسعارو، په ځانګړې توګه د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ د زیاتو ځپ ځپاندونو (نوسانونو) مخه ونیسي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۶۶۵ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي، په داسې حال کې چې په همدې موده کې ټولیزه تقاضا ۱,۴۳۷.۲۰ میلیونه امریکایي ډالره وه چې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت کموالی یې عمده لامل په ګوته شوی دی. په منځنۍ توګه په هر لیلام کې ۵۹ داوطلبانو ګډون کړی دی او له دې ډلې ۴۳ داوطلبان ګټونکي اعلان شوي دي چې په هر لیلام کې په منځني ډول ۱۹.۵۶ میلیونه امریکایي ډالره پلورل شوي دي چې په ټولیزه توګه ۵۲.۱۸۸ میلیارده افغانۍ ویستل شوي دي.

همدا ډول، د خپرو شویو شمیرو له مخې د تیر مالي کال په دویمه ربعه کې د لیلام شویو پیسو ټولیزه مبلغ ۵۲۸.۸۳ میلیونه امریکایي ډالره ؤ، حال دا چې ټولیزه تقاضا ۷۵۳.۴۴ میلیونه امریکایي ډالره وه. په روان کال کې په منځنۍ توګه ۵۰ داوطلبانو په هر لیلام کې ګډون کړی چې له دې ډلې ۳۸ ګټونکو داوطلبانو ته په هر لیلام کې په منځني ډول ۱۹.۵۸ میلیونه امریکایي ډالر ورکړل شوي دي چې په ټولیزه توګه ۳۷.۳۰۶ میلیارده افغانۍ ویستل شوي دي. ۱۰.۲ ګراف د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د امریکایي ډالرو د لیلام له لارې ورکړل شوی او د تقاضا مبلغ ښکاره کوي.

**۱۰.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د امریکایي ډالرو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ ( په میلیون امریکایي ډالره)**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۵.۲ د آزاد بازار کړنې او د سیالیت شرایط

### ۱.۵.۲ د پانګه ایزو پاڼو لیلام

پانګه ایزې پاڼې د افغانۍ لنډمهاله بیه لرونکي پاڼې دي چې د د افغانستان بانک لخوا د لومړني بازار پر پیرودونکو او ډیری جواز لرونکو سوداګریزو بانکونو باندې په اوونۍ کې یو ځل پلورل کیږي.

د افغانستان بانک له پانګه ایزو پاڼو څخه د پولي ابزار په توګه کار اخلي څو د پیسو د عرضې وده مدیریت کړي.


پانګه ایزې پاڼې د سوداګریزو بانکونو د اضافي نقدینه ګۍ د جذبولو لپاره کارول کېږي. اوس مهال، د د افغانستان بانک د یوې اونۍ، یوې میاشتې، درېو میاشتو، شپږو میاشتو او د یو کال سر ته رسیدو مودو پانګه ایزې پاڼې بازار ته وړاندې کوي. د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه ناترلاسه شوې ونډه ۲۷.۰۲۰ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د تېر کال د ورته ربعې د ۳۷.۹۶۰ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۰.۴۹۰ میلیارده افغانۍ ټیټوالی ښکاره کوي.

د نا ترلاسه شوې ونډې د کمیدو اصلي لامل د پانګه ایزو پاڼو د پلور کموالی په ګوته شوی دی.

د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو ناترلاسه شوې ونډه ۳ میلیارده افغانۍ، د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۷.۸ میلیارده افغانۍ او د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۵ میلیارده افغانۍ ثبت شوې ده. سربېره پر دې، د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۱۱.۲۲ میلیارده افغانۍ او د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه صفر ته رسیږي چې عمده لامل یې د یادو پانګه ایزو پاڼو د لیلام نه ترسره کیدل په ګوته شوی دی.


د ارزونې لاندې ربعې په پای کې د پانګه ایزو پاڼو پر وړاندې ټولیزه ورکړل شوې ټکټانه ۵۵.۱۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. سربېره پر دې، د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د عیار شوې ټکټانې منځنۍ نرخ ۰.۱۶ سلنه، د ۲۸ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو نرخ ۰.۳۶ سلنه، د ۹۱ ورځنیو پاڼو ۰.۵۳ سلنه، د ۱۸۲ ورځنیو پاڼو ۰.۷۳ سلنه او د ۱۳۹۸ مالي د دویمې ربعې په اوږدو کې د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو ټکټانه ورکړل شوې نه ده.

**۱۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د پانګه ایزو پاڼو ناترلاسه شوې ونډه**





سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ**





سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱۳.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ**





سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱۴.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱۵.۲ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

## ۲.۵.۲ الزامي او اضافي زیرمې

سوداګریزه بانکونه اړ دي چې د خپلو ټولو امانتونو ۸ سلنه د د افغانستان بانک په افغانیو حسابونو او ۱۰ سلنه په اسعاري حسابونو کې د الزامي زیرمې په توګه وساتي. د نویو مقرراتو پر بنسټ الزامي زیرمې په افغانۍ او بهرنیو اسعارو ساتل کېږي، حال دا چې په تیر وخت کې یوازې په افغانۍ ساتل کیدې. د پورته امانتونو په بدل کې سوداګریزو بانکونو ته هیڅ ډول ګټانه نه ورکول کېږي. معلومات ښکاره کوي چې د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې دا ګټانه ۶،۰۴۷.۵۳ میلیونه افغانۍ، ۲۰۹.۴۲۷ میلیونه امریکایي ډالره او ۱۹.۲۳۱ میلیونه یورو ثبت شوې ده.

- **د شپې د امانتونو اسانتیا:** دا اسانتیا ټولو سوداګریزو بانکونو لپاره برابره شوې، څو له خپلو اضافي بیلانسونو څخه ګټانه ترلاسه کړي. د شپې امانتونو د اسانتیا د ګټانې نرخ اوس مهال ۰.۱ دی. ( د یادونې وړ ده چې دا نرخ د ۲۰۱۷ کال د سپټمبر په ۱۱ نېټه د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د منظور شوي متحد المال پر بنسټ په ټولو بانکونو باندې د اجراء وړ دی).
د ارزونې لاندې ربعه کې د شپې د امانتونو د اسانتیاوو ناترلاسه شوی مبلغ ۷،۴۱۵.۹۰ میلیونه افغانۍ ثبت شوی دی او په ورته موده کې د یادو اسانتیاوو په بدل کې ورکړل شوې ګټانې نرخ ۲.۲۳۵ میلیونه افغانۍ ته رسېږي.
- **د شپې پور اسانتیا:** دا اسانتیاوې د سوداګریزو بانکونو لخوا د لنډ مهاله نغدي اړتیاوو لپاره کارول کېږي او بانکونو ته په هغه صورت کې اجازه ورکوي چې د نغدي جریان له کمښت سره مخ شي او اړتیا ولري چې د شپې پر بربنسټ له د افغانستان بانک څخه په افغانیو پور ترلاسه کړي. کوم مبلغ چې له بانکونو څخه د دې اسانتیا په بدل کې ګرځول کېږي، د تېرو ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د لیلام له مبلغ څخه ۰.۱ سلنه لوړ دی. دا پور اخیستنه یوازې د پانګه ایزو پاڼو د ناتصفیه شوي مبلغ په مرسته تضمین کېږي. د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې هیڅ بانک د شپې پور له اسانتیا څخه برخمن شوی نه دی.

# ٣

## د انفلاسیون بهیر او لید لوری

## د انفلاسیون بهیر او لید لوری

د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د ګڼ شمېر سوداګریزو توکو بیې د تیر کال په پرتله لوړې شوې دي او د ډېرو توکو بیو په تیره ربعه کې له ټیټوالي وروسته ښې شوي دي. د اومه موادو بازارونو د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې زیان کړی دی او د روان مالي کال د لومړۍ نیمایي په وروستی سوداګریزه ورځ کې د چین او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د سوداګریزو کړکیچونو د نه حل کیدو له امله د ډالرو شاخص هم راکم شوی دی. د توکو د شتمنیو برخې چې ۲۹ لومړني توکي رانغاړي، د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې کموالی موندلی چې ۱.۱۷ سلنې ته رسیږي او د روان کال د لومړیو دوو ربعو په تیریدو سره لا هم ۵.۲۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د یادونې وړ ده چې په تیر مالي کال کې د شتمنۍ برخې ۶.۸۲ سلنه زیان کړی ؤ.

د طبیعې غازو بیې د امریکې متحده ایالاتو او استرالیا له لورې د مایع طبیعي غازو د صادراتو د زیاتوالي له امله د ۲۰۱۹ زیږدیز کال د مارچ او اپریل په میاشتو کې په چټکۍ سره راټیټې شوي دي چې پر بنسټ یې د ډېرو سکرو په بیو کې چې د طبیعي غازو بدیل ګڼل کېږي، هم کموالی راغلی دی. همدا ډول، د اقتصادي لرلید اړوند خطرونو په شتون کې اټکل کېږي چې په۲۰۲۰ زیږدیز کال کې به د یوه بیرل بیه ۶۵ امریکایي ډالرو ته راښکته شي، حال دا چې په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې د یوه بیرل نفتو بیه په منځني ډول ۶۶ امریکایي ډالره وه. د کرنیزو توکو بیې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د تیر کال په وروستیو دوو ربعو کې د پام وړ ټیټوالي وروسته نسبتاً لوړې شوي دي. د نړیوال بانک د کرنیزو توکو د بیو په شاخص کې د ربعې په ربعې شمېرو پر بنسټ د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۰.۹ سلنه زیاتوالی راغلی دی، حال دا چې د نورو کټګوریو په پرتله د مشروباتو بیې ۳.۴ سلنه راټیټې شوې دي. د یادونې وړ ده چې دا شاخص د تیر کال په پرتله لا هم ۵.۶ سلنه ټیټ دی او ټول هغه عوامل، په تیره بیا د سوداګریزو کړکیچونو هوارول او د راتلونکي کال لپاره په امریکې متحده ایالاتو کې د کمو بوټو کینول په دې موده کې تر یوه حده راکم شوي دي. اټکل کېږي چې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په دې شاخص کې ۲.۶ سلنه ټیټوالی راشي.

د اومو نفتو بیې د تیرې ربعې د ۱۱.۵ سلنه ټیټوالي په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۶ سلنه راټیټې شوې دي. اټکل کېږي چې د غیر انرژي توکو بیې په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې د تیر کال د منځني نرخ په پرتله راټیټې شي او د نړیوال اقتصاد له ښه کیدو سره سم په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې نسبتاً لوړوالی ومومي. د ځانګړې پاملرنې برخه د دولت له لورې د سوداګرۍ اړوند عمومي اقداماتو په ترسره کولو سره د خوراکي توکو بیو د لوړیدو له امله د بیوزلۍ ناوړه پایلې په ډاګه کوي.

**د انرژۍ بیې:** د انرژۍ بیې په تیره ربعه کې د شاوخوا ټولو انرژیکي توکو د بیو له چټک ټیټوالي وروسته د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې یو څه ښې شوې دي. که څه هم د بېلابېلو انرژیکي توکو په بیو کې د پام وړ کموالی راغلی دی. د روان کال له پیل راهیسې د تیلو بیې ۳۴ سلنه لوړې شوې دي چې د تیلو صادرونکو هېوادونو سازمان (OPEC) او نورو تولیدونکو له لورې د تیلو په تولید کې کمښت او په نورو برخو کې د عرضې کموالی یې ستر لامل په ګوته شوی دی.

د دې برعکس، د طبیعې ګازو بیې د امریکې متحده

ایالاتو او استرالیا له لورې د مایع طبیعي غازو د صادراتو د زیاتوالي له امله د ۲۰۱۹ زیږدیز کال د مارچ او اپریل په میاشتو کې په چټکۍ سره راټیټې شوي دي چې ورسره سم د ډېرو سکرو په بیو کې چې د طبیعي غازو بدیل دی، هم ټیټوالی راغلی دی. همدا ډول، د اقتصادي لرلید اړوند خطرونو په شتون کې اټکل کېږي چې په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې به د یوه بیرل بیه ۶۵ امریکایي ډالرو ته راښکته شي، حال دا چې په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې د یوه بیرل نفتو بیه په منځني ډول ۶۶ امریکایي ډالره وه.

**د غیر انرژي توکو بیې:** د ګڼ شمېر غیر انرژي توکو په ځانګړې توګه د فلزونو او منرالونو بیې د تیر کال په وروستۍ ربعه کې له ټیټوالي وروسته د ۲۰۱۹ کال د مارچ په میاشت کې یو څه ښې شوې دي. د فلزونو په بیو کې زیاتوالي د چین د اقتصادي ودې هیله مندي رامنځ ته کړې چې د نړۍ په کچه د مصرفي توکو د لګښت نیمایي او د یو لړ تولیدي خنډونو او محدودیتونو او همدا ډول د تولید اړوند نورو اندېښنو او پېښو پورې تړاو لري، لکه: په برازیل کې د ویل بند پیښه (اوسپنه، فلز لرونکي کانې، نکل)؛ په چلي کې زیات سیلابونه (مس)، په پیرو کې اعتراضونه (مس)، په چین کې د چاپیریال ساتنې د اندیښنو پر وړاندې له کانو څخه د فلزونو د راویستونکو فابریکو بندول (سرب او جست) او په اندونیزیا کې د صادراتو بندیز (قلعي یا المونیمي ماده).

په ورته وخت کې، د عرضې عوامل (فکتورونه) د تیر کال په څیر په روان کال کې هم د زیاترو کرنیزو توکو د بیو د زیاتوالي لامل ګڼل کېږي. په دې عواملو کې د هوا اړوند د امریکا د غنمو او جوارو په څنډ سره کرنه او د سوداګریزو فشارونو په اړه اندیښنو له امله د امریکا د سویابینو د کرنې کم اټکلونه شامل دي.

**کرنه:** د زیاترو کرنیزو توکو بیې د تیر کال په دویمه نیمایي کې له پام وړ کموالي وروسته د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې یو څه لوړې شوي دي. د نړیوال بانک د کرنیزو توکو د بیو شاخص د ربعې په ربعې شمېرو له مخې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۰.۹ سلنه لوړ شوی په داسې حال کې چې په نورو ټولو کټګوریو کې د یو څه لوړوالي له امله د څښاک په بیو کې ۳.۴ سلنه ټیټوالي راغلی دی. د یادولو وړ ده چې په دې شاخص کې د تیر کال په پرتله ۵.۶ سلنه ټیټوالی راغلی دی. همدا ډول، ډیری هغه عوامل اوس راکم شوي دي چې له امله یې په تیر کال کې د کرنیزو توکو بیې راټیټې شوې وې چې د سوداګریزو فشارونو کموالی او د امریکا متحده ایالتونو له لورې په راتلونکي موسم کې د غله جاتو د کرکیلې کموالی یې بنسټیزې بیلګې ګڼل کېږي. اټکل کېږي چې دا شاخص به په ۲۰۱۹ کال کې ۲.۶ سلنه کموالی او په ۲۰۲۰ کال کې ۱.۷ سلنه زیاتوالی ومومي چې د تولید کموالی او د کیمیاوي سرې د بیو لوړوالی یې ستر لامل ګڼل کېږي.

د دې اټکل په وړاندې خطرونه تر یوه بریده د سوداګریزو فشارونو د زیاتوالي له امله رامنځ ته شوی. له بلې خوا، د انرژۍ لوړې بیې کولای شي د زیاتې انرژي لرونکو غلو دانو په تیره بیا د جوارو او تیلي بذرونو لګښت لوړ کړي. له ژوندیو موجوداتو څخه ترلاسه کیدونکو تیلو لپاره له ټاکلې کچې څخه زیاته تقاضا هم د ځینو کرنیزو توکو د بیو د لوړوالي لامل کېږي.

### ۱.۳ په افغانستان کې د لګښتي توکو بیې

اوس مهال په افغانستان کې د لګښتي توکو د بیو شاخص

(CPI) د ۲۰۱۵ کال د اپریل میاشتې د بیو پر بنسټ په پام کې نیول کېږي، حال دا چې دا شاخص د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشتې د بیو پر بنسټ محاسبه کېده. په دې نوي سنجش کې د لګښتي توکو د بیو د شاخص اجزاوې د نویو عواملو په پام کې نیولو سره عیارېږي. د احصائیې او معلوماتو د ملي ادارې د شمېرو او د افغانستان بانک د څېړنیزو معلوماتو له مخې، په ۱۳۹۸ مالي کال کې د افغانستان د لګښتي توکو د بیو په شاخص کې دا پایلې لیدل شوي دي: د لګښتي توکو د بیو د شاخص د بدلونونو کال په کال سنجش ښکاره کوي چې د ۱۳۹۸ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې په منځني ډول د انفلاسیون نرخ ۴.۲ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د منفي ۱.۱ سلنې په پرتله کموالی په ګوته کوي. په نړیوال مارکیټ کې د سوداګریزو توکو لوړ نرخونه د انفلاسیون نرخ د زیاتوالي اصلي لامل دی. د راپورونو پر بنسټ د نړیوالو سوداګریزو توکو د بیو شاخص زیاتو اقلامو د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې لوړې بیې لرلې دي.

د انفلاسیون نرخ د کال په کال پرتلنې په څیر د ربعې په ربعې د ارزونې او سنجش له مخې هم د ارزونې لاندې موده کې لوړوالی ښکاره کړی دی.

په تیره ربعه کې د خپرو شویو شمېرو له مخې د انفلاسیون منځنی نرخ د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۴.۲ سلنې ته لوړ شوی دی چې د تیرې ربعې د ۰.۸ سلنې ثبت شوي منځني نرخ په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

په پلازمینه کابل کې د لګښتي توکو د بیو شاخص د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په منځني ډول ۴.۲۷ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۰.۲۲ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د ربعوار شمېرو پر بنسټ د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې دا شاخص په منځني ډول ۴.۲۷ سلنې ته لوړ شوی دی، چې د تیر کال د ورته ربعې د ۰.۹۲ سلنې په پرتله لوړوالی ښکاره کوي.

**۲.۳ په عمومي انفلاسیون کې بدلونونه**

**۱.۲.۳ کلني بدلونونه**

د لګښتي توکو د بیو عمومی شاخص د کال په کال سنجش له مخې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. د شته شمېرو پر بنسټ، د کال په کال د سنجش له مخې د ملي عمومي انفلاسیون نرخ د تیر کال د ورته ربعې د منفي د ۱.۱ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په منځني ډول ۴.۲ سلنې ته لوړ شوی، حال دا چې د میاشتې د سنجش له مخې د انفلاسیون نرخ د اپریل، می او جون په میاشتو کې په ترتیب سره ۳.۶۳ سلنه، ۴.۸۸ سلنه او ۴.۰۳ سلنه ثبت شوی دی.


د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د خوراکي توکو په شاخص کې د انفلاسیون منځنی نرخ ۶.۰ سلنې ته لوړ شوی دی چې د تیر کال د ورته ربعې د منفي ۳.۷ سلنې په پرتله لوړوالی ښکاره کوي. په پورته یاد شوي شاخص کې د انفلاسیون د نرخ د زیاتوالي عمده لامل د شیدو، پنیر او هګۍ، بورې او خوږو توکو، ترشي اچارو او سبزیجاتو د بیو لوړوالی دی. په دې شاخص کې د ترشي اچارو او سبزیجاتو په بیو کې خورا زیات لوړوالی ثبت شوی دی چې په منځنی ډول د تیر کال د ورته مودې د منفي ۲۱.۰ سلنې او منفي ۱۵.۰ سلنې په پرتله په ترتیب سره ۱۷.۹ سلنه او ۴.۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، د غوړیو او شحمیاتو د بیو په شاخص کې ټیټوالی راغلی دی چې د تیر کال د ورته ربعې د منفي ۱.۳ سلنې ثبت شوې کچې

په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې په ډول منفي ۳.۵ سلنې ته راټیټ شوی دی.

د نا خوراکي توکو په کټګورۍ کې د تنباکو، پوښاک، فرنیچرو، کورنیو توکو، روغتیا، ټرانسپورت، معلوماتو او کلتور او هوټلونو او رسټورانټونو د لوړو بیو له امله د انفلاسیون نرخ لوړ شوی دی، حال دا چې د کور جوړونې، اړیکو، روغتیا او متفرقه توکو بیې راټیټې شوي دي. په ټولیزه توګه په دې کټګورۍ کې انفلاسیون د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۲.۵ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۱.۶ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په یاده کټګورۍ کې د روغتیا، فرنیچرو او کورنیو توکو او معلوماتو او کلتور د بیو په شاخصونو کې د پام وړ زیاتوالی لیدل شوی دی چې د تیر کال د ورته مودې د ۰.۲ سلنې، ۲.۱ سلنې او منفي ۰.۸ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په ترتیب سره ۴.۴ سلنه، ۴.۶ سلنه او ۲.۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، د ښوونې او روزنې او اړیکو د بیو شاخص د تیر کال د ورته مودې د ۱۰.۲ سلنې او ۰.۱ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په ترتیب سره منفي ۱.۳ سلنې او منفي ۳.۵ سلنې ته راټیټ شوی دی.

اصلي انفلاسیون هم د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله د لوړوالي بهیر درلودلی دی. د اوسط موندلو میتود (Trimmed mean) چې د اصلي انفلاسیون عمومي کچه ده، په منځني ډول د تیر کال له ۰.۷ سلنې څخه ۳.۸ سلنې ته زیات شوی دی. د دې ترڅنګ، د لګښتي توکود بیو شاخص انفلاسیون له ډوډۍ او حبوباتو، غوړیو او شحمیاتو او ټرانسپورټ پرته له منفي ۱.۵ سلنې څخه ۳.۷ سلنې ته لوړ شوی دی.

۱.۳ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال کلنی ملي عمومي انفلاسیون ( په ربعوار ډول)




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۲.۳ ربعوار بدلونونه (د کال په کال شمېرو پر بنسټ)


انفلاسیون د کلنی ارزونې او سنجش په څیر د لنډې مودې ارزونې او سنجش له مخې هم ورته بهیر ښکاره کړی دی. د دې ارزونې او سنجش له مخې ملي عمومي انفلاسیون د تیر کال د ورته ربعې د ۰.۸ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په منځني ډول ۴.۲ سلنې ته راکم شوی دی. د عمومی انفلاسیون د ټیټوالي اصلي لامل د خوراکي توکو او غیر الکولي مشروباتو د ډوډۍ او حبوباتو او وچو او تازه میوو د اقلامو د بیو لوړیدل په ګوته شوی دی. په ورته وخت کې، د نا خوراکي توکو په کټګورۍ کې د انفلاسیون نرخ د تیر کال د ورته ربعې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې لوړوالی ښکاره کوي.

د درې میاشتني سنجش پر بنسټ، د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ د تېر کال د ورته ربعې د ۰.۸ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په منځني ډول ۶.۰ سلنې ته لوړ شوی دی. د خوراکي توکو بیې لکه ډوډۍ او حبوبات، غوښه، شیدې، پنیر او هګۍ، وچې او تازه میوې او سبزیجاتو بیې راټیټې شوي دي، حال دا چې د ډوډۍ او حبوباتو، سبزیجاتو او ترشي اچارو بیې لوړې شوې چې د تیرې ربعې په پرتله په ترتیب سره ۹.۴ سلنه، ۴.۳ سلنه او

۱۷.۹ سلنه لوړوالی ښکاره کوي.


له بلې خوا، د نا خوراکي توکو انفلاسیون د تیر کال د ورته ربعې د ۰.۹ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په منځني ډول ۲.۵ سلنې ته لوړ شوی دی. په دې کټګورۍ کې د فرنیچرو او کورني توکو او پوښاک بیې د پام وړ زیاتې شوي دي. د دې ترڅنګ، د نا خوراکي توکو کټګورۍ د فرعي اقلامو په تیره بیا تنباکو، ټرانسپورټ، اړیکو او ښوونې او روزنې بیې په یاده موده کې راټیټې شوي دي.

**۲.۳ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې ربعوار ملي عمومي انفلاسیون**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۳.۳ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د ملي انفلاسیون په ربعوار ډول د اوسط موندلو میتود (Trimmed mean)**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۱.۳ جدول: ملي عمومی انفلاسیون، ۱۳۹۸ مالي کال**

| د ۱۳۹۸ مالي کال ملي عمومي انفلاسیون | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۵ د اپریل پر بنسټ | | | | | | | | | | | | | |
| تشریحات | وزن | د ۲۰۱۸ | | | اوسط (درې میاشتې) | د ۲۰۱۹ | | | اوسط (درې میاشتې) | د ۲۰۱۹ | | | اوسط (درې میاشتې) |
| | | اپریل | می | جون | | جنوري | فبروري | مارچ | | اپریل | می | جون | |
| ټولیز شاخص | ۱۰۰.۰ | -۰.٤٧ | -۱.۰٥ | -۱.٦٣ | -۱.۱ | ۰.٤۱ | ۰.٣٤ | ۱.٧٧ | ۰.۸ | ٣.٦٣ | ٤.۸۸ | ٤.۰٣ | ٤.٢ |
| خوراکي توکي او غیر الکولي مشروبات | ٤٧.۸ | -٢.٥٦ | -٣.٦٣ | -٥.۰۰ | -٣.٧ | -۰.٤۱ | ۰.۱٤ | ٢.٦٢ | ۰.۸ | ٥.۱٢ | ٧.۰٤ | ٥.۸٦ | ٦.۰ |
| ډوډۍ او حبوبات | ۱۴.۶ | ۱.۴۶ | ۰.۴۰ | -۱.۴۰ | ۰.۲ | ۶.۱۴ | ۵.۶۵ | ۶.۸۸ | ۶.۲ | ۸.۱۹ | ۹.۹۴ | ۱۰.۱۶ | ۹.۴ |
| غوښه | ۷.۵ | ۰.۰۰ | ۰.۰۵ | -۱.۲۶ | -۰.۴ | ۱.۳۹ | ۱.۳۷ | ۱.۱۶ | ۱.۳ | ۱.۴۳ | ۴.۹۲ | ۵.۵۳ | ۴.۰ |
| شیدې، پنیر او هګۍ | ۴.۷ | -۰.۴۷ | -۰.۴۱ | -۰.۶۸ | -۰.۵ | ۱.۳۸ | ۱.۳۵ | ۱.۹۲ | ۱.۶ | ۳.۰۶ | ۲.۶۱ | ۲.۲۸ | ۲.۷ |
| غوړي او شحمیات | ۴.۶ | -۰.۱۷ | -۱.۲۵ | -۲.۵۴ | -۱.۳ | -۲.۸۱ | -۴.۱۹ | -۵.۴۶ | -۴.۲ | -۴.۳۲ | -۳.۲۸ | -۲.۸۷ | -۳.۵ |
| تازه او وچه میوه | ۵.۰ | ۱.۱۲ | ۲.۴۸ | -۳.۶۷ | ۰.۰ | ۲.۴۵ | ۳.۳۴ | ۵.۴۷ | ۳.۸ | ۹.۷۰ | ۱۱.۹۱ | ۹.۰۱ | ۱۰.۲ |
| سبزیجات | ۶.۰ | -۱۰.۵۲ | -۱۷.۲۶ | -۱۷.۲۹ | -۱۵.۰ | -۱۷.۴۴ | -۱۳.۶۷ | -۲.۴۰ | -۱۱.۲ | ۶.۸۴ | ۶.۶۷ | -۰.۷۳ | ۴.۳ |
| بوره او خواږه توکي | ۲.۷ | -۱۱.۲۶ | -۹.۶۸ | -۹.۳۸ | -۱۰.۱ | -۰.۸۵ | -۰.۳۳ | ۴.۱۴ | ۱.۰ | ۳.۱۱ | ۷.۳۵ | ۷.۳۶ | ۵.۹ |
| اچار، ترشي او... | ۱.۳ | -۲۲.۴۲ | -۲۰.۷۲ | -۱۹.۸۱ | -۲۱.۰ | ۰.۴۲ | ۳.۹۲ | ۴.۲۱ | ۲.۹ | ۱۱.۱۵ | ۲۲.۶۴ | ۱۹.۹۳ | ۱۷.۹ |
| غیر الکولي مشروبات | ۱.۴ | ۱.۹۰ | ۱.۹۹ | ۱.۲۱ | ۱.۷ | ۵.۱۵ | ۵.۳۹ | ۶.۴۰ | ۵.۶ | ۵.۴۵ | ۵.۶۵ | ۵.۵۱ | ۵.۵ |
| نا خوراکي توکي، تنباکو او خدمتونه | ٥٢.٢ | ۱.۰٧ | ۱.٤٩ | ۱.٧۱ | ۱.٦ | ۱.۱٩ | ۰.۰٣ | ۰.٩٧ | ۰.٩ | ٢.٢٤ | ٢.۸٥ | ٢.٣٥ | ٢.٥ |
| تنباکو | ۰.۳ | ۳.۲۱ | ۲.۷۹ | ۳.۳۸ | ۳.۱ | ۵.۵۶ | ۴.۹۶ | ۴.۰۴ | ۴.۹ | ۴.۱۲ | ۴.۴۲ | ۳.۶۸ | ۴.۱ |
| پوښاک | ۴.۶ | ۳.۱۷ | ۲.۸۷ | ۲.۶۴ | ۲.۹ | ۵.۲۲ | ۴.۰۵ | ۳.۲۵ | ۴.۲ | ۴.۷۸ | ۵.۹۳ | ۵.۱۷ | ۵.۳ |
| کور جوړونه | ۱۹.۱ | ۰.۷۵ | ۰.۵۶ | ۱.۰۵ | ۰.۸ | -۲.۷۳ | -۳.۳۶ | -۲.۳۱ | -۲.۸ | -۰.۲۱ | ۰.۰۰ | -۰.۳۷ | -۰.۲ |
| فرنیچر او کورني توکي | ۱۱.۹ | ۲.۶۵ | ۲.۰۶ | ۱.۶۳ | ۲.۱ | ۲.۵۹ | ۲.۷۱ | ۳.۲۰ | ۲.۸ | ۴.۳۷ | ۴.۸۹ | ۴.۶۲ | ۴.۶ |
| روغتیا | ۶.۲ | ۰.۳۴ | ۰.۱۳ | -۰.۰۱ | ۰.۲ | ۳.۰۴ | ۲.۱۴ | ۱.۸۹ | ۲.۴ | ۲.۵۷ | ۵.۲۴ | ۵.۳۰ | ۴.۴ |
| ټرانسپورټ | ۴.۳ | ۲.۱۰ | ۴.۲۳ | ۵.۷۹ | ۴.۰ | ۷.۷۹ | ۴.۸۰ | ۵.۷۷ | ۶.۱ | ۵.۶۸ | ۴.۳۰ | ۲.۹۱ | ۴.۳ |
| اړیکې | ۱.۷ | -۰.۰۸ | ۰.۱۰ | ۰.۱۴ | ۰.۱ | -۲.۶۳ | -۲.۳۹ | -۲.۸۳ | -۲.۶ | -۳.۳۲ | -۲.۷۳ | -۴.۵۸ | -۳.۵ |
| معلومات او کلتور | ۱.۱ | -۱.۶۸ | -۰.۳۶ | -۰.۴۴ | -۰.۸ | -۰.۲۴ | ۰.۹۵ | ۰.۳۵ | ۰.۴ | ۲.۶۷ | ۲.۱۱ | ۱.۱۸ | ۲.۰ |
| زده کړه | ۰.۴ | ۱۰.۱۶ | ۱۰.۳۱ | ۹.۹۹ | ۱۰.۲ | ۷.۸۸ | ۵.۳۲ | ۶.۲۴ | ۶.۵ | -۴.۵۰ | ۰.۲۱ | ۰.۲۹ | -۱.۳ |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | ۱.۱ | ۲.۱۰ | ۲.۰۷ | ۲.۱۳ | ۲.۱ | ۳.۰۶ | ۳.۶۲ | ۳.۲۰ | ۳.۳ | ۳.۵۸ | ۴.۰۴ | ۴.۵۶ | ۴.۱ |
| متفرقه | ۱.۴ | ۲.۸۵ | ۲.۱۳ | ۳.۴۹ | ۲.۸ | ۱.۷۴ | ۰.۶۹ | ۰.۳۵ | ۰.۹ | ۲.۱۵ | ۳.۹۷ | ۱.۵۹ | ۲.۶ |
| د لګښتي توکو د بیو شاخص، پرته له ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمیاتو او تنباکو څخه | | -۰.٩٧ | -۱.٦ | -٢.۰ | -۱.٥ | -۰.۸٥ | -۰.٦۰ | ۱.۰٦ | -۰.۱ | ٣.۱٧ | ٤.٤۸ | ٣.٣٩ | ٣.٧ |
| ٪۳۰ د اوسط مونډلو میتود | | ۰.٩٢ | ۰.٩ | ۰.٢ | ۰.٧ | ٢.۰٢ | ٢.٢٣ | ٢.٦٢ | ٢.٣ | ٣.٥٤ | ٤.٤٥ | ٣.٥٤ | ٣.۸ |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

## ۳.۳ د کابل په عمومي انفلاسیون کې بدلونونه

### ۱.۳.۳ کلني بدلونونه


د کابل د لګښتي توکو د بیو شاخص عمومي انفلاسیون د تیر کال د ورته ربعې د ۰.۲۲ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په منځني ډول ۴.۲۷ سلنې ته لوړ شوی دی.

خوراکي توکي چې د ټولیزه شاخص د عمومي وزن ۳۷.۲ سلنه جوړوي، د کال په کال بدلونونو پر بنسټ د یوه کال په موده کې انفلاسیوني بهیر درلودلی دی. په دې کټګورۍ کې د انفلاسیون عمده لاملونه د ډوډۍ او حبوباتو، غوښې، شیدو، پنیر او هګۍ، غوړو او شحمیاتو، د وچې او تازه میوې او سبزیجاتو ټیټې بیې په ګوته شوي دي. په ټولیزه توګه، د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ د تیر مالي کال د منفي ۱.۵۱ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په منځني ډول ۷.۱۶ سلنې ته لوړ شوی دی.

د نا خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ چې د ټولیزه شاخص ۶۲.۸ سلنه وزن جوړوي، د تېر کال د ورته ربعې د ۱.۳۵ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په منځني ډول ۲.۴۵ سلنې ته لوړ شوی چې اصلي لامل یې د تنباکو، فرنیچرو او کورني توکو، روغتیا، ټرانسپورټ او کور جوړونې د اقلامو لوړې بیې په ګوته شوي دي. که څه هم په دې کټګورۍ کې د تنباکو د انفلاسیون نرخ له ۱.۹۵ سلنې څخه ۴.۳۹ سلنې ته، د ټرانسپورټ د انفلاسیون نرخ له ۱.۹۳ سلنې څخه ۳.۱۶ سلنې ته او د روغتیا د انفلاسیون نرخ له ۲.۴۴ سلنې څخه ۶.۱۱ سلنې ته لوړ شوی دی.

له بلې خوا، اصلي انفلاسیون له ډوډۍ او حبوباتو، غوړیو او شحمیاتو او ټرانسپورټ پرته د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې زیاتوالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د اصلي انفلاسیون نرخ په منځني ډول ۳.۹۸ سلنې ته رسیږي په داسې حال کې چې په تېر کال کې دا نرخ منفي ۰.۱۹ سلنه ثبت شوی ؤ. همدا ډول، د اوسط موندلو میتود (۳۰٪) د تیر کال د ورته ربعې د ۰.۷۵ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په منځني ډول ۳.۸۸ سلنه انفلاسیون ثبت کړی دی.

**۴.۳ ګراف: د کابل کلنی عمومي انفلاسیون، ۲۰۱۸ جون– ۲۰۱۹ جون**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۳.۳ د کابل د عمومي انفلاسیون درې میاشتني بدلونونه

د ربعې په ربعې د سنجش او ارزونې له مخې د ټولیز انفلاسیون پر بنسټ د کابل عمومي انفلاسیون د لګښتي توکو د خوراکي او نا خوراکي توکو په اقلامو کې لوړېدونکی بهیر درلوده چې د تیر کال د ورته ربعې د ۰.۹۲ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۴.۲۷ سلنې ته لوړ شوی دی.

د خوراکي توکو د شاخص انفلاسیون د تیر مالي کال د څلورمې ربعې د ۱.۹۸ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په منځني ډول ۷.۱۶ سلنې ته لوړ شوی دی. په دې کټګورۍ کې د ترشي اچارو، ډوډۍ او

حبوباتو، سبزیجاتو، بورې او خوړو توکو بیې د ارزونې لاندې موده کې لوړې شوې چې پر بنسټ یې د انفلاسیون په نرخ کې هم لوړوالی راغلی دی. همدارنګه په دې کټګورۍ کې د ترشي اچارو بیو خورا ډیرې لوړې شوي چې د تیر کال د ۷.۱۲ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په منځني ډول ۳۰.۹۷ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، د غوړو او شحمیاتو د دیفلاسیون نرخ په ربعوار ډول د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې منفي ۶.۰۳ سلنې ته رسیږي چې د تیرې ربعې د منفي ۲.۶۲ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

د لګښتي توکو د بیو شاخص پر بنسټ د نا خوراکي توکو بیو انفلاسیون ښکاره کړی دی چې د تیرې ربعې د ۰.۲۴ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۲.۴۵ سلنې ته لوړ شوی دی. په دې کټګورۍ کې د انفلاسیون د لوړوالي ستر لامل د ټولو نا خوراکي توکو لکه تنباکو، پوښاک، کور جوړونې، فرنیچرو او کورنیو توکو، روغتیا، معلوماتو اوکلتور او متفرقه توکو لوړې بیې په ګوته شوي دي. په دې ډله کې د روغتیا بیو خورا ډیر لوړوالی موندلی چې د تیرې ربعې د ۱.۷۵ سلنې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۶.۱۱ سلنه لوړوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې د احصائیوي معلوماتو پر بنسټ د انفلاسیون د نږدې مودې لیدلوری ممکن اوس مهال ثابت پاتې شي او په راتلونکي کې په تدریجي توګه لوړوالی ومومي. د افغانستان بانک د پولي سیاست پر بنسټ، اټکل کیږي چې د انفلاسیون نرخ به د ۱۳۹۸ مالي کال په دریمه ربعه کې د ۲ او ۴ سلنې ترمنځ وي چې په لاندې عواملو پورې تړاو لري:

لومړی، د ۱۳۹۸ مالي کال د شمېرو پر بنسټ، افغانستان له ایران سره له دوه میلیاردو امریکایي ډالرو زیاته سوداګري لري چې زیاته برخه یې واردات جوړوي.د امریکې متحده ایالتونو لخوا د ایران پر نقلیه وسایلو، د نقلیه وسایلو جوړولو ماشین آلاتو، نفتو او غازو، سرو زرو، نورو قیمتي ډبرو پر صادراتو او وارداتو او د اسعارو پر مبادلې د مالي بندیزونو لګول به د افغانستان سوداګریزې حیاتي پروژې زیانمنې کړي، سره له دې چې افغانستان په اقتصادي لحاظ په امریکایي ډالرو باندې بسیا دی او لا هم د امریکایي ډالرو بانکنوټونه له هېواده بهر قاچاق کېږي.

دویم، د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې (ACCI) د معلوماتو پر بنسټ، هره ورځ په میلیونونو امریکایي ډالر د هرات د اسلام قلعه بندر له لارې ایران ته قاچاق کېږي چې په پر بنسټ یې د افغانۍ ارزښت راټیټ شوی او د انفلاسیون نرخ پر زیاتیدو یې د پام وړ اغیزه کړې ده. د دپورتنیو حقایقو او ګرافونو په پام کې نیولو سره پر ایران د امریکې متحده ایالتونو له لورې لګول شویو اقتصادي بندیزونو د اسعارو د مبادلې نرخ او انفلاسیون په برخه کې د هېواد پر اقتصاد ناوړه اغیزه کړې ده.


د دې ترڅنګ، افغانستان یو مصرفوونکی هېواد دی او په زیات شمېر لګښتي توکي له ګاونډیو هېوادونو واردیږي چې په پر بنسټ یې د ملي انفلاسیون نرخ د ایران، پاکستان، چین، تاجکستان او ازبکستان څخه د وارد شوي انفلاسیون له امله اغیزمن کېږي. پر دې سربیره، د افغانۍ د مبادلې نرخ په دوامداره توګه د ټیټیدو په حال کې دی چې پر بنسټ یې په هېواد کې د انفلاسیون نرخ هم بدلون مومي. په افغانستان سربیره په ټوله سیمه په ځانګړې توګه د افغانستان سوداګریزو همکارو هېوادونو کې هم ورته حالت دوام لري.

**۵.۳ ګراف: د ۱۳۹۸ په دویمه ربعه کې د کابل درې میاشتنی عمومي انفلاسیون**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۶.۳ ګراف: د ۱۳۹۸ په دویمه ربعه کې د کابل د درې میاشتني انفلاسیون منځنی نرخ**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۲.۳ جدول: د کابل عمومي انفلاسیون، ۱۳۹۸ مالي کال**

| د ۱۳۹۸ مالي کال ملي عمومي انفلاسیون<br>د ۲۰۱۵ د اپریل پر بنسټ<br>مبلغ په میلیون افغانی | | د ۲۰۱۸ | | | | د ۲۰۱۹ | | | | د ۲۰۱۹ | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تشریحات | وزن | اپریل | می | جون | اوسط (درې میاشتې) | جنوري | فبروري | مارچ | اوسط (درې میاشتې) | اپریل | می | جون | اوسط (درې میاشتې) |
| ټولیز شاخص | ۱۰۰.۰ | ۰.۸۰ | ۰.۴۲ | -۰.۵۶ | ۰.۲۲ | ۰.۶٤ | ۰.۳۵ | ۱.۷۷ | ۰.۹۲ | ۳.٦۸ | ٥.۱٤ | ۳.۹۹ | ٤.۲۷ |
| خوراکي توکي او غیر الکولي څښاک | ۳۷.۲ | -۰.۱۵ | -۰.۷۱ | -۳.٦۷ | -۱.٥۱ | ۰.۸۸ | ۱.۱٤ | ۳.۹۳ | ۱.۹۸ | ٦.۳۸ | ۸.۳۱ | ٦.۸۰ | ۷.۱٦ |
| ډوډۍ او حبوبات | ۹.۸ | ۲.۶۳ | ۱.۱۹ | -۰.۱۸ | ۱.۲۱ | ۷.۳۵ | ۸.۰۷ | ۸.۳۵ | ۷.۹۲ | ۱۰.۹۳ | ۱۱.۷۱ | ۱۲.۴۶ | ۱۱.۷ |
| غوښه | ۶.۴ | ۳.۲۸ | ۲.۲۸ | -۱.۷۲ | ۱.۲۸ | ۴.۲۴ | ۴.۴۱ | ۲.۷۹ | ۳.۸۱ | ۲.۷۹ | ۵.۲۵ | ۶.۷۱ | ۴.۹۲ |
| شیدې، پنیر او هګۍ | ۳.۲ | -۲.۸۹ | -۰.۹۲ | -۰.۸۷ | -۱.۵۶ | ۴.۵۴ | ۵.۳۵ | ۲.۷۸ | ۴.۲۲ | ۳.۵۹ | ۲.۲۹ | ۱.۷۸ | ۲.۵۵ |
| غوړي او شحمیات | ۳.۶ | -۲.۱۹ | -۲.۰۶ | -۳.۳۴ | -۲.۵۳ | -۰.۴۹ | -۱.۸۱ | -۵.۵۵ | -۲.۶۲ | -۵.۹۱ | -۶.۰۵ | -۶.۱۳ | -۶.۰۳ |
| تازه او وچه میوه | ۵.۲ | ۱۱.۰۹ | ۱۴.۴۸ | ۱.۱۶ | ۸.۹۱ | ۱.۴۹ | ۰.۳۲ | ۲.۵۱ | ۱.۴۴ | ۸.۱۳ | ۱۱.۷۶ | ۱۲.۳۴ | ۱۰.۷۴ |
| سبزیجات | ۴.۲ | -۹.۴۵ | -۱۵.۷۹ | -۱۵.۲۴ | -۱۳.۴۹ | -۱۷.۶۴ | -۱۵.۲۲ | ۲.۵۵ | -۱۰.۱۰ | ۹.۶۳ | ۳.۶۸ | -۸.۱۸ | ۱.۷۱ |
| بوره او خواږه توکي | ۲.۸ | -۸.۱۵ | -۶.۸۰ | -۸.۱۵ | -۷.۷۰ | ۰.۵۳ | -۲.۱۳ | ۷.۵۴ | ۱.۹۸ | ۵.۰۶ | ۱۳.۲۲ | ۱۳.۳۰ | ۱۰.۵۳ |
| اچار، ترشي او... | ۱.۰ | -۱۶.۲۵ | -۱۷.۵۶ | -۱۴.۷۶ | -۱۶.۱۹ | ۴.۲۹ | ۸.۳۸ | ۸.۷۰ | ۷.۱۲ | ۲۱.۲۷ | ۴۸.۵۷ | ۲۳.۰۸ | ۳۰.۹۷ |
| غیر الکولي څښاک | ۰.۹ | ۱.۵۶ | ۲.۰۳ | ۰.۰۶ | ۱.۲۲ | ۵.۷۶ | ۷.۴۳ | ۶.۰۱ | ۶.۴۰ | ۵.۳۴ | ۶.۲۹ | ۴.۴۹ | ۵.۳۷ |
| ناخوراکي توکي، تنباکو او خدمتونه | ٦۲.۸ | ۱.٤۲ | ۱.۱٥ | ۱.٤۸ | ۱.۳٥ | ۰.٤۹ | -۰.۱٦ | ۰.۳۹ | ۰.۲٤ | ۱.۹۷ | ۳.۱۳ | ۲.۲٥ | ۲.٤٥ |
| تنباکو | ۰.۳ | ۲.۲۹ | ۱.۴۴ | ۲.۱۰ | ۱.۹۵ | ۳.۸۵ | ۳.۸۷ | ۳.۱۹ | ۳.۶۴ | ۳.۳۶ | ۴.۵۴ | ۵.۲۶ | ۴.۳۹ |
| پوښاک | ۴.۸ | ۲.۷۲ | ۳.۰۴ | ۳.۳۶ | ۳.۰۴ | ۳.۷۴ | ۰.۷۳ | ۰.۵۹- | ۱.۲۹ | ۲.۱۴ | ۳.۱۵ | ۲.۰۵ | ۲.۴۵ |
| کور جوړونه (استوګنځی) | ۲۳.۵ | ۰.۲۰ | -۰.۸۱ | -۰.۲۷ | -۰.۲۹ | -۳.۸۰ | -۴.۶۳ | -۳.۴۲ | -۳.۹۵ | -۰.۷۶ | ۰.۴۲ | -۰.۴۱ | -۰.۲۵ |
| فرنیچر او کورني توکي | ۱۷.۶ | ۲.۸۲ | ۱.۸۲ | ۱.۶۱ | ۲.۰۸ | ۲.۷۹ | ۳.۳۱ | ۴.۰۱ | ۳.۳۷ | ۴.۸۴ | ۵.۴۷ | ۴.۸۸ | ۵.۰۶ |
| روغتیا | ۵.۳ | ۲.۲۷ | ۲.۹۱ | ۲.۱۴ | ۲.۴۴ | ۱.۶۹ | ۲.۱۳ | ۱.۴۲ | ۱.۷۵ | ۱.۸۷ | ۸.۳۲ | ۸.۱۲ | ۶.۱۱ |
| ټرانسپورټ | ۴.۶ | -۰.۶۷ | ۲.۳۸ | ۴.۰۸ | ۱.۹۳ | ۴.۷۳ | ۱.۱۱ | ۳.۷۹ | ۳.۲۱ | ۵.۰۶ | ۲.۸۸ | ۱.۵۳ | ۳.۱۶ |
| اړیکې | ۲.۰ | -۰.۲۵ | ۰.۲۱ | ۰.۱۵ | ۰.۰۳ | -۰.۵۶ | ۰.۰۸ | -۰.۹۹ | -۰.۴۹ | -۰.۷۳ | ۰.۶۷ | -۱.۶۱ | -۰.۵۵ |
| معلومات او کلتور | ۱.۷ | -۲.۸۳ | -۰.۴۶ | -۰.۹۴ | -۱.۴۱ | -۱.۷۷ | -۰.۲۵ | -۲.۲۰ | -۱.۴۱ | ۱.۶۷ | ۰.۸۶ | -۰.۸۲ | ۰.۵۷ |
| زده کړه | ۰.۷ | ۱۳.۹۰ | ۱۴.۰۵ | ۱۳.۸۷ | ۱۳.۹۴ | ۹.۷۶ | ۶.۲۲ | ۷.۵۵ | ۷.۸۴ | -۷.۱۶ | -۰.۹۹ | -۰.۶۳ | -۲.۹۳ |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | ۱.۰ | ۲.۹۵ | ۳.۲۵ | ۳.۵۸ | ۳.۲۶ | ۱.۹۹ | ۳.۳۳ | ۰.۷۵ | ۲.۰۲ | ۱.۷۲ | ۱.۲۷ | ۱.۲۷ | ۱.۴۲ |
| متفرقه | ۱.۳ | ۱.۲۵ | ۱.۵۹ | ۵.۶۵ | ۲.۸۳ | ۵.۸۰ | ۳.۹۹ | ۳.۰۲ | ۴.۲۷ | ۶.۷۰ | ۶.۴۸ | ۲.۰۷ | ۵.۰۸ |
| د لګښتي توکو د بیو شاخص (د ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمیاتو او تنباکو پرته) | | ۰.۸۲ | ۰.۳٤ | -۰.۷۲ | -۰.۱۹ | -۰.۲٦ | -۰.٤۳ | ۱.۲٦ | ۰.۱۹ | ۳.۲٥ | ٥.۰٤ | ۳.٦٥ | ۳.۹۸ |
| ۳۰ سلنه د اوسط مونډلو میتود | | ۰.۷۰ | ۱.۰٤ | ۰.٤۹ | ۰.۷٥ | ۲.۷٦ | ۲.۳٤ | ۲.۷۷ | ۲.٦۲ | ۳.٦۸ | ٤.٤۹ | ۳.٤۸ | ۳.۸۸ |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

# ۴

## د بهرني سکتور بدلونونه

# ۴

# د بهرني سکتور بدلونونه

دا څېرکی د تیر کال د دویمې ربعې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د افغانستان د بهرني اقتصادي سکتور بنسټیز بدلونونه رانغاړي. د شته معلوماتو پر بنسټ د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې بهرني سکتور پرمختګ کړی دی.

په ورته وخت کې، د وارداتو په لګښتونو کې د نسبي کموالي له امله د توکو د سوداګرۍ کسر ۶.۷ سلنه راکم شوی دی.

دا بدلونونه په ځانګړې توګه د خدمتونو په حساب کې د ترلاسه شویو پیسو زیاتوالي، له بهر څخه د کارګرو د شخصي لیږدونو زیاتوالي او د بهرني سکتور د جاري حساب کسر د کموالي لامل شوي دي چې دا کسر د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۶۰۴.۷۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۷۸۴.۵۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

د پانګې حساب ته داخلي بهیدنې، دولتي سکتور ته د پانګې د لیږدونو حساب له امله ۳۲ سلنه زیاتې شوې دي. همدا ډول د بهرنۍ مستقیمې پانګونې (FDI) داخلي بهېدنې ۸۷ سلنه کمې شوې، حال دا چې د پورتوفولیو د پانګونې خالصې بهرنۍ بهېدنې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۸۱ سلنه زیاتې شوې دي. د بهرنۍ مستقیمې پانګونو ټولیزه کچه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د ۱۴۳.۶۰میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۷ مالي کال په دویمه ربعه کې د ۱۴۶.۸۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله کموالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې، په جاري او مالي حسابونو کې د ښه والي په پام کې نیولو سره د اداینو د بیلانس حساب د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۵۱۷.۱۲ میلیونه امریکایي ډالره کسر ثبت کړی دی چې د تیر کال د ورته ربعې د ۶۰۶.۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو کسر په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي. د شتمنیو دولتي زیرمې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۲۹.۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي.

یادونه: د شتمنیو زیرمو کره مبلغ به د حقیقي شمېرو د ترلاسه کیدو وروسته په ډاګه شي.

## ۱.۴ د ادراینو بیلانس

### ۱.۱.۴ د جاری حساب بیلانس

د ادراینو د بیلانس جاري حساب د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۶۰۴.۷۴ میلیونه امریکایي ډالره کسر ثبت کړی دی چې د تیر کال د ورته ربعې د ۷۸۴.۵۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۲.۹ سلنه کموالی ښکاره کوي (۱.۴ جدول او ۱.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د جاري حساب د کسر د کموالي ستر لاملونه د وارداتي توکو اړوند له هېواده بهر ادراینو کموالی، د رغونې اړوند ترلاسه شویو عوایدو، سفر او دولتي خدمتونو زیاتوالی په ګوته شوي دي. په ورته وخت کې د توکو په سوداګرۍ (د توکو حساب) کې ۲.۲ سلنه زیاتوالی راغلی دی.


همدا ډول، د خدمتونو د حساب کسر د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۹۵.۷۲ میلیونه امریکایي ډالره کسر ثبت کړی دی چې د تیر کال د ورته ربعې د ۷۷.۷۴ میلیونه

امریکايي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

له بلې خوا، د کارګرو شخصي لیږدونې او د پانګونې د عوایدو داخلي بهیدنې د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۵۳.۸۵ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۶۰.۶۰ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۱۱.۲ سلنه کموالی ښکاره کوي.

همدا ډول، دولتي سکتور ته خالصې جاري لیږدونې (جاري مرستې) او له بهرنیو هېوادونو څخه د افغان کارګرو شخصي لیږدونې د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۵۶۸.۶۳ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۶۵۱.۰۳ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۱۲.۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

**۱.۴ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې د جاري حساب بیلانس (په میلیونه ډالر)**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۱.۴ پانګه ایز حساب

د ادائینو د بیلانس په پانګه ایزه حساب کې ډېریدنه د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۲۲۸.۵۱ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۱۷۱.۹۳ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۳۲.۹ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي چې لامل يې په روان کال کې دولتي سکتور، شرکتونو او کورنیو ته د پانګې زیاته داخلي لیږدونه ګڼل کیږي.

### ۳.۱.۴ مالي حساب

د ادائینو بیلانس د مالي حساب تر لاندې، بهرنۍ پانګونه یوه مهمه برخه ګڼل کیږي چې بهرنۍ مستقیمه پانګونه (FDI)، بهرنۍ پورتوفولیو پانګونه (FPI) او نورې پانګونې رانغاړي. په هېواد کې د بهرنۍ مستقیمې پانګونې خالصې داخلي بهېدنې د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۶.۰۵ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۴۹.۷۵ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۸۷.۸ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.


په خالصه پورتوفولیو پانګونه کې بیروني بهیدنې د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۲۰.۹۵ میلیونه امریکايي ډالره کسر ثبت کړی چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱۱.۲۵ میلیونه امریکايي ډالرو کسر په پرتله ۸۱.۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د شمېرو شننه ښکاره کوي چې له هېواد څخه بهر د افغانانو ټولیزه مالي شتمنۍ د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۹۰.۷۶ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۴۹.۵۷ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۸۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. (د لا وضاحت لپاره ۱.۴ جدول او ۲.۴ او ۳.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

له بلې خوا، ټولیزه مالي پوراینې (یوازې نورې پانګونې) د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۶.۴۳ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲۲.۴۴ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۷۱.۴ سلنه کموالی ښکاره


کوي. د مالي حساب بیلانس د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په ټولیزه توګه ۱۴۰.۹۰ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوی دی چې دا رقم د تیر کال په ورته ربعه کې منفي ۶.۳ میلیونه امریکایي ډالره ښودل شوی دی.

**۲.۴ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې پانګه ایز او مالي حسابونه**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۳.۴ ګراف: د بهرنۍ مستقیمې پانګونې داخلي بهېدنې، ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۴ د توکو سوداګري (مال التجاره)

د بولټن دا برخه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د افغانستان د توکو د سوداګرۍ له کړنو شننه او د ۱۳۹۷ مالي کال دویمې ربعې د سوداګریو کړنو سره د هغې پرتلنه وړاندې کوي.

د افغانستان سوداګریز بیلانس د ډیرې اوږدې مودې راهیسې په کسر کې دی. معنی دا چې د وارد شویو توکو ټولیز ارزښت د صادرو شویو توکو له ټولیز ارزښت څخه لوړ دی (د لا وضاحت لپاره ۲.۴ جدول او ۴.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).


د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د بهرنیو توکو د سوداګرۍ کسر ۱،۴۸۷.۹۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۱،۶۲۰.۱۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸ سلنه کموالی ښکاره کوي.

د افغانستان د توکو ټولیزه صادرات د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۱۴۳.۲۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱۴۶.۸۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲ سلنه کموالی ښکاره کوي. د صادریدونکو توکو له ډلې څرمنو او وړیو د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې لوړیدونکی بهیر ښکاره کړی دی، حال دا چې غالۍ او ټغرو، خوراکي توکو او طبي بذرونو ټیټیدونکی بهیر درلودلی دی.

په ورته وخت کې د توکو ټولیزه واردات ۱،۶۳۱.۲۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۱،۷۶۶.۹۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸ سلنه کموالی ښکاره کوي.

همدا ډول، په ورته موده کې د عمده وارداتي برخو، په تیره بیا د لګښتي توکو د وارداتو، تیلو او روغنیاتو او پانګه ایزو توکو د وارداتو په بیو کې کموالی راغلی دی. د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د لګښتي توکو وارداتو بیې ۱۶ سلنه، د تیلو او روغنیاتو بیې ۱۸ سلنه او د پانګه ایزه توکو بیې ۱ سلنه راټیټې شوي دي.

۴.۴ ګراف: سوداګریزې کړنې او بیلانس، ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۳.۴ د سوداګرۍ لورى


د افغانستان عمده سوداګریز ملګري پاکستان، ایران، هند، چین او د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه ( CIS) دي.

**د توکو د سوداګرۍ د احصائیوي معلوماتو پر بنسټ هندوستان د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د افغانستان د صادراتو یوازینی لوی پیرودونکی هېواد دی.** هندوستان ته د افغانستان د ټولیزه صادراتو ونډه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۵۱ سلنې ته رسیږي. په یاده موده کې هندوستان ته د صادریدونکو توکو ارزښت ۷۳.۲۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۵۲.۴۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

**د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د افغانستان د صادراتو دویم لوی پیرودونکی هېواد پاکستان ګڼل کیږي.** پاکستان ته د افغانستان د ټولیزه صادراتو ونډه ۳۰ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۴۲ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. پاکستان ته د صادریدونکو توکو ټولیزه ارزښت د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۴۳.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۶۲.۱۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۰ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.


**د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د افغانستان د صادراتو دریم لوی پیرودونکي هېوادونه جرمني او ایران دي.** جرمني ته د افغانستان د ټولیزه صادراتو ونډه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۲ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۰.۷۷ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول، ایران ته د افغانستان د ټولیزه صادراتو ونډه ۱.۶ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۴ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. جرمني ته د افغانستان د صادراتو ټولیزه ارزښت ۲.۸۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي، حال دا چې ایران ته د افغانستان د صادراتو ټولیزه ارزښت ۲.۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۵.۴۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره۳.۴ او ۴.۴ جدول او ۵.۴ او ۶.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

۵.۴ ګراف: د صادراتو لورى ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د افغانستان د وارداتو لپاره تر ټولو ستره سرچینه ده.** د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو (CIS) څخه ټولیزه واردات د ۲۲ سلنې ونډې په درلودلو سره ۳۶۱.۲۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۴۶۲.۴۹ میلیونه امریکایي ډالرو (۲۶.۱۷ سلنه ونډې) په پرتله ۲۲ سلنه کموالی ښکاره کوي.


**پاکستان د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د افغانستان دویمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کېږي.** له پاکستان څخه افغانستان ته د ټولیزه وارداتو کچه ۳۲۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي، خو په ټولیزه وارداتو کې یې ونډه د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې د ۱۸.۴۰ سلنې ونډې په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې ۲۲ سلنې ته لوړه شوې ده.

**ایران د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د افغانستان درېیمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کیږي.** له ایران څخه افغانستان ته د ټولیزه وارداتو کچه ۳۱۰.۴۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال په ورته موده کې د ۳۰۱.۲۸ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د ټولیزه وارداتو ۱۷.۰۵ سلنه جوړوي.

**چین د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د افغانستان څلورمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کېږي.** د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې له چین څخه افغانستان ته د ټولیزه وادراتي توکو کچه د ۱۵.۵ سلنې ونډې په درلودلو سره ۲۵۲.۶۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال په ورته موده کې د ۲۲۵.۴۶ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې (۱۲.۷۶ سلنې ونډې) په پرتله د ارزونې لاندې ربعې په مهال په ټولیزه وارداتو کې ۱۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.


هند، جاپان او عربي متحده امارات د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د افغانستان وروستۍ سترې وارداتي سرچینې ګڼل کېږي چې په ترتیب سره د ټولیزه وارداتو ۶.۱۱ سلنه، ۳.۰۲ سلنه او ۲.۳۴ سلنه جوړوي (د لا وضاحت لپاره ۷.۴ او ۸.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه





سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۴.۴ د سوداګرۍ ترکیب


### ۱.۴.۴ د وارداتو ترکیب

د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د وارداتو ترکیب ښکاره کوي چې:

- د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د لګښتي توکو واردات د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو ستره ۳۸ سلنه ونډه لري، حال دا چې د تیر کال په ورته موده کې دا ونډه ۳۹ سلنه ثبت شوې ده. د لګښتي توکو صادرات د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۶۲۲.۰۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلي چې د تیر کال د ورته مودې د ۶۸۷.۵۴ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۰ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.
- د وارداتو په ټوکرۍ کې دویمه ستره ونډه، پانګه ایزو توکو ثبت کړې ده چې کچه یې د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې ۳۵ سلنې ته راټیټه شوې ده چې د تیر کال د ورته مودې د ۳۸ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله یې ټیټوالی کړی دی. د پانګه ایزو توکو ټولیزه ارزښت ۵۶۴.۱۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلي چې د تیر کال د ورته مودې د ۶۷۱.۰۷ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۶ سلنه کموالی ښکاره کوي.
- د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې دریمه ستره ونډه تیلو او روغنیاتو (پطرولو) ثبت کړې ده چې ارزښت یې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۱۵ سلنې ته رسیدلې چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱۲.۱ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د تیلو او روغنیاتو (پطرولو) د وارداتو ټولیزه ارزښت ۲۴۸.۵۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلي چې د تیر کال د ورته مودې د ۲۱۴.۲۱ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.
- د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو کمه ونډه صنعتي موادو ثبت کړې ده چې  دا ونډه د تیر کال د ورته مودې د ۱۱ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۱۲ سلنې ته لوړه شوې ده. د صنعتي توکو د وارداتو ټولیزه ارزښت د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۱۹۶.۴۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلي چې د تیر کال د ورته مودې د ۱۹۴.۱۴ میلیونه

امریکايي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۲.۴ جدول او ۹.۴ او ۱۰.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

**۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۴.۴ د صادراتو ترکیب

د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د صادراتو ترکیب ښکاره کوي چې:

- د ارزونې لاندې ربعه کې د طبي بذرونو صادرات د افغانستان د صادراتو په ټوکرۍ کې تر ټولو ستره ۵۱ سلنه ونډه لري، حال دا چې د تیر کال په څلورمه ربعه کې یاده ونډه ۵۷.۷ سلنه ثبت شوې ده.

له طبي بذرونو څخه ترلاسه شوې ګټه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۷۳.۲۲ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۸۴.۷۸ میلیونه امریکايي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۴ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

- د افغانستان د صادراتو په ټوکرۍ کې دویمه ستره ونډه خوراکي توکو (تیلي بذرونو او وچو او تازه میوو) ثبت کړې ده چې کچه یې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۳۵ سلنې ته لوړه شوې ده چې د تیر کال د څلورمې ربعې د ۳۲.۲ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

د خوراکي توکو ټولیزه ارزښت د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۴۹.۷۲ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۴۷.۳۰ میلیونه امریکايي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.


- د افغانستان په ټولیزه صادراتو کې درییمه ستره ونډه خرمنو او وړیو ثبت کړې ده چې د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې یې کچه ۹.۸ سلنې ته رسیږي، حال دا چې د تیر کال په ورته موده کې دا کچه ۶.۲ سلنه ښودل شوې ده.

د خرمنو او وړیو له صادراتو څخه ترلاسه شوې ګټه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د ۵۵ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۱۴ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۹.۰۵ میلیونه امریکايي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

- غالۍ او ټغرې چې په تیرو لسیزو کې د افغانستان عمده صادراتي توکي ؤ، د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په ټولیزه صادراتو کې تر ټولو کمه ۴ سلنه ونډه لري.


د غالیو او ټغرونو له صادراتو څخه ترلاسه شوې ګټه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۶.۳۵ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۵.۶۸ میلیونه امریکايي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

**۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۵.۴ بهرنۍ پورونې

د افغانستان ټولیزه بهرنۍ پورونې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۲،۱۸۵.۸۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲،۱۷۴.۶۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱ سلنه یا ۱۱.۲۲ میلیونه امریکایي ډالره کموالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۵.۴ جدول ته مراجعه وکړئ).

افغانستان د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د نړیوال بانک، آسیا پراختیایي بانک، د پرمختیا لپاره د سعودي صندوق او بلغاریا د پور د اصلي مبلغ بیا اداینه کړې ده، حال دا چې نړیوال بانک، آسیا پراختیایي بانک او د کویټ صندوق ته د خدمتونو لګښتونه هم تادیه شوي دي.

په ورته وخت کې د افغانستان د سترو څو اړخیزو پور ورکوونکو په توګه نړیوال بانک او د آسیا پراختیایي بانک د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ځینې اصلي پورونه افغانستان ته بخښلي دي.


د پاریس کلب پور ورکوونکو ته د ټولیزه ورکول کیدونکو پورونو کچه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۹۲۶.۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې باید د روسیې فدراسیون ته ورکړل شي. له بلې خوا د پاریس کلب له غړو هیوادونو څخه د افغانستان د ټولیزه بهرنیو پوراینو کچه شاوخوا ۴۲.۴۰ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله شاوخوا ۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

سربیره پر دې، ټولیزه پوراینې د پاریس کلب له غړو پرته لکه د پرمختیا لپاره د سعودي صندوق، بلغاریا، د کویټ صندوق او د ایران د پور ورکونې کچه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۱۱۰.۴۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱۰۴.۵ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

له بلې خوا، افغانستان ته د څو اړخیزو پور ورکوونکو د پوراینې کچه ۱،۱۴۸.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱،۱۵۹.۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله په کې د ارزونې لاندې

ربعه کې ۱۱.۰۴ میلیونه امریکایي ډالره ټیټوالی راغلی دی.

**۱۳.۴ ګراف: د بهرنی پوراینې پرتلنې، د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ مالي کال دویمې ربعې**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۶.۴ خالصه نړیوالې زیرمې


د وروستیو شمیرو پر بنسټ، خالصې نړیوالې زیرمې(NIR) د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۷،۶۸۰.۲۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۷،۴۹۱.۸۰ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۶.۴ جدول او ۱۴.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

همدا ډول د شتمنۍ زیرمې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۸،۳۳۷.۵۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۸،۲۲۷.۵۷ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱ سلنه لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې د پوراینې د زیرمو کچه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۶۵۷.۲۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۷۳۵.۷۶ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۱ سلنه کموالی په ګوته کوي. پورتنۍ شمیرې ښکاره کوي چې د پوراینې د زیرمو د کچې په پرتله د شتمنۍ د زیرمو کچه لوړه ده. د پوراینې د زیرمو د کچې د کموالي اصلي لامل په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو په امانتونو کې کموالی ګڼل کیږي چې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې یې کچه ۶۰۳.۶۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۶۷۵.۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

په بهرنیو اسعارو کې د نا میشتو امانتونو د پوراینې د زیرمو کچه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې تقریباً ثابته پاتې شوې ده. د افغانستان د خالصه نړیوالو زیرمو اوسنی وضعیت د پولي سیاست لپاره ښه ابزار او د ادائینو د بیلانس ښه ملاتړ ګڼل کیږي.

**۱۴.۴ ګراف: خالصه نړیوالې زیرمې، د ۱۳۹۷ مالي کال له لومړۍ ربعې څخه د ۱۳۹۸ مالي کال تر دویمې ربعې پورې**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

## ۱.۴ جدول: د افغانستان د اداینو بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر)

| اقلام/کلونه | ۱۳۹۷ لومړی ربعه | ۱۳۹۷ دویمه ربعه | ۱۳۹۷ دریمه ربعه | ۱۳۹۷ څلورمه ربعه | ۱۳۹۸ لومړی ربعه | ۱۳۹۸ دویمه ربعه | د بدلون سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **جاري حساب** | -١٢٣٢.٣٦ | -٧٨٤.٥٨ | -٦٨٦.٨٩ | -٨٨٤.٨٨ | -١٠٩٣.٨٣ | -٦٠٤.٧٤ | -٢٢.٩٪ |
| کریډټ | ٩٤٢.٣٥ | ١١٣٩.٤٦ | ١٣٥٦.٩٥ | ١٢٤٤.٦٦ | ٩٤٤.٤٧ | ١١٦٢.٣٦ | ٢.٠٪ |
| ډېبټ | ٢١٧٤.٧١ | ١٩٢٤.٠٤ | ٢٠٤٣.٨٣ | ٢١٢٩.٥٤ | ٢٠٣٨.٣٠ | ١٧٦٧.١٠ | -٨.٢٪ |
| د توکو او خدمتونو حساب | -١٧٥٦.٥٤ | -١٤٩٦.٢٢ | -١٢٩٥.٨٨ | -١٤٦٢.٤٤ | -١٤٥٢.٣٩ | -١٢٢٧.٠١ | -١٨.٠٪ |
| کریډټ | ٣٥٥.٢٠ | ٣٧٨.٠٧ | ٦٤٩.٤٤ | ٥٩١.٠٧ | ٥٣٦.١٢ | ٤٨٩.٦٣ | ٢٩.٥٪ |
| ډېبټ | ٢١١١.٧٥ | ١٨٧٤.٢٩ | ١٩٤٥.٣٢ | ٢٠٥٣.٥١ | ١٩٨٨.٥١ | ١٧١٦.٦٤ | -٨.٤٪ |
| د توکو حساب | -١٥٩٠.٨٩ | -١٤١٨.٤٨ | -١٣١٣.٦٥ | -١٣٩٧.٦٢ | -١٤٥٨.٥٩ | -١٣٢٢.٧٣ | -٦.٧٪ |
| کریډټ | ١٧٢.٤٥ | ١٤٦.٨١ | ٢٦١.٨٨ | ٢٩٤.٠٩ | ١٨٢.٥٧ | ١٤٣.٦٠ | -٢.٢٪ |
| ډېبټ | ١٧٦٣.٣٥ | ١٥٦٥.٢٩ | ١٥٧٥.٥٣ | ١٦٩١.٧١ | ١٦٤١.١٦ | ١٤٦٦.٣٤ | -٦.٣٪ |
| د خدمتونو حساب | -١٦٥.٦٥ | -٧٧.٧٤ | ١٧.٧٧ | -٦٤.٨٢ | ٦.١٩ | ٩٥.٧٢ | -٢٢٣.١٪ |
| کریډټ | ١٨٢.٧٥ | ٢٣١.٢٦ | ٣٨٧.٥٦ | ٢٩٦.٩٨ | ٣٥٣.٥٥ | ٣٤٦.٠٣ | ٤٩.٦٪ |
| ډېبټ | ٣٤٨.٤٠ | ٣٠٩.٠٠ | ٣٦٩.٧٩ | ٣٦١.٨١ | ٣٤٧.٣٦ | ٢٥٠.٣١ | -١٩.٠٪ |
| د عوایدو لومړنی حساب | ٢٩.٨٧ | ٦٠.٦٠ | ٦٦.٣٤ | ٥٥.٦٠ | ٥٣.٩٧ | ٥٣.٨٥ | -١١.٢٪ |
| کریډټ | ٤٠.٣١ | ٧١.٧٢ | ١١٦.٤٤ | ٧٨.٣٢ | ٦٩.٨٨ | ٦٤.٦٦ | -٩.٨٪ |
| ډېبټ | ١٠.٤٥ | ١١.١١ | ٥٠.١١ | ٢٢.٧٢ | ١٥.٩١ | ١٠.٨١ | -٢.٧٪ |
| د عوایدو ثانوي حساب | ٤٩٤.٣٢ | ٦٥١.٠٣ | ٥٤٢.٦٥ | ٥٢١.٩٦ | ٣٠٤.٥٩ | ٥٦٨.٤٣ | -١٢.٧٪ |
| کریډټ | ٥٤٦.٨٤ | ٦٨٩.٦٧ | ٥٩١.٠٦ | ٥٧٥.٢٧ | ٣٣٨.٤٧ | ٦٠٨.٠٨ | -١١.٨٪ |
| ډېبټ | ٥٢.٥٢ | ٣٨.٦٤ | ٤٨.٤١ | ٥٣.٣١ | ٣٣.٨٨ | ٣٩.٦٤ | ٢.٦٪ |
| جاري لیږدونې (رسمي بسپنې) | ٤٠٨.٠ | ٥٣٠.٦ | ٤٠٤.٤ | ٣٦٥.٥ | ١٦٢.٨ | ٤٢٦.٧ | -١٩.٦٪ |
| کریډټ | ٤٠٨.٠ | ٥٣٠.٦ | ٤٠٤.٤ | ٣٦٥.٥ | ١٦٢.٨ | ٤٢٦.٧ | -١٩.٦٪ |
| ډېبټ | ٠.٠ | ٠.٠ | ٠.٠ | ٠.٠ | ٠.٠ | ٠.٠ | ٠.٠٪ |
| شخصي لیږدونې | ٨٦.٣٦ | ١٢٠.٤٢ | ١٣٨.٢٢ | ١٥٦.٤٤ | ١٤١.٨٠ | ١٤١.٧٠ | ١٧.٧٪ |
| کریډټ | ١٣٨.٨٨ | ١٥٩.٠٦ | ١٨٦.٦٣ | ٢٠٩.٧٥ | ١٧٥.٦٨ | ١٨١.٣٤ | ١٤.٠٪ |
| ډېبټ | ٥٢.٥٢ | ٣٨.٦٤ | ٤٨.٤١ | ٥٣.٣١ | ٣٣.٨٨ | ٣٩.٦٤ | ٢.٦٪ |
| **د پانګې حساب** | ٤.٨٤ | ١٧١.٩٣ | ٤٢٧.١٣ | ٥٨٨.٨١ | ٣٩.٤٢ | ٢٢٨.٥١ | ٣٢.٩٪ |
| کریډټ | ٤.٨٤ | ١٧١.٩٣ | ٤٢٧.١٣ | ٥٨٨.٨١ | ٣٩.٤٢ | ٢٢٨.٥١ | ٣٢.٩٪ |
| ډېبټ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | |
| پانګه ایزې لیږدونې | ٤.٨٤ | ١٧١.٩٣ | ٤٢٧.١٣ | ٥٨٨.٨١ | ٣٩.٤٢ | ٢٢٨.٥١ | ٣٢.٩٪ |
| کریډټ | ٤.٨٤ | ١٧١.٩٣ | ٤٢٧.١٣ | ٥٨٨.٨١ | ٣٩.٤٢ | ٢٢٨.٥١ | ٣٢.٩٪ |
| ډېبټ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | |
| **مالي حساب** | ٥٦.٢ | -٦.٣ | ٣١١.٣ | ١٩٦.٣٤ | -١٥.٧٠ | ١٤٠.٩٠ | -٢٣٢٢.٤٪ |
| مستقیمه پانګونه | -٤٣.٤٥ | -٤٩.٧٥ | ٦.٢٢ | ٨.٠٧ | ٠.٠٢ | -٦.٠٥ | -٨٧.٨٪ |
| د مالي شتمنیو خالصه پیرنې | -٣.٧٨ | -٤.٠٨ | ٣١.١٨ | ١٧.٢١ | ٨.٨٣ | ٥.٨٤ | -٢٤٢.٩٪ |
| د پوراینو خالصه مشمولیت | ٣٩.٦٧ | ٤٥.٦٧ | ٢٤.٩٦ | ٩.١٤ | ٨.٨١ | ١١.٨٩ | -٧٤.٠٪ |
| د پورتو فولیو پانګونې | ٤٤.٢١ | ١١.٢٥ | ١٠٧.٠٨ | ١.١٨ | -١٨.٦٢ | ٢٠.٤٥ | ٨١.٨٪ |
| د مالي شتمنیو خالصه پیرنې | ٤٤.٢١ | ١١.٢٥ | ١٠٧.٠٨ | ١.١٨ | -١٨.٦٢ | ٢٠.٤٥ | ٨١.٨٪ |
| د پوراینو خالصه مشمولیت | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | |
| نورې پانګې | ٣٢.٦٣ | ٧٢.٠١ | ٨٥.٣٣ | ١١٤.٤٩ | -٢٦.٤١ | ٩٧.١٩ | ٣٥.٠٪ |
| شتمنی | -٢.٢٣ | ٤٩.٥٧ | ٥٩.٥٤ | ١٠٧.٠٩ | -٤٠.٩٤ | ٩٠.٧٦ | ٨٣.١٪ |
| پوراینې | -٣٤.٨٦ | -٢٢.٤٤ | -٢٥.٧٩ | -٧.٣٩ | -١٤.٥٤ | -٦.٤٣ | -٧١.٤٪ |
| د شتمنیو زیرمې | ٢٢.٧٩ | -٣٩.٨٥ | ١١٢.٦٨ | ٧٢.٦٠ | ٢٩.٣١ | ٢٩.٣١ | -١٧٣.٥٪ |
| خالصه خطاګانې او تیروتنې | ١٢٨٣.٦٩ | ٦٠٦.٣١ | ٥٧١.٠٧ | ٤٩٢.٤١ | ١٠٣٨.٧٠ | ٥١٧.١٢ | -١٤.٧٪ |

**سرچینه:** د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۲.۴ جدول: د توکو سوداګري (په میلیون امریکایي ډالر)**

| کلونه | ۱۳۹۷ لومړۍ ربعه | | ۱۳۹۷ دو یمه ربعه | | ۱۳۹۷ دریيمه ربعه | | ۱۳۹۷ څلورمه ربعه | | ۱۳۹۸ لومړۍ ربعه | | ۱۳۹۸ دویمه ربعه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د مواردو شرح | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) |
| واردات | ۱,۹۳۶.۸٤ | ۱۰۰٪ | ۱,۷٦٦.۹٦ | ۱۰۰٪ | ۱,۷۷۷.۲۹ | ۱۰۰٪ | ۱,۹۲۵.۵۰ | ۱۰۰٪ | ۱,۷۸٦.۳٤ | ۱۰۰٪ | ۱,٦۳۱.۲٤ | ۱۰۰٪ |
| صنعتي مواد | ۲۰۰.۳۸ | ۱۰.۳٪ | ۱۹۴.۱۴ | ۱۱.۰٪ | ۲۱۰.۹۶ | ۱۱.۹٪ | ۲۲۰.۲۰ | ۱۱.۴٪ | ۱۷۳.۹۲ | ۹.۷٪ | ۱۹۶.۴۷ | ۱۲.۰٪ |
| تیل او روغنیات | ۲۲۰.۵۸ | ۱۱٪ | ۲۱۴.۲۱ | ۱۲.۱٪ | ۲۵۱.۳۴ | ۱۴.۱٪ | ۲۶۳.۶۶ | ۱۳.۷٪ | ۳۰۲.۳۴ | ۱۷٪ | ۲۴۸.۵۳ | ۱۵٪ |
| لګښتي توکي | ۸۲۸.۹۶ | ۴۳٪ | ۶۸۷.۵۴ | ۳۸.۹٪ | ۶۷۶.۶۵ | ۳۸.۱٪ | ۷۱۱.۰۷ | ۳۶.۹٪ | ۷۴۱.۳۵ | ۴۲٪ | ۶۲۲.۰۵ | ۳۸٪ |
| پانګه ایزه توکي او داسي نور | ۶۸۶.۹۱ | ۳۵٪ | ۶۷۱.۰۷ | ۳۸.۰٪ | ۳۸.۳۴ | ۳۵.۹٪ | ۷۳۱ | ۳۷.۹٪ | ۵۶۸.۷۴ | ۳۲٪ | ۵۶۴.۱۸ | ۳۵٪ |
| صادرات | ۱۷۲.٤٥ | ۱۰۰٪ | ۱٤٦.۸۱ | ۱۰۰.۰٪ | ۲٦۱.۸۸ | ۱۰۰٪ | ۲۹٤.۰۹ | ۱۰۰٪ | ۱۸۲.۵۷ | ۱۰۰٪ | ۱٤۳.۲۹ | ۱۰۰٪ |
| غالۍ او ټغرونه | ۵.۶۲ | ۳٪ | ۵.۶۸ | ۳.۹٪ | ۵.۴۵ | ۲.۱٪ | ۵.۶ | ٪۱.۹ | ۶.۵۷ | ۴٪ | ۶.۳۵ | ۴٪ |
| خوراکي توکي | ۷۶.۳۲ | ۴۴٪ | ۴۷.۳۰ | ۳۲.۲٪ | ۱۱۵.۸۸ | ۴۴.۲٪ | ۱۷۸.۱۹ | ٪۶۰.۶ | ۸۳.۹۳ | ۴۶٪ | ۴۹.۷۲ | ۳۵٪ |
| څرمن او وړۍ | ۷.۱۱ | ۴٪ | ۹.۰۵ | ۶.۲٪ | ۱۳.۳۷ | ۵.۱٪ | ۱۲.۷۹ | ٪۴.۳ | ۹.۶۹ | ۵.۳٪ | ۱۴.۰۰ | ۹.۸٪ |
| طبي بذرونه او نور | ۸۳.۴۱ | ۴۸٪ | ۸۴.۷۸ | ۵۷.۷٪ | ۱۲۷.۱۸ | ۴۸.۶٪ | ۹۷.۵۲ | ٪۳۳.۲ | ۸۲.۳۷ | ۴۵.۱٪ | ۷۳.۲۲ | ۵۱.۱٪ |
| سوداګریز بیلانس | -۱,۷٦٤.۳۸ | | -۱,٦۲۰.۱٥ | | -۱,٥۱٥.٤۱ | | -۱,٦۳۱.٤۲ | | -۱,٦۰۳.۷۷ | | -۱,٤۸۷.۹٥ | |

سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۳.۴ جدول: د ۱۳۹۸مالي کال د دویمې ربعې لپاره د بهرنۍ سوداګرۍ لوری (په میلیون امریکایي ډالرو)**

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | ۴۳.۲۲ | ۳۰٪ | ۳۲۵.۴۶ | ۲۰٪ | – ۲۸۲.۲۴ |
| هند | ۷۳.۲۸ | ۵۱٪ | ۹۹.۷۲ | ۶.۱۱٪ | – ۲۶.۴۴ |
| ایران | ۲.۳۱ | ۱.۶٪ | ۳۱۰.۴۵ | ۱۹٪ | – ۳۰۸.۱۵ |
| جرمني | ۲.۸۴ | ۲.۰٪ | ۱۶.۷۶ | ۱.۰۳٪ | – ۱۳.۹۲ |
| چین | ۳.۲۷ | ۲٪ | ۲۵۲.۶۳ | ۱۵.۵٪ | – ۲۴۹.۳۶ |
| انګلستان | | ۰.۰۰٪ | ۱.۰۸ | ۰.۰۷٪ | – ۱.۰۸ |
| سعودي عربستان | ۱.۸۵ | ۱.۲۹٪ | | ۰.۰۰٪ | ۱.۸۵ |
| د عربو متحده امارات | | ۰.۰۰٪ | ۳۸.۱۸ | ۲.۳۴٪ | – ۳۸.۱۸ |
| ترکیه | | ۰.۰۰٪ | ۱۶.۸۸ | ۱.۰۳٪ | – ۱۶.۸۸ |
| د امریکا متحده ایالات | | ۰.۰۰٪ | ۱۲.۸۷ | ۰.۷۹٪ | – ۱۲.۸۷ |
| د ګډو ګټو خپلواک هیوادونه | ۱.۸۴ | ۱.۳٪ | ۳۶۱.۲۳ | ۲۲٪ | – ۳۵۹.۳۹ |
| جاپان | | ۰.۰۰٪ | ۴۹.۲۷ | ۳.۰۲٪ | – ۴۹.۲۷ |
| نور هیوادونه | ۱۴.۶۸ | ۱۰.۲۵٪ | ۱۴۶.۷۰ | ۸.۹۹٪ | – ۱۳۲.۰۲ |
| **ټولیزه** | **۱٤۳.۲۹** | **۱۰۰٪** | **۱,٦۳۱.۲٤** | **۱۰۰٪** | **(۱,٤۸۷.۹٥)** |

سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۴.۴ جدول: د ۱۳۹۸مالي کال د دویمې ربعې لپاره د بهرنۍ سوداګرۍ لوری (په میلیون امریکایي ډالرو)**

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | ۶۲.۱۸ | ۴۲٪ | ۳۲۵.۰۷ | ۱۸.۴۰٪ | - ۲۶۲.۹۰ |
| هند | ۵۲.۴۵ | ۳۶٪ | ۱۱۱.۶۲ | ۶.۳۲٪ | - ۵۹.۱۷ |
| ایران | ۵.۴۵ | ۴٪ | ۳۰۱.۲۸ | ۱۷.۰۵٪ | - ۲۹۵.۸۳ |
| جرمني | ۱.۱۳ | ۰.۷۷٪ | ۱۶.۶۵ | ۰.۹۴٪ | - ۱۵.۵۲ |
| د ګډو ګټو خپلواک هېوادونه | ۲.۸۳ | ۱.۹۳٪ | ۴۶۲.۴۹ | ۲۶.۱۷٪ | - ۴۵۹.۶۶ |
| چین | ۵.۰۹ | ۳.۵٪ | ۲۲۵.۴۶ | ۱۲.۷۶٪ | - ۲۲۰.۳۷ |
| سعودي عربستان | ۱.۳۳ | ۰.۹۱٪ | | ۰.۰۰٪ | ۱.۳۳ |
| جاپان | | ۰.۰۰٪ | ۹۲.۴۵ | ۵.۲۳٪ | -۹۲.۴۵ |
| انګلستان | | ۰.۰۰٪ | ۱.۰۶ | ۰.۰۶٪ | - ۱.۰۶ |
| امریکا متحده ایالات | | ۰.۰۰٪ | ۱۱.۳۱ | ۰.۶۴٪ | -۱۱.۳۱ |
| نور هېوادونه | ۱۶.۳۷ | ۱۱.۱۵٪ | ۲۱۹.۵۷ | ۱۲.۴۳٪ | -۲۰۳.۲۰ |
| **ټولیزه** | **۱۴٦.۸۱** | **۱۰۰.۰۰٪** | **۱,۷٦٦.۹٦** | **۱۰۰.۰۰٪** | **- ۱٦۲۰.۱۵** |

**سرچینه:** د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۵.۴ جدول: د ۱۳۹۷ مالي کال او د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې لپاره بهرنی پورواینې (په میلیون امریکایي ډالرو)**

| شرح | ۱۳۹۷ دویمه ربعه | د ونډې سلنه | ۱۳۹۸ دویمه ربعه | د ونډې سلنه |
|---|---|---|---|---|
| **ټولیزه بهرنی پورواینې** | **۲,۱۷٤.٦۳** | **۱۰۰.۰۰** | **۲,۱۸۵.۸۵** | **۱۰۰.۰۰** |
| **دوه اړخیزه** | **۱,۰۱٤.۹۲** | **٤٦.٦۷** | **۱,۰۳۷.۱۸** | **٤۷.٤٥** |
| پاریس کلب | ۹۱۰.۳۶ | ۴۱.۸۶ | ۹۲۶.۷۰ | ۴۲.۴۰ |
| د روسیې فدراسیون | ۹۱۰.۳۶ | ۴۱.۸۶ | ۹۲۶.۷۰ | ۴۲.۴۰ |
| امریکا متحده ایالات | | ۰.۰۰ | – | ۰.۰۰ |
| جرمني | | ۰.۰۰ | – | ۰.۰۰ |
| د پاریس کلب پرته | ۱۰۴.۵۶ | ۴.۸۱ | ۱۱۰.۴۹ | ۵.۰۵ |
| **څو اړخیزه** | **۱,۱۵۹.۷۰** | **۵۳.۳۳** | **۱,۱٤۸.٦٦** | **۵۲.۵۵** |
| د پراختیا نړیواله ټولنه (نړیوال بانک) | ۳۶۱.۹۲ | ۱۶.۶۴ | ۳۵۵.۰۶ | ۱۶.۲۴ |
| آسیا پراختیایي بانک | ۶۷۷.۸۴ | ۳۱.۱۷ | ۶۶۳.۴۲ | ۳۰.۳۵ |
| د پیسو نړیوال صندوق | ۷۰.۳۵ | ۳.۲۳ | ۷۷.۰۱ | ۳.۵۲ |
| اسلامي پرمختیایي بانک | ۴۷.۸۹ | ۲.۲۰ | ۵۱.۴۳ | ۲.۳۵ |
| د اوپیک صندوق | ۱.۷۱ | ۰.۰۸ | ۱.۷۴ | ۰.۰۸ |

**سرچینه:** د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۶.۴ جدول: خالصه نړیوالې زیرمې ( په میلیون امریکایي ډالر)**

| په تیره ربعه کې بدلونونه | ۱۳۹۷ لومړۍ ربعه | د بدلون سلنه | ۱۳۹۷ دوهمه ربعه | د بدلون سلنه | ۱۳۹۷ دریمه ربعه | د بدلون سلنه | ۱۳۹۷ څلورمه ربعه | د بدلون سلنه | ۱۳۹۸ لومړۍ ربعه | د بدلون سلنه | ۱۳۹۸ دویمه ربعه | د بدلون سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خالصه نړیوالې زیرمې (په ملیون امریکایي ډالر) | ۷,۳۵۰.۹۲ | ۲۳.۲۲ | ۷,۴۹۱.۸۰ | ۱.۹۲ | ۷,۵۳۴.۴۲ | ۰.۵۷ | ۷,۷۰۴.۹۸ | ۲.۲۶ | ۷,۶۹۶.۴۰ | ۵ | ۷,۶۸۰.۲۸ | ۳ |
| د شتمنۍ زیرمې | ۸,۱۳۱.۱۳ | ۲۲.۷۱ | ۸,۲۲۷.۵۷ | ۱.۱۹ | ۸,۲۴۱.۹۰ | ۰.۱۷ | ۸,۳۶۲.۴۲ | ۱.۵ | ۸,۳۴۵.۴۶ | ۳ | ۸,۳۳۷.۵۳ | ۱ |
| د پورواینې زیرمې | ۷۸۰.۲۱ | ۱۰.۹۱ | ۷۳۵.۷۶ | - ۵.۷۰ | ۷۰۷.۴۸ | - ۳.۸۴ | ۶۵۷.۴۴ | - ۷ | ۶۴۹.۰۶ | -۱۷ | ۶۵۷.۲۵ | -۱۱ |
| په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانتونه | ۷۲۲.۸۸ | ۴.۰۰ | ۶۷۵.۳۸ | - ۶.۵۷ | ۶۵۱.۱۷ | - ۳.۵۹ | ۵۹۸.۰۸ | - ۸ | ۵۹۱.۹۸ | -۱۸ | ۶۰۳.۶۵ | -۱۱ |
| په بهرنیو اسعارو د نا میشتو امانتونه | ۰.۱۴ | - ۸۹.۵۷ | ۰.۱۴ | -۱.۳۰ | ۰.۱۴ | ۰.۰۰ | ۰.۱۴ | ۱.۳۱ | ۰.۱۴ | ۰ | ۰.۱۴ | ۱ |
| له تمویلي سرچینو څخه ګټه اخیستنه | ۵۷.۱۹ | ۱۷.۵۳ | ۶۰.۲۴ | ۵.۳۳ | ۵۶.۱۷ | -۶.۷۶ | ۵۹.۲۲ | ۵ | ۵۶.۷۴ | -۱ | ۵۳.۴۶ | -۱۱ |
| نا خالصه نړیوالې زیرمې (د وارداتو د میاشتې په اساس) | ۱۲.۵۹ | | ۱۳.۹۷ | | ۱۳.۹۱ | | ۱۳.۰۳ | | ۱۴.۰۲ | | ۱۵.۳۳ | |
| خالصه نړیوالې زیرمې (د وارداتو د میاشتې په اساس) | ۱۱ | | ۱۳ | | ۱۳ | | ۱۲ | | ۱۳ | | ۱۴ | |

**سرچینه:** د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

# ۵

## د مالیاتي سکتور بدلونونه

۵
# د مالياتي سکتور بدلونونه

د مالياتي سکتور بنسټيزې موخې د عوايدو د راټولېدو زياتوالی او د هغو کړنو پر له پسې پوښښ رانغاړي چې د عملياتي او پراختيايي لګښتونو تأمينيږي او په ورته وخت کې د دې برخې موخه د افغانستان د سولې او د پراختيا له ملي اډانې (ANPDF) سره سم د لګښتونو له تخصيص څخه د ډاډ ترلاسه کول دي.

سربېره پر دې، د عامه لګښتونو د ودې مديريت، د مالي پاليسی جوړول، په عامه تشبثاتو کې اغېزناکتيا، د ماليې او ګمرکونو اداره کول د دې سکتور نورې موخې ګڼل کېږي.

د غوړېدو او پرمختګ په حال کې هېوادونو په شان افغانستان هم تل او په دوامداره توګه د بودجې له کسر سره مخ وي. همدا ډول ټوليزه اصلي لګښتونه چې د ټوليزه کورنيو عوايدو په پرتله ډېر دي، د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۶۹ ميلیارده افغانۍ کسر ښکاره کوي، حال دا چې د نورو عوايدو له ډلې بسپنو په پرتليزه توګه د ارزونې لاندې موده کې ۲.۶۹ میلیارده افغانۍ د بودجې ډېرښت ثبت کړې ده. په مالياتي او ګمرکي عوايدو کې د پام وړ زياتوالي او د طلب وړ نورو سرچينو (د افغانستان بانک د سهميې لېږد) څخه د ترلاسه شويو عوايدو د زياتوالي له امله ټوليزه عوايد د ۱۳۹۷ مالي کال د دويمې ربعې په پای کې د ۱۵۶.۲۶ میلیارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ مالي کال د دويمې ربعې په پای کې ۱۶۰.۷۷ میلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د ۴.۵۱ میلیارده افغانۍ زياتوالي چې د کورنيو عوايدو د ۲.۸۸ سلنې لوړوالي لامل شوی، ښکاره کوي.

د دې ترڅنګ، د کارکوونکو د لګښت، د عرضه کوونکي لګښت او د پانګې په لګښت کې زياتوالی د دې لامل شوی چې ټوليزه اصلي لګښتونه د ۱۳۹۷ مالي کال د دويمې ربعې له ۱۴۱.۶۲ میلیارده افغانۍ څخه د ارزونې لاندې ربعه کې ۱۶۳.۴۵ میلیارده افغانۍ ته ورسيږي که چې ۲۱.۸۴ میلیارده افغانۍ يا ۱۵.۴۱ سلنې زياتوالی ښکاره کوي.

له بلې خوا، د بسپنه ورکوونکو مالي مرستې (بسپنې) عملياتي او پراختيايي لګښتونه تر پوښښ لاندې نيسي. د افغانستان د بيا رغونې لپاره د پيسو صندوق ( ARTF)، د افغانستان د قانون او نظم لپاره د پيسو صندوق(LOTFA) او د امنيت د ليږد لپاره د ګډو ځواکونو قوماندانۍ( CSTC-A ) د افغانستان دولت ته ستر بسپنه ورکوونکي دي. د بسپنه ورکوونکو ټوليزه بسپنې چې عملياتي او پراختيايي برخو ته ځانګړې شوي دي، د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۶۵.۹۷ میلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د ۱۳۹۷ مالي کال د دويمې ربعې د ۷۶.۳۴ میلیارده افغانۍ په پرتله د ۱۰.۳۹ میلیارده افغانۍ يا ۱۳.۶۱ سلنه کموالی ښکاره کوي.

د يادولو وړ ده چې ټوليزه اصلي بودجه د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۳۹۹.۴۲ میلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۳۷۷.۱۹ میلیارده افغانۍ په پرتله ۲۲.۲۳ میلیارده افغانۍ يا ۵.۸۹ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې، ټوليزه عملياتي بودجه د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۲۷۵.۲۲ میلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۲۶۸.۳۱ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳.۴ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول، پراختيايي بودجه چې د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۱۲۴.۱۹ میلیارده افغانۍ ته رسيږي، د تير کال د ورته ربعې د ۱۱۱.۰۶ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۱.۸۳ سلنه زياتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل يې په پرتليزه توګه د ۱۳۹۸ مالي کال لپاره د بودجې په تصويب او تخصيص کې زياتوالی ګڼل کيږي.

**۱.۵ گراف: د ټولیزه عوایدو، لګښتونو، بودجې او بسپنو پرتله، د ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ دویمه – ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه**





سرچینه: د مالیې وزارت صورت حساب/د پولي سیاست آمریت د کارکوونکو محاسبه

### ۱.۵. د بودجې د اجراء نرخ

د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې دولت د ۳۹۹.۴۱ میلیارده افغانۍ ځانګړې شوې بودجې ۳۹.۹۵ سلنه په لګښت رسولې، حال دا چې دولت د ۱۳۹۷ مالي کال په دویمه ربعه کې له ۳۹۴.۶۷ میلیارده افغانۍ ځانګړې شوې بودجې څخه ۳۶.۰۶ سلنه بودجه مصرف کړې وه چې په ټولیزه توګه د بودجې د اجراء په نرخ کې ۳.۹۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بودجې د اجراء په نرخ کې د زیاتیدو اصلي لاملونه په خپل وخت د تدارکاتو د ملي اداري لخوا د لګښتونو (مخارجو) د پروسې د مراحلو ترسره کېدل او تصویب، په ولایتونو کې امنیتي وضعیت او د بودجې د اړوندو ادارو لخوا د کړنو ښه والی ګڼل کېږي. همدا ډول، کلنۍ تصویب شوې بودجه هم د ۱۳۹۷ مالي کال د دویمې ربعې له ۳۷۷.۱۹ میلیارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۳۹۹.۴۲ میلیارده افغانۍ ته زیاته شوې ده چې په پرتلیزه توګه ۵.۹ سلنه زیاتولی په ګوته کوي.


د عملیاتي بودجې د اجراء نرخ د ۱۳۹۷ مالي کال د دویمې ربعې د ۱۰۹.۶۴ میلیارده افغانۍ په پرتله د ارزونې لاندې ربعې کې ۱۱۴.۲۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې ۴.۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د دې ترڅنګ، په ۱۳۹۸ مالي کال کې تخصیص شوې بودجه ۳۹۱.۵۱ میلیارده افغانۍ ده، حال دا چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ټولیزه تخصیص شوې بودجه ۳۶۲.۴۲ میلیارده افغانۍ وه. همدا ډول د پراختیایي بودجې د اجراء نرخ د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۵۰.۱۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د ورته دورې د ۳۲.۶۷ میلیارده افغانۍ په پرتله ۵۳.۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

**۲.۵ ګراف: د ټولیزه بودجې پرتلنه، د ۱۳۹۷ د دویمې ربعې څخه د ۱۳۹۸ تر دویمې ربعې**




سرچینه: د مالیې وزارت صورت حساب/د پولي سیاست آمریت د کارکوونکو محاسبه

**۳.۵ ګراف: د عملیاتي بودجې او د پرمختیایي بودجې د اجرا نرخونو پرتلنه، ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه–۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه**





سرچینه: د مالیې وزارت صورت حساب/د پولي سیاست آمریت د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۵. د اصلي بودجې (کسر او ډېریدنه)

د بسپنه ورکوونکو له مرستو مخکې د ټولیزې بودجې کسر د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۵۹.۷۳ میلیارده افغانۍ ته رسیده چې د تیر کال د ورته مودې د ۶۰.۲۷ میلیارده افغانۍ کسر په پرتله ۰.۵۴ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې بهرنۍ تمویلي سرچینې د ۱۳۹۷ مالي کال د دویمې ربعې له ۴۸.۸۰ میلیارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۵۱.۲۲ میلیارده افغانۍ ته لوړې شوې دي. د دې ترڅنګ، د ۱۳۹۸ مالي کال لپاره د ټولیزه بهرنۍ

مالي تمويل د ۱۳۹۷ مالي كال د ۱۹۱.۲۸ ميليارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ مالي كال په دويمه ربعه كې ۱۹۹.۰۲ ميليارده افغانۍ ته رسيږي چې ۴.۰۴ سلنه زياتوالى په ګوته كوي چې د دې زياتوالي بنسټيز لامل په ټوله كې د بسپنه وركوونكو لخوا د كلنۍ ژمنو او ادا‌ینو عملي كول ګڼل كيږي.

**۴.۵ ګراف: د اصلي بودجې كسر/ ډېريدنه (د بسپنو په ګډون او نه ګډون)، ۱۳۹۷ مالي كال دويمه ربعه او ۱۳۹۸ مالي كال دويمه ربعه**




سرچينه: د ماليې وزارت صورت حساب/د پولي سياست آمريت د كاركوونكو محاسبه

### ۳.۵ د عوايدو راټولول

د بسپنو په ګډون ټوليزه عوايدو د ۱۳۹۸ مالي كال په دويمه ربعه كې د پام وړ زياتوالى موندلى او ارزښت يې د ۱۳۹۸ مالي كال په دويمه ربعه كې ۱۰۳.۱۳ ميليارده افغانۍ ته رسيږي چې د تير مالي كال د ورته ربعې د ۹۰.۷۷ ميليارده افغانۍ ثبت شوې كچې په پرتله ۱۲.۳۶ ميلياره افغانۍ يا ۱۳.۶ سلنه زياتوالى ښكاره كوي.

د پلانو شويو كورنيو سرچينو كلنۍ راټوليدنې د ۱۳۸۹ مالي كال په دويمه ربعه كې ۱۹۰.۹۱ ميلياره افغانۍ ته رسيږي چې د تير كال د ورته ربعې د ۱۷۱.۶۲ ميليارده افغانۍ په پرتله ۱۹.۲۹ ميلياره افغانۍ يا ۱۱.۲۴ سلنه زياتوالى ښكاره كوي.

سربېره پر دې، د ۱۳۹۸ مالي كال د بودجې د كسر په له منځه وړلو او د ټوليزه عوايدو په راټولولو كې ټوليزه كورنيو عوايدو او د بسپنه وركوونكو مرستو د پام وړ رول لوبولى څو د هېواد كلنۍ بودجه ډېره كړي.


همدا ډول په ۱۳۹۸ مالي كال كې د عوايدو په راټوليدو كې د مثبت بهير د زياتيدو بنسټيز لاملونه عايداتي ماليات، د توكو او خدمتونو خرڅلاو، د ځمكو او ودانيو خرڅلاو، ګمركي محصول او اداري فيسونه په ګوته شوي دي. حال دا چې د ټولنيزو خدمتونو په بدل كې ترلاسه كېدونكي عوايدو او نورو غير مالياتي عوايدو لكه د پانګه ايزو شتمنيو په عوايدو، د امتياز په حقونو، استخراجي صنعت او متفرقه عوايدو كې كموالى راغلى دى او د تير كال په پرتله د پرچون سوداګرۍ د منفي بهير په پايله كې د ملكيتونو ماليې، ثابتې ماليې او ګمركي محصول راكم شوي دي.

**۵.۵ ګراف: د عوايدو د بهيدنو پرتلنه، د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ كلونو دويمې ربعې**




سرچينه: د ماليې وزارت صورت حساب/د پولي سياست آمريت د كاركوونكو محاسبه

**۶.۵ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي كال د دويمې ربعې د ټوليزه عوايدو ونډه**





سرچينه: د ماليې وزارت صورت حساب/د پولي سياست آمريت د كاركوونكو محاسبه

#### ۱.۳.۵ كورني عوايد

د كورنيو عوايدو د راټوليدو ټوليزه كړنې د ۱۳۹۸ مالي كال په دويمه ربعه كې ښې شوي دي، چې د ۱۳۹۷ مالي كال د ورته ربعې په پرتله د پام وړ زياتوالى په ګوته كوي، حال دا چې دا اقدامات په ۱۳۹۸ مالي كال كې د دولت لخوا د ناخالصه كورنيو توليداتو د كسر په كمولو كې كافي ګڼل كيږي. د كورنيو عوايدو په راټوليدو كې د بدلونونو اصلي لاملونه د مالياتو، د ګمركي عوايدو چې عايداتي ماليات، د خرڅلاو ماليات او ثابته ماليات رانغاړي، ګڼل كيږي.

**۷.۵ ګراف: د کورنيو عوايدو پرتله، ۱۳۹۷ دويمه ربعه، ۱۳۹۸ دويمه ربعه**





سرچينه: د ماليې وزارت صورت حساب/د پولي سياست د آمريت د کارکوونکو محاسبه

له بلې خوا، ټوليزه کورني عوايد د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۵۱.۹۱ ميليارده افغانۍ ته رسيږي چې د تير مالي کال د دويمې ربعې د ۴۱.۹۷ ميليارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۹.۹۴ ميليارده افغانۍ يا ۲۴ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

د ټوليزه عوايدو د راټوليدو ډله بندي ښکاره کوي چې د کورنيو عوايدو بيلابيلو برخو لکه؛ عايداتي ماليات د ۸.۱ سلنې زياتوالي په درلودلو سره د ۱۳۹۷ د دويمې ربعې د ۷.۵۸ ميليارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ په دويمه ربعه کې ۸.۱۹ ميليارده افغانۍ ته رسيږي، د توکو او خدمتونو پلور د ۲۴.۳۲ سلنې زياتوالي سره د تيرې دورې د ۱.۲۵ ميليارده افغانۍ څخه د ارزونې لاندې کال کې ۱.۵۶ ميليارده افغانۍ ته رسيږي، غير مالياتي جريمې د ۴۲.۹۸ سلنې زياتوالي سره د تير کال د دويمې ربعې د ۰.۱۱ ميليارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۰.۱۶ ميليارده افغانۍ ته رسېږي او همدا رنګه نور متفرقه عوايد د ۲۵۹.۷۲ سلنې زياتوالي سره د ۱۳۹۷ مالي کال د دويمې ربعې د ۳.۲۰ ميليارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۱۱.۵۱ ميليارده افغانۍ ته رسيږي. د نورو سرچينو عوايد چې ورباندې طلبات دي، د ۱۳۹۷ مالي کال د دويمې ربعې د ۰.۰۰۱۳ ميليارده افغانۍ په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې د پام وړ ۸.۹۹ ميليارده افغانۍ ته لوړ شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې استخراجي صنعت د ۳۰ سلنه ټيټوالي په تجربه کولو سره د ۱۳۹۷ مالي کال د ۰.۴۳ ميليارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۰.۳۰ ميليارده افغانۍ ته رسېږي. د دې ترڅنګ، اداري فيسونو د ۲۳.۳۹ سلنې ټيټوالي په درلودلو سره د ۱۳۹۷ مالي کال د دويمې ربعې له ۶.۴۰ سلنې څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۴.۹۱ سلنې ته رسيږي.

## ۲.۳.۵. غير مالياتي عوايد


**۸.۵ ګراف: د کورنيو عوايدو مهمې اجزاوې، د ۱۳۹۸ مالي کال دويمه ربعه**




سرچينه: د ماليې وزارت صورت حساب/د پولي سياست د آمريت د کارکوونکو محاسبه

غير مالياتي عوايد چې د کورنيو عوايدو عمده برخه جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال په دويمه ربعه کې ۲۹.۰۵ ميليارده افغانۍ ته رسيږي چې د تير مالي کال د دويمې ربعې د ۱۳.۸۰ ميليارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۱۱۰.۴۴ سلنه د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي. د کورنيو عوايدو د زياتيدو اصلي لامل د غير مالياتي جريمو، متفرقه عوايدو او د هغو سرچينو څخه د عوايدو زياتېدل دي چې ورباندې طلبات شتون لري، او د دې ترڅنګ د توکو او خدمتونو په پلور کې د پام وړ زياتوالی ښودل شوي دي.

**۹.۵ ګراف: د ټولیزه غیر مالیاتي عوایدو د سترو اجزاوو پرتلنه، د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ مالي کلونو دویمې ربعې**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت د کارکوونکو محاسبه

د غیر مالیاتي عوایدو تر ټولو ستره برخه د توکو او خدمتونو پلور جوړوي چې د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې ۱.۵۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱.۲۵ میلیارده افغانۍ په پرتله ۲۴.۳۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول، غیر مالیاتي جریمې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۰.۱۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۰.۱۱ میلیارده افغانۍ په پرتله ۴۲.۹۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، متفرقه عواید د ۱۳۹۷ د دویمې ربعې له ۳.۲۰ میلیارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۱۱.۵۱ میلیارده افغانۍ ته زیات شوي چې ۲۵۹.۷۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، د عوایدو اجزاوې لکه د تقاعد ونډه، د پانګه ایز ملکیت عواید، د استخراجي صنعت عواید او اداري فیسونه د ۱۳۹۷ مالي کال د دویمې ربعې د ۶.۴۰ میلیارده افغانۍ په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په ورته ربعه کې ۴.۹۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.


### ۴.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې

د بسپنه ورکوونکې مرستې د ملي بودجې مهمه برخه جوړوي چې دا بسپنې په دواړو عملیاتي او پراختیایي بودجو کې عمده لګښتونه تمویلوي. همدا ډول د افغانستان حکومت له بېلابېلو بسپنه ورکوونکو، د پیسو له صندوقونو او نړیوالو کمیټو څخه په عملیاتي او پراختیایي لګښتونو کې د یو لړ پروګرامونو د تمویل په موخه مالي مرستې او کله کله پورونه ترلاسه کوي.

سربېره پر دې د افغانستان له شرایطو سره سم مالي ټینګښت هغه ته وایي چې ټولیزه کورني لګښتونه د ټولیزه کورني عوایدو له لارې تمویل شي، حال دا چې د افغانستان کورني لګښتونه په نسبي توګه د بهرنیو مالي مرستو، بهرنیو پورونو او پاتې برخه یې د کورنیو عوایدو له لارې تمویلیږي.


له بلې خوا، ټولیزه پراختیایي او عملیاتي بسپنې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۵۱.۲۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر مالي کال د دویمې ربعې د ۴۸.۸۰ میلیارده افغانۍ په پرتله ۲.۴۲ میلیارده افغانۍ یا ۵ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

**۱۰.۵ ګراف: د بسپنو ورکوونکو ټولیزه شننه، د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ مالي کلونو دویمې ربعې**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت د کارکوونکو محاسبه

**۱۱.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډې اجزاوې، د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه**





سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت د کارکوونکو محاسبه

د عملیاتي او پراختیایي لګښتونو د مرسته کوونکو تر ټولو ستره برخه د افغانستان د بیارغونې لپاره د پیسو صندوق (ARTF) لخوا بسپنې جوړوي چې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۵.۹۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي

چې د تیر کال د ورته مودې د ۲۰.۵۳ میلیارده افغانۍ په پرتله ۷۱ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي او د امنیت د لیږد لپاره د ګډو ځواکونو د قومندانۍ ـ د فاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او ناټو مالي مرستې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۱۸.۴۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱۳.۱۴ میلیارده افغانۍ په پرتله ۴۰ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. د دې ترڅنګ، د (LOTFA) ادارې د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۶.۳۰ میلیارده افغانۍ مرسته کړې چې د ۱۳۹۷ مالي کال د ورته ربعې د ۷.۵۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۷ سلنه کموالی ښکاره کوي.

**۱۲.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډې پرتلنه، د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ مالي کلونو دویمې ربعې**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت د کارکوونکو محاسبه


### ۵.۵ لګښتونه

اصلي لګښتونه په پراختیایي او عادي لګښتونو ډله بندي شوي چې د اتو بېلابېلو سکتورونو لکه؛ امنیتي، اداره او مدیریت، ښوونې او روزنې، روغتیا، کرنې، ټولنیزه خوندیتوب، بیخ بنسټونو او د اقتصادي مدیریت لپاره ځانګړي شوي دي. همدا ډول دا لګښتونه د سکتور دواړو برخو یعنې عملیاتي او پراختیایي بودجو لپاره ځانګړي شوي، حال دا چې د بیخ بنسټونو او د اقتصاد د مدیریت لګښتونو زیاتوالی موندلی او د کرنې د سکتور لګښتونه د افغانستان د پراختیا د ملي ستراتیژۍ د لومړیتوبونو له مخې ترسره شوي دي. سربېره پر دې، ټولیزه اصلي لګښتونه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۱۱۱.۶۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ورته ربعې د ۱۰۲.۲۴ میلیارده افغانۍ په پرتله په ټولیزه پراختیایي او عملیاتي لګښتونو کې ۹.۴۰ میلیارده افغانۍ یا ۹.۱۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په اصلي لګښتونو کې د زیاتیدو اصلي لاملونه د عرضه کوونکو لګښت او د هغه د اجزاوو او په پانګه ایز لګښتونو کې زیاتوالی ګڼل کېږي.

همدا ډول عملیاتي لګښتونه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۷۱.۱۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۷ مالي کال د ورته ربعې د ۷۱.۱۲ میلیارده افغانۍ په پرتله ۰.۰۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې پراختیایي لګښتونه د ۳۰ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره د ۱۳۹۷ مالي کال د دویمې ربعې له ۳۱.۱۲ میلیارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۴۰.۴۵ میلیارده افغانۍ ته لوړ شوي چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله په پراختیایي لګښتونو کې د پام وړ ۹.۳۳ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. په ټولیزه لګښتونو کې تر ټولو ډیر زیاتوالی په کلنۍ پراختیایي بودجه او په کلنۍ اصلي لګښتونو کې راغلی دی.

**۱۳.۵ ګراف: د ټولیزه لګښتونو پرتلنه، د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ مالي کلونو دویمې ربعې**




سرچینه: د مالیې وزارت مالي صورت حساب/ د پولي سیاست آمریت د کارکوونکو محاسبه

# ۶

## د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

## ۶

## د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

بانکي نظام د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د ناخالصو کورنیو تولیداتو ۲۱.۵۱ سلنه جوړوي چې په ټولیزه توګه ۱۴ مجوز بانکونه رانغاړي. د دې بانکونو له ډلې درې یې دولتي، اووه یې خصوصي بانکونه[۱]، یو یې اسلامي بانک او درې نور یې د بهرنیو بانکونو نماینده ګی دي. د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د بانکي نظام د کړنو له شننې وروسته د اسلامي بانکدارۍ[۲] برخه په لاندې توګه وړاندې کیږي.

په ټولیزه توګه، د بانکي نظام د ښه والي شاخصونه د تیر کال د ورته ربعې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې په بېلابېلو برخو کې لوړوالی ښکاره کوي. همدا ډول، ټولیزه شتمنۍ، ناخالصه پورونه، امانتونه، د اکویټۍ پانګه او ګټه زیاته شوې او د نقدینګۍ کچه کافي پاتې شوې ده خو د پورونو کیفیت لاهم ټیټ پاتې دی.

- د بانکي نظام شتمنۍ د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې ۳۰۹.۵۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۳.۳۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د زیاتېدو اصلي لامل د مبادلې نرخ د نوساناتو څخه جلا خالصه پانګه اچونې، خالصه پورونه او نورو خالصه شتمنۍ دي.
- د بانکي نظام د ناخالصه پورونو پورټوفولیو د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې ۴۴.۰۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې دورې په پرتله ۴.۹۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو د زیاتیدو اصلي لاملونه د نوي پورونو خپرول، د اضافه برداشت اسانتیاوې او د ډالرو د نرخ زیاتوالی ګڼل کیږي.
- امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي او د بانکونو ترمنځ امانتونه او د مشتریانو امانتونه رانغاړي، د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۲۶۵.۸۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې ۳.۱۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د بانکي نظام د ټولیزه پورراینو په سلو کې ۹۷.۰۳ جوړوي. د بانکي نظام ډېری امانتونه په امریکایي ډالرو (۶۶.۳۱ سلنه) او ورپسې افغانۍ امانتونه (۲۷.۰۴ سلنه) دي. د بانکي نظام افغانۍ امانتونه د ارزونې لاندې ربعه کې ۲.۹۲ سلنه کموالی ښکاره کوي، حال دا چې د امریکایي ډالرو امانتونه په یاده موده کې ۵.۸۴ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.
- د بانکي نظام پانګه د ارزونې لاندې کال په دویمه ربعه کې د ۳.۸۳ سلنې زیاتوالي په درلودلو سره ۳۵.۶۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې پیاوړی حالت ښکاره کوي. د بانکي نظام د پانګې د زیاتېدو اصلي لامل د نغدي پیسو جریان او ګټورتیا، ګڼل کیږي. د ټولو بانکونو د پانګې د کفایت نسبت له ټاکل شوي حد څخه پورته دی. د خطر پر اساس عیارې شوې پانګې لپاره د بازل معیار ۸ سلنه دی. د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت (CAR) د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۲۶.۵۵ سلنه ثبت شوی دی.
- د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې د لوړې ټکټانې او غیر ټکټانې عوایدو، د لږو پورونو تخصیصولو او مالیاتو په ګډه د بانکي سکتور د خالصه عاید وضعیت ښه کړی دی. خالصه عاید چې ۱.۱۷ میلیارده افغانۍ ته رسېږي، د تېرې ربعې راپدېخوا ښه والی موندلی دی. په داسې حال کې چې د بانکي سکتور خالصه عواید د زیاتېدو

---

[۱]: د بانکي نظام په بولټن کې اسلامي بانک د خصوصي بانکونو یوه برخه ده.

[۲]: د اسلامي بانکدارۍ له یوه بانک او شپږ څانګو څخه جوړ شوی دی.

په حال کې دي، له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه (ROA) او له پانګې (اکویټي) ترلاسه شوې ګټه (ROE) په دې موده کې ښه شوې ده. د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه ۰.۷۷ سلنې ته رسېږي، په داسې حال کې چې له پانګې ترلاسه شوې ګټه ۶.۷۸ سلنې ته رسیږي. همدا ډول ټولو بانکونو په دې موده کې ګټه کړې ده.

## ۱.۶ د بانکي نظام شتمنۍ


د بانکي نظام شتمنۍ د ۲۰۱۹ مالي کال د مارچ میاشتې د ۵.۲۰ سلنې زیاتوالي په پرتله د ۲۰۱۹ (۱۳۹۸) کال په دویمه ربعه کې ۳.۳۳ سلنه زیاتوالی لرلی دی (د لا وضاحت لپاره ۱.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).

په ټولیزه شتمنیو کې زیاتوالی د مبادلې نرخ له نوساناتو پرته د خالصه پانګه اچونو، خالصه پورونو او نورو خالصه شتمنیو له امله رامنځ ته شوی دی.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو اجزاوې په خزانه کې نغدې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات (۳۹.۳۷ سلنه)، د بانکونو ترمنځ طلبات (۳۰.۶۰ سلنه، خالصه پورونه (۱۲.۶۶ سلنه)، پانګې اچونې ( ۹.۱۹ سلنه)، نورې شتمنۍ (۴.۸۵ سلنه) او ثابتې شتمنۍ د ټولیزه شتمنیو ۲.۷۲ سلنه جوړوي. (۱.۶ جدول ته مراجعه وکړئ)

د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې تر ټولو ډیره ۶۶.۸۲ سلنه ونډه خصوصي بانکونه لري (اسلامي بانک د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۵.۲۶ سلنه جوړوي). وروسته دولتي بانکونه ۲۷.۶۵ سلنه ونډه لري، حال دا چې د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۵.۵۳ سلنه جوړوي.

**۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ډلو ونډه، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې آمریت، د افغانستان بانک

**۱.۶ جدول: د بانکونو د شتمنۍ کچه، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه**

| شرح | د ۱۳۹۷ حوت<br>د ۲۰۱۹ مارچ | د ۱۳۹۸ غبرګولی<br>د ۲۰۱۹ جون | د ټولیزه شتمنیو/پوراینو سلنه | وده |
|---|---|---|---|---|
| **شتمنۍ** | ارقام په میلیون افغانی | | | |
| په خزانه کې نغدې پیسې او په افغانستان بانک باندې طلبات | ۱۲۲،۶۲۵.۳۵ | ۱۲۱،۸۶۳.۵۶ | ۳۹.۳۷ | -۰.۶۲ |
| د بانکونو ترمنځ طلبات (خالصه) | ۸۹،۷۵۲.۸۵ | ۹۴،۷۰۸.۲۴ | ۳۰.۶۰ | ۵.۵۲ |
| پانګونې (خالصې) | ۲۶،۷۲۵.۲۵ | ۲۸،۴۵۶.۳۵ | ۹.۱۹ | ۶.۴۸ |
| پورونه (خالصه) | ۳۷،۴۳۵.۰۷ | ۳۹،۲۰۰.۶۸ | ۱۲.۶۶ | ۴.۷۲ |
| نا ملموسه شتمنۍ | ۸۷۲.۴۵ | ۹۴۲.۳۰ | ۰.۳۰ | ۸.۰۰ |
| بیرته ترلاسه شوي شتمنۍ | ۸۹۶.۰۴ | ۹۴۴.۴۰ | ۰.۳۱ | ۵.۳۹ |
| ثابتې شتمنۍ | ۸،۲۹۰.۷۶ | ۸،۴۱۴.۳۱ | ۲.۷۲ | ۱.۴۹ |
| نور | ۱۲،۹۶۸.۶۴ | ۱۵،۰۲۵.۴۲ | ۴.۸۵ | ۱۵.۸۶ |
| ټولیزه | **۲۹۹،٥٦٦.٤١** | **۳۰۹،٥٥٥.۲٦** | | **۳.۳۳** |
| | | | | |
| پوراینې | | | | |
| امانتونه | ۲۵۷،۷۷۰.۷۰ | ۲۶۵،۸۱۷.۹۳ | ۹۷.۰۳ | ۳.۱۲ |
| پور اخیستنې | ۲،۹۰۷.۳۹ | ۳،۳۱۲.۷۶ | ۱.۲۱ | ۱۳.۹۴ |
| نور | ۴،۵۹۶.۶۹ | ۴،۸۱۹.۲۸ | ۱.۷۶ | ۴.۸۴ |
| ټولیزه | ۲۶۵،۲۷۴.۷۸ | ۲۷۳.۹۴۹.۹۷ | | ۳.۲۷ |
| مالي پانګه | ۳۴،۲۹۱.۶۳ | ۳۵،۶۰۵.۲۹ | | ۳.۸۳ |

### ۱.۱.۶ ناخالصه پورونه

د بانکي نظام ناخالصه پورونو پورتوفولیو د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې تر پایه پورې ۴۴.۰۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د یوې ربعې په تیریدو سره ۲.۰۷ میلیونه افغانۍ یا ۴.۹۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۴.۲۲ سلنه او د ناخالصو کورنیو تولیداتو ۳.۰۶ سلنه جوړوي. د ټولیزه ناخالصه پورونو د زیاتیدو اصلي لاملونه د نویو پورونو ورکړه، د اضافه برداشت پورونو زیاته کارونه او د امریکایي ډالرو د نرخ لوړوالی ګڼل کیږي.

۲.۶ ګراف: د بانکي د ناخالصه پورونو د پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د پور په پورتوفولیو کې زیاتوالی په شپږو بانکونو پورې تړاو لري، په داسې حال کې چې پنځو بانکونو د خپل پور په پورتوفولیو کې کموالی او پاتې دریو بانکونو په پور ورکړه کې ونډه اخیستې نه ده.

د بانکي ډلو ترمنځ جلا شننه ښکاره کوي چې خصوصي بانکونو د ارزونې لاندې مودې په تیریدو سره په ټولیزه پورتوفولیو کې د ۸۷.۲۳ سلنه ونډې په لرلو سره ۳.۶ سلنه زیاتوالی او دولتي بانکونو د بانکي نظام په پورتوفولیو کې د ۱۱.۶۷ سلنې ونډې په درلودلو سره ۱۶.۸۰ سلنه زیاتوالی ثبت کړی، حال دا چې د بهرنیو بانکونو نمایندګیو د ۱.۰۹ سلنې ونډې په لرلو سره ۶.۹۵ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

- **د پور د زیان زېرمې**

د اعتباري خطر د کچې د ارزولو پر مهال، بانکونه باید د خطر د کمولو د اړاوني له مخې د اعتباري خطر د کمولو ابزارونو ته پاملرنه وکړي. بانکونه اړ دي چې د دواړو عمومي زېرمو (معیاري شتمنیو) او د ځانګړې تدارکاتو (غیر معیاري شتمنیو) د چمتو کولو له لارې خپل اعتباري خطرونه راکم کړي. د شتمنیو د ډلبندۍ د نوې مقررې له مخې، د معیاري پورونو په برخه کې د زېرمو جوړول اختیاري ګڼل کیږي.

د ۲۰۱۹ کال د جون میاشتې په پای کې د ټولیزه ناخالصه پورونو ټولیزه تأمین شوې ونډه ۱۰.۹۳ سلنې ته رسیږي، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۹ کال د مارچ په پای کې دا ونډه ۱۰.۷۳ سلنې ته رسیده.

- **د کریډټ وېشنه**

په بیلابیلو سکتورونو کې د ناخالصه پورونو ویش او شننه ښکاره کوي چې ځینې سکتورونه زیات پورونه ترلاسه کوي او د ځینو نورو په پورونو کې کموالی راغلی دی. د پام وړ موضوع دا ده چې د سوداګرۍ سکتور ته پورونه د تېرې دورې له ۴۳.۹۵ سلنې څخه ۴۴.۴۲ سلنې ته زیات شوي، په تېره بیا د خوراکي توکو ونډه له ۶.۰۰ سلنې څخه ۸.۶۲ سلنې ته لوړه شوې؛ په دې لړ کې په نورو بنسټیزو سکتورونو کې د خدمتونو سکتور (له ۲۰.۸۱ سلنې څخه ۲۰.۴۳ سلنې)، په تېره بیا د مخابراتو/مصرفي کارتونو د ویشوونکي سکتور (۶.۶۰ سلنه)، د ماشیني تولیداتو او صنعت سکتور (له ۱۱.۲۴ سلنې څخه ۱۱.۸۹ سلنې)، بیخ بنسټیزو پروژو سکتور (له

۸.۷۲ سلنې څخه ۸.۹۲ سلنې )، د سوداګریز ودانیو او د رغاونې سکتور (له ۸.۵۲ سلنې څخه ۸.۴۵ سلنې)، د کرنې، مالدارۍ او کروندو سکتور (له ۴.۶۳ سلنې څخه ۳.۸۲ سلنې) او مصرفی سکتور (له ۲.۱۳ سلنې څخه ۲.۱۷ سلنې) ته رسیږي. په ټولو مهمو سکتورونو د بېلګې په توګه د سوداګرۍ، ماشیني تولیداتو او صنعت، سوداګریزو ملکیتونو او رغاونې، بیخ بنسټیزو پروژو او خدمتونو په سکتورونو کې زیاتوالی راغلی دی، خو د کرنې، مالدارۍ او کروندې سکتور بیا ټیټوالی تجربه کړی دی.

د وړو، کوچنیو او منځنیو سکتورونو لپاره ځانګړي شوي پورونه راکم شوي دي چې د بانکي نظام چې د لسو بانکونو لخوا وړاندې کیږي. څو اقتصادي سکتورونو ته د پورونو په ځانګړي کولو سره بانکونه د ځانګړي سکتور د کړکیچن کېدو په صورت کې د هغه له اعتباري خطر سره مخ کیږي چې دا کار پر سکتورونو باندې ناوړه اغېزه کوي. له همدې امله بانکونه باید د صعب الحصول پورونو د لوړ نسبت په پام کې نیولو سره د مهمو سکتورونو اړوند خطرونه له نږدې وڅاري.


شاوخوا ۷۱ سلنه پورونه د کابل لپاره ځانګړي شوي، حال دا چې د بلخ او هرات ولایتونه په ترتیب سره په دویمه او دریمه درجه او ورپسې بادغیس او قندهار ولایتونه په څلورمه او پنځمه درجه کې راغلي دي. په نورو ولایتونو کې د پورونو تخصیص (تناسب) ډېر لږ دی. د بانکي نظام د پورونو په جغرافیایي، سکتوري او اداري وېش کې لازمه تنوع راغلې نه ده، خو تمه کیږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو وېش متنوع شي. دا به ښه وي چې ټول بانکونه په پور ورکولو کې فعاله ونډه واخلي او د پور ورکولو خدمتونه متنوع او په مالي نظام کې خپل رول په ښه توګه ترسره کړي.

## ۲.۶ جدول: د سکتور پر بنسټ د سوداګریزو بانکونو د پورونو وېش، د ۱۳۹۳ مالي کال څخه د ۱۳۹۸ مالي کال تر دویمې ربعې پورې

| | د ۱۳۹۳ لیندۍ ډیسمبر ۲۰۱۴) | د ۱۳۹۴ لیندۍ (د ۲۰۱۵ ډیسمبر) | د ۱۳۹۵ لیندۍ (د ۲۰۱۶ ډیسمبر) | د ۱۳۹۶ لیندۍ (د ۲۰۱۷ ډیسمبر) | د ۱۳۹۷ لیندۍ (د ۲۰۱۸ ډیسمبر) | د ۱۳۹۸ غبرګولیا (د ۲۰۱۹ جون) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| سوداګریز ملکیتونه او رغاونه | | | | | | |
| رغونه او ودانۍ | ١٤.٣٢٪ | ٩.٤٤٪ | ١١.١٢٪ | ٨.٧٠٪ | ٩.٠٣٪ | ٨.٤٥٪ |
| بېخبنسټیزې پروژې | | | | | | |
| برېښنا | ٠.٣٥٪ | ٠.٢٢٪ | ٠.٣٨ | ٠.٤٠٪ | ٠.٤٨٪ | ٠.٠٩٪ |
| سړکونو او ریل پټلۍ | ٢.٤١٪ | ١.١٧٪ | ٠.٦٤٪ | ١.٣٢٪ | ٢.١٨٪ | ٢.٥٤٪ |
| بندونه | ٠.٦١٪ | ٠.٠٩٪ | ٠.٠٤ | ٠.٠٠٪ | ٠.٣٦٪ | ٠.٣٦٪ |
| کانونه | ٠.٠٨٪ | ١.٤٨٪ | ٠.٥٢ | ٠.٤٨٪ | ٠.٥٢ | ٠.٤٩٪ |
| نورې بېخبنسټیزې پروژې | ١.٨١٪ | ٢.٤٤٪ | ٢.٤٤٪ | ٣.٤٦٪ | ٣.٢٨٪ | ٥.٣٤٪ |
| ماشیني تولیدات او صنعت | | | | | | |
| د فلزونو، لرګیو، پلاستیک، ربړ، څرمنو او کاغذونو تولیدات او توکي | ٢.٤٧٧٪ | ٤.٤٢٣٪ | ٣.٤٦٩٪ | ٢.٦٧١٪ | ٤.١٠٪ | ٣.٧٦٪ |
| تولیدات، لاسي او ماشیني تولیدات | ٤.١٨٧٪ | ٤.٢٣٩٪ | ٣.٧٤٣٪ | ٣.١٦٤٪ | ٣.٦٧٪ | ٤.٠٢٪ |
| سمنټ او ودانیز مواد | ٢.٨٦٤٪ | ١.٩٦٢٪ | ١.٢٧٤٪ | ٣.٥٢٠٪ | ٤.٤٢٪ | ٤.١١٪ |
| سوداګري | | | | | | |
| منسوجات (نساجي) | ٢.٥٩٪ | ٠.٥٢ | ٠.٧٢٪ | ١.٥٤٪ | ٢.٢١٪ | ١.٩٨٪ |
| عمده پلورنه | ٤.٩٣٪ | ٩.٨٩٪ | ٤.٣٤٪ | ٤.٦٧٪ | ٣.٦٢٪ | ٤.١٧٪ |
| ماشینونه | ٠.١٢٪ | ٠.٢٥٪ | ٠.١٣٪ | ٠.٠٩٪ | ٠.٤١٪ | ٠.٣٩٪ |
| پټرولیم او روغنیات | ٨.٧٤٪ | ٩.٨٠٪ | ١١.٠٨٪ | ١٠.٧٨٪ | ١١.٤٨٪ | ١١.٩٪ |
| پرزه جات | ٠.٢٤٪ | ١.٤٢٪ | ٠.٢٦٪ | ١.٣٩ | ١.٧٨٪ | ١.٧٦٪ |
| الکترونیکي وسایل | ١.٤٠٪ | ١.٥٨٪ | ١.٩١٪ | ٢.٧٦٪ | ٣.٢١٪ | ٢.٦٧٪ |
| سمنټ اور نور ودانیز مواد | ١.٨٧٪ | ٢.٧٣٪ | ٢.٣٥٪ | ٢.٥٧٪ | ٥.١٤٪ | ٣.٠١٪ |
| خوراکي توکي | ٤.٥٢٪ | ٨.٢٤٪ | ٧.٨٠٪ | ٧.٢٧٪ | ٦.٤٤٪ | ٨.٦٢٪ |
| نور ټول توکي | ٥.٧٢٪ | ٣.٤٧٪ | ٤.١٧٪ | ٣.٢٨٪ | ٧.٩٢٪ | ٦.٩١٪ |
| پرچونه سوداګري | ٣.٩٢٪ | ٣.٢٨٪ | ٧.٣١٪ | ٨.١٥٪ | ٣.١٣٪ | ٣.٠١٪ |
| خدمتونه | | | | | | |
| زده کړه | ٠.٠٠٪ | ٠.٠٠٪ | ٠.٠٠٪ | ٠.٠٠٪ | ٠.٠٣٪ | ٠.٠٣٪ |
| هوټلونه او ریسټورانټونه | ١.٢٠٪ | ١.٤٦٪ | ١.٣٣٪ | ٢.٠٤٪ | ٢.١٦٪ | ٢.٤٩٪ |
| مخابرات/د مصرفي کارتونو ویشوونکي | ٢.٩٢٪ | ٥.٧٠٪ | ٥.٩٦٪ | ٥.٥٢٪ | ٥.٩٨٪ | ٦.٦٠٪ |
| ځمکنی ټرانسپورټ | ٤.٨٧٪ | ٥.٣١٪ | ٤.٨٦٪ | ١.٨٦٪ | ٣.٠٨٪ | ٣.٣٩٪ |
| هوایي ټرانسپورټ | ٤.١٨٪ | ٢.٦٦٪ | ٢.٣٥٪ | ٢.٩٠٪ | ١.٢١٪ | ١.٦٠٪ |
| روغتیا | ٠.٧١٪ | ١.١٦٪ | ١.٤٢٪ | ١.٧٣٪ | ١.٧٤٪ | ١.٤٩٪ |
| رسنۍ، اعلانونه او چاپ | ٠.٠٤ | ٠.٠٤ | ٠.٠٥٪ | ١.١٨٪ | ١.٢٨٪ | ١.١٩٪ |
| نور ټول خدمتونه | ٦.١٩٪ | ١١.٣٦٪ | ١٣.٢٢٪ | ١٢.٢٦٪ | ٥.٠٧٪ | ٣.٦٤٪ |
| مالداري او کرونده | | | | | | |
| مالداري او کرونده | ٠.٠٤٣٪ | ٠.٠٢٦٪ | ٠.٠٥٩٪ | ٠.٢٢٥٪ | ٠.٣٠٪ | ٠.٣٣٪ |
| کرنیز پورونه | ٢.٦١٪ | ٢.٦٧٪ | ٣.٢٠٪ | ٣.٩٤٪ | ٣.٨٦٪ | ٣.٤٩٪ |
| مصرفي پورونه | ٠.٢٦٪ | ٠.٣٠٪ | ٠.٦٥٪ | ٠.٨٦٪ | ١.٩٠٪ | ٢.١٧٪ |
| اشخاصو ته د استوګنې رهني پورونه | ٧.١٤٪ | ٢.٦٨٪ | ٢.٧٨٪ | ٠.٧١٪ | ٠.٠٠٪ | ٠.٠٠٪ |
| نور ټول پورونه | ٦.٦٨٪ | ٠.٠٠٪ | ٠.٤٣٪ | ٠.٥٧٪ | ٠.٠٠٪ | ٠.٠٠٪ |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۳.۶ ګراف: په ټولیزه ناخالصه پورونو کې د ورو، کوچنیو او منځنیو پورونو ونډه، د ۱۳۹۸ (۲۰۱۹) مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۲.۶ د پورونو ډله بندي


### ۱.۲.۶ صعب الحصول پورونه[۳]

بانکونه باید د خپل اعتباري خطر مدیریتي تدبیرونه پیاوړي کړي څو د صعب الحصول پورونو لوړه کچه چې مطلوبه نه ګڼل کیږي، راکمه کړي. سربېره پر دې، داسې انګیرل کېږي هغه بانکونه چې د پور ورکولو په برخه کې کمزوره کړنې لري، د خطر مدیریت یې بې اغېزې دی.

پکاره ده چې د پور په برخه کې لږ کیفیت لرونکي بانکونه د پور لپاره غوښتنلیکونه په کره توګه وارزوي، له ټولو نافذه قوانینو، مقررو، متحدالمالونو، داخلي پالیسیو او کړنلارو سره سم عمل وکړي او د پور اخیستونکو مالي وضعیت له نږدې وڅاري څو ډاډمن شي چې د نورو پورونو ورکړه د مالي نظام د ثبات لپاره کوم خطر نه متوجه کوي.

په پولي ارزښت له پلوه، د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې د بانکي نظام په ټولیزه ناخالصه پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه ۵.۶۳ میلیارده افغانۍ یا ۱۲.۸۰ سلنې ته رسیږي چې د بانکي نظام د مقرراتي پانګې ۱۷.۹۱ سلنه جوړوي د پورونو د زیانمنه کېدو له امله ۱.۰۵ میلیارده افغانۍ زیاتوالی موندلی دی. له ۱۲.۸۰ سلنه صعب الحصول پورونو څخه ۱۰.۳۰ سلنه یې د درېو خصوصي بانکونو پورې تړاو لري چې د بانکي نظام د ټولیز ناخالصه پورونو ۵۵.۹۷ سلنه او د مقرراتي پانګې ۲۵.۱۵ سلنه جوړوي.

**۴.۶ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمې ربعې په پای کې د پور د پورتوفولیو کیفیت**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

- **معکوس ډله بندي شوي پورونه[۴]**

معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه)۶ پورونه د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د ۱.۰۱ میلیارده افغانۍ کموالي په درلودلو سره ۷.۴۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۶.۸۸ سلنه او د مقرراتي پانګې ۲۳.۵۹ سلنه جوړوي چې د پور د کیفیت ټیټوالی یې اصلي لامل دی او له همدې امله د عامل پلاوي لخوا پیاوړې څارنې او اصلاحي اقداماتو ته اړتیا لري، څو د معکوسو ډله بندي شویو پورونو کچه مطلوب حد ته رابښکته کړي. سربېره پر دې، د هغو بانکونو چې د پور ورکړې کیفیت یې ټیټ دی، د ګډې اداري د پیاوړي کولو، د داخلي ابزارونو

۳. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، پاتې راغلي شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي یا د ټکټانې مبلغ یې د ۱۲۱ تر ۴۸۰ ورځو (مشکوکه او خساره) ورځو لپاره نا تصفیه شوی پاتې وي.

۴. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي مبلغ یا ټکټانه یې د ۶۱ تر ۱۲۰ ورځو پورې (تحت المعیار) ناتصفیه (ناترلاسه) شوې پاتې وي. پاتې راغلي شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي یا د ټکټانې مبلغ یې د ۱۲۱ تر ۴۸۰ ورځو (مشکوکه) ورځو لپاره نا تصفیه شوی پاتې وي. پاتې راغلي شتمنۍ چې اصلي یا د ټکټانې مبلغ یې د ۴۸۱ ورځو څخه زیات وي، په خساره کټګورۍ کې پاتې کیږي.

د اغېزناکتیا زیاتولو او د داخلي او غیر سیستماتیک خطر پر ښه مدیریت باندې ډېر ټینګار وشي. د بانک مدیریت باید مناسبه تدبیرونه تر لاس لاندې ونیسي، څو په هغو مسایلو او کمزورتیاوو باندې غور وکړي چې د احتیاطي مقررو له مخې د پور د کمیدو لامل کیږي.

که څه هم سیستماتیک خطر او اقتصادي رکود به له اصولي پلوه د بانکونو د مهمو شتمنیو کیفیت کمزوری کړي، خو د بانک عامل پلاوی باید داسې میکانیزمونه طرحه کړي چې د دا شان خطرونو وړاند وینه، د بالقوه خطرونو مخنیوی وکړي او د احتیاطي مقررو له مخې مناسبه احتیاطي تدبیرونه تر لاس لاندې ونیسي.

- **تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه**

تر نظر لاندې کټګورۍ[5] کې ډله بندي شوي پورونه ۳.۷۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۸.۵۴ جوړوي او له تیرې ربعې راهیسې ۳۹.۸۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی د بانکي نظام یوه بانک پورې تړاو لري چې د پورونو د بیاځلي ډله بندۍ په پایله کې رامنځ ته شوی دی. د پورونو دا کټګوري دقیقې څارنې او څېړنې ته اړتیا لري، ځکه هغه پورونه چې تر نظر لاندې کټګورۍ کې راغلي، زیات احتمال شته چې معکوسه ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه) پورونو ته واوړي او په راتلونکي کې د زیان په کټګورۍ کې وشمېرل شي.

- **په خساره کټګورۍ کې پورونه[6]**

په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۷.۷۳ میلیونه افغانۍ یا ۰.۰۲ سلنه جوړوي او د بانکي نظام یو بانک پورې اړه لري.

**۲.۱.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات**

د بانکونو تر منځ ناخالصه طلبات د شتمنیو د بېلابېلو کټګوریو په منځ کې دویم ځای لري. اوس مهال د بانکونو ترمنځ طلبات د بانکي نظام د ټولیزه شتمنو ۹۴.۷۸ میلیارده افغانۍ یا ۳۰.۶۲ سلنه جوړوي. د بانکونو ترمنځ ناخالصه طلبات د تیرې ربعې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۴.۹۵ میلیارده افغانۍ یا ۵.۵۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی په څلورو بانکونو پورې اړه لري او عمده لامل یې د مبادلې نرخ نوسانات دي. دا بهیر ښکاره کوي چې بانکي نظام په بانکونو باندې د طلباتو یوه برخه د پورونو او د پور د پانګو د پانګونې په توګه د ټکتانې څخه ترلاسه شویو شتمنیو ته لیږدولې ده.

له بلې خوا د بانکونو ترمنځ د طلباتو د حساب په کمیدو سره بانکونه نه باید یوازې د یو انفرادي بانک اړوند خطرونه وارزوي، بلکې په کوم هېواد یا هېوادونو کې چې د دوي مالي وجوه ایښې وي، هم وڅاري. د لا وضاحت لپاره ۴.۶ جدول ته مراجعه وکړئ.

**۳.۱.۶ پانګه اچونه[7]**

د بانکي نظام د خالصې پانګې پورتوفولیو، په اړوندو کمپنیو کې پور پاڼې، دولتي بیه لرونکي پاڼې او پانګه اچونه رانغاړي. د بانکي نظام د پانګې کچه د ۲۰۱۹ زیږدیز کال د لومړۍ ربعې راهیسې ۶.۴۸ سلنه یا ۱.۷۳ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې د ټولیزه شتمنیو ۲۸.۴۵ میلیارده افغانۍ یا ۹.۱۹ سلنه جوړوي او دا ډېروالی یوازې یو بانک پورې اړه لري. د بانکي نظام د پانګونې ستره برخه له هېواده بهر ترسره شوې ده. د پانګونې په پورتوفولیو کې دا زیاتوالی په دوو دولتي بانکونو، پنځو سوداګریزو بانکونو او د دوو بهرنیو بانکونو نمایندګیو

۵. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي یا ټکتانې مبلغ یې د ۳۱ تر ۶۰ ورځو پورې (د نظر لاندې) ناتصفیه شوی پاتې وي.

۶ د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنۍ چې د اصلي یا ټکتانې مبلغ اداینه یې ۴۸۰ او یا ډېرو ورځو لپاره نا ادا شوې پاتې وي او د بانکونو د ثبت په کتابونو کې د یوه کال لپاره پاتې شي، له یو کال تیریدو وروسته تصفیه کیږي.


۷ په پانګه اچونو کې د تړلو کمپنیو او فرعي څانګو کې د پورپاڼو او بیه لرونکو پاڼو په برخو کې پانګه اچونه شامل دي.

پوري اړه لري.

### ۴.۱.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات

په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات د ټولیزه شتمنیو تر ټولو لویه کټګوري ده چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۳۹.۳۷ سلنه جوړوي او تیرې ربعې راپدېخوا د ټولیزې شتمنۍ د دواړه مطلق شمېرې او همدا ډول سلنې له پلوه ۷۶۲ میلیارده افغانۍ کموالی ښکاره کوي او ارزښت یې د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۱۲۱.۸۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. د دې کموالي اصلي لامل د پانګه ایزو پاڼو، په خزانه کې نغدو پیسو او د افغانستان بانک سره د اړونده حسابونو کموالی ګڼل کیږي. بانکي نظام په بشپړه توګه د اجباري زېرمې له مقررو سره په تطابق کې دی او په محتاط او ورو ډول راجلب شوې پیسې د شتمنیو په نورو ډولونو کې ځای پر ځای کوي.

**۵.۶ ګراف: د بانکونو ترمنځ طلباتو کې د بانکي ډلو ونډه، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړی او دویمه ربعه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۲.۶ پورراینې

د بانکي نظام ټولیزه پورراینې د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربعه کې ۲۷۳.۹۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۲۶۵.۲۷ میلیارده افغانۍ په پرتله ۸.۶۷ میلیارده افغانۍ یا ۳.۲۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ارزونې لاندې موده کې د ټولیزه پورراینې ټولو برخو زیاتوالی تجربه کړی دی. د پوراینو تر ټولو ډېره برخه امانتونه (۹۷.۰۳ سلنه) جوړوي چې نورې پوراینې په دویم او پور اخیستنې په دریم ځای کې راځي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۱.۶ جدول ته مراجعه وکړئ.

**۶.۶ ګراف: په پوراینو د بانکي ډلو ونډه، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړی او دویمه ربعه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۱.۲.۶ امانتونه

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه ګڼل کیږي او د بانکونو ترمنځ امانتونو او د مشتریانو له امانتونو څخه جوړ شوي، د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۲۶۵.۸۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۸.۰۴ میلیارده افغانۍ یا ۳.۱۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام ټولیزه امانتونه ۶.۶۸ میلیارده د بانکونو ترمنځ امانتونه او ۲۵۹.۱۳ میلیارده د مشتریانو امانتونه رانغاړي. د بانکي نظام په امانتونو کې د زیاتوالي اصلي لامل د مبادلې نرخ نوسانات ګڼل کیږي.

د اسعارو ښنه ښکاره کوي چې په افغانۍ اینبودل شوي امانتونه د ۲.۹۲ سلنې کموالي په درلودلو سره د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۲۷.۰۴ سلنه جوړوي، حال دا چې په امریکایي ډالرو اینبودل شوي امانتونه د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د ۵.۸۴ سلنې زیاتوالي په درلودلو سره ۶۶.۳۱ سلنې ته رسیږي چې


ستر لامل یې د مبادلې نرخ نوسانات په ګوته شوي دي.

د خصوصي بانکونو ټولیزه امانتونه د ۴.۱۸ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۱۸۱.۱۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي او د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۶۸.۱۵ سلنه جوړوي. د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د دولتي بانکونو ونډه ۷۱.۱۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په پرتله ۱.۰۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۲۷.۱۳ سلنه جوړوي.

د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډه ۱۲.۵۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله د ۰.۴۲ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۴.۷۲ سلنه جوړوي.

د امانتونو د ډولونو له پلوه، جاري امانتونه د ۲.۷۳ سلنې زیاتوالي سره د ټولیزه امانتونو ۷۱.۸۶ سلنه جوړوي، همدا ډول معیادي امانتونه د ۵.۴۲ سلنې زیاتوالي سره د ټولیزه امانتونو ۸.۴۸ سلنه جوړوي او په دویم ځای کې راځي او د سپما امانتونه د ۳.۵۹ سلنې زیاتوالي سره د ټولیزه امانتونو ۱۹.۶۶ سلنه جوړوي.


**۷.۶ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ او دویمه ربعه کې په افغانۍ امانتونه**




## ۲.۲.۶ پور اخیستنې


د بانکي نظام د تمویل په ټولیزه جوړښت کې د پور اخیستنې ونډه د ۱۳.۹۴ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۳.۳۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه پورواینو ۱.۲۱ سلنه جوړوي. د یادونې وړ ده چې د پور اخیستنې اوسنی حالت د بانکي نظام څلورو بانکونو پورې اړه لري.

**۸.۶ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ او دویمه ربعه کې د امانتونو اسعاري ترکیب**





سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۹.۶ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ او دویمه ربعه کې د بانکي ډلو د امانتونو ونډه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۱۰.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۳.۶ نقدینه ګی (سیالیت)

د نقدینه ګی خطر کولای شو د پور اخیستونکو او امانت ایښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سیالو شتمنیو نه درلودل تعریف کړو. ټول بانکونه اړ دي څو له نقدینه ګی څخه د رامنځته شویو ستونزو د مخنیوی لپاره سیالیت په مطلوب حد کې وساتي.

له همدې کبله، بانکونه باید د شتمنیو یوه مسؤوله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دنده د بانک د سیاستونو په پام کې نیولو سره د نیمګړتیاوو د تحلیل او تجزیې له لارې د بانک د نقدینه ګی، د حساسیت د آزمایښت، د سناریو د شننې، د نغدي جریان د شننې او د داسې نورو له مدیریت څخه عبارت دي.

۳.۶ جدول: د سلنې پر بنسټ د نقدینه ګی د نسبتونو پرتلنې، له ۱۳۹۳ مالي کال څخه د ۱۳۹۸ مالي کال تر دویمې ربعې پورې

| | د ۲۰۱۴ دسمبر | د ۲۰۱۵ دسمبر | د ۲۰۱۶ دسمبر | د ۲۰۱۷ دسمبر | د ۲۰۱۸ دسمبر | د ۲۰۱۹ دسمبر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | نسبت (په سلنه) | | | | | |
| د پانګې د کفایت نسبت | ۲۶.۴۶ | ۱۹.۹۴ | ۲۷.۶۸ | ۲۹.۸۱ | ۲۵.۹۱ | ۲۶.۵۵ |
| په ۱ ردیف کې د پانګې د کفایت نسبت | ۲۶.۰۹ | ۱۹.۶۶ | ۲۲.۹۳ | ۲۸.۱۷ | ۲۴.۵۶ | ۲۶.۱۲ |
| په ټولیزه ناخالص پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه | ۸.۰۹ | ۱۲.۳۴ | ۱۲.۶۷ | ۱۲.۴۲ | ۸.۹۹ | ۱۲.۸۰ |
| له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه(ROA) | ۰.۹۰ | ۰.۲۰ | ۰.۱۱ | ۰.۶۴ | ۰.۸۱ | ۰.۷۷ |
| د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه(ROE) | ۷.۳۵ | ۱.۶۹ | ۱.۰۸ | ۳.۳۸ | ۶.۹۱ | ۶.۷۸ |
| د سیالیت نسبت ( پراخه منځنۍ کچه ) | ۷۳.۶ | ۶۸.۲۲ | ۶۷.۷۴ | ۶۵.۹۲ | ۷۶.۶۲ | ۷۴.۰۰ |
| په ټولیزه شتمنیو کې د سیالو شتمنۍ ونډه | ۷۳.۲۸ | ۷۵.۰۵ | ۷۱.۹۸ | ۷۳.۹۵ | ۷۲.۸۸ | ۶۹.۹۹ |

* له شتمنۍ او له پانګې (اکویټی) ترلاسه شوې ګټه، د ۲۰۱۹ کال جون میاشت، د درې میاشتنې شمېرو پر بنسټ

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

### ۱.۳.۶ د سیالیت نسبت (پراخه کچه)

بانکونه اړ دي چې د نغدي (سیالو) شتمنیو نسبت له ۱۵ سلنې ټیټ ونه ساتي. دا کار د سیالیت د کمیدو د مخنیوی لپاره ښه لاره ګڼل کیږي.

د بانکي سکتور د نقدینه ګی کچه په ټولیزه توګه په دې دوره کې زیاته شوې ده چې د ټولیزه شتمنیو ۶۹.۹۹ سلنه سیالې شتمنۍ جوړوي. په منځنۍ ډول د ټول بانکي نظام د سیالیت کچه ۷۴.۰۰ سلنې ته رسیږي. حال دا چې د ټولو بانکونو د سیالیت نسبت له ټاکلي حد څخه لوړ دی. ( د زیاتو معلوماتو لپاره د ۳.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).

## ۴.۶ پانګه

بانکي نظام کافي پانګه لري، د بانکي نظام پانګه ۳۵.۶۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۳.۸۳ سلنه یا ۱.۳۱ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د مالي پانګې د زیاتوالي عمده لامل نغدي جریان او ګټورتیا ښودل شوې ده.

په ټولیزه توګه، د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت ۲۶.۵۵ سلنې ته رسیږي. ( د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۳.۶ جدول وګورئ).

جلا شننه ښکاره کوي چې د ټولو بانکونو د مالي پانګې حد لوړ ټاکل شوی، او د ټولو بانکونو مقرراتي پانګه هم له ټاکلي حد څخه پورته شوی دی. همدا ډول د بانکونو د پانګې د کفایت نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي حد (د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی. د بازل معیار د پانګې او د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ لپاره په سلو کې ۸ دی.

**۵.۶ ګټورتيا (نافعيت)**


د ارزونې لاندې ربعه کې لوړې ټکټانې، د غير ټکټانې لوړ عوايد، لږ ځانګړي شوي پورونو او مالياتو د بانکي سکتور د خالصه عايد کچه لوړه کړې ده. بانکي نظام د ۱۳۹۸ مالي کال د دويمې ربعې په اوږدو کې په ټوليزه توګه 1.17 ميلیارده افغانۍ خالصه ګټه کړې ده. دا زياتوالی د نويو مبلغونو په تعيينولو، د نويو پورونو په ورکولو او د خالصې ټکټانې د عوايدو د زياتولو لپاره په پور پانو کې پانګې اچونې، د حذف شويو پورونو څخه ترلاسه شوي مبلغونو، د دولتي پورپاڼو د فيسونو او کميشنونو او د دولتي مامورينو د معاشاتو د ښه کېدو له امله رامنځ ته شوی، په داسې حال کې چې د لاسه تللي پورونو بيرته ترلاسه کولو د پورونو په څه نا څه تخصيصولو کې مرسته کړې ده. همدارنګه، په ياده ربعه کې عملياتي لګښتونه زيات شوي دي.

له شتمنيو څخه ترلاسه شوې ګټه (ROA) دا په ګوته کوي چې يو بانک د ښه مديريت په پايله کې له هرې شتمنۍ څخه څومره ګټه تر لاسه کړې ده. د بانکي سکتور د زياتېدونکي خالصه عايد پرمهال له شتمنۍ او له پانګې ترلاسه شوې ګټه ښه شوې ده. د بانکي نظام له شتمنيو څخه تر لاسه شوې ګټه ۰.۷۷ سلنې ته رسيږي، حال دا چې له پانګې څخه تر لاسه شوې ګټه چې په بانک کې د پانګه اچول شوې اکويټۍ د ونډه لرونکو ونډه په ګوته کوي، د ۱۳۹۸ مالي کال د دويمې ربعې په پای کې ۶.۷۸ سلنه ثبت شوې ده. همدا ډول په دې ربعه کې د دولتي بانکونو۶ له شتمنيو څخه تر لاسه شوې ګټه ۰.۹۳ سلنه، د بهرنيو بانکونو د نمايندګيو ۷ له شتمنيو څخه تر لاسه شوې ګټه ۱.۱۶ سلنه، حال دا چې د خصوصي بانکونو ۸ له شتمنيو څخه تر لاسه شوې ګټه ۰.۶۷ سلنه ثبت شوې ده. د ارزونې لاندې ربعه کې ټولو بانکونو ګټه کړې ده، په داسې حال کې چې د اصلي عايد په برخه کې بيا د تېرې ربعې د اووه بانکونو په پرتله په دې دوره کې اتو بانکونو زيان کړی دی.

د بانکي سکتور د ډلبندۍ پر بنسټ شننه ښکاره کوي چې دولتي بانکونو او د بهرنيو بانکونو نمايندګيو د ارزونې لاندې موده له ګټې سره پای ته رسولې ده، حال دا چې خصوصي بانکونو په دې موده کې زيان کړی دی. (د زياتو معلوماتو لپاره ۱۰.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).


د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د بانکی نظام د ګټورتيا تر ټولو ستره برخه خصوصي بانکونه جوړوي چې ارزښت يې ۶۸۱ ميليونه افغانۍ ته رسيږي او ورپسې دولتي بانکونه د ۴۰۰ ميليونه افغانۍ سره په دويم ځای کې راځي، په داسې حال کې چې د بهرنيو بانکونو د نمايندګيو ګټه ۹۸ ميليونو افغانيو ته رسيږي.

**۱۱.۶ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړۍ او دويمه ربعه کې د بانکي سکتور ګټورتيا**





سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت، د افغانستان بانک

**۱۲.۶ ګراف: د بانکي نظام له پانګې او شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټې**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۱۳.۶ ګراف: نهایي خالصه ټکټانه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۴.۶ جدول: د ګټې او زیان جدول، د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه**

| د ګټې/زیان جدول | | | |
|---|---|---|---|
| اقلام | د ۱۳۹۷ کب<br>د ۲۰۱۹ مارچ | د ۱۳۹۸ جوزا<br>د ۲۰۱۹ جون | د بدلون سلنه |
| د ټکټانې عاید | ۱,۸۲۳.۸۱ | ۲,۰۳۳.۰۷ | ۱۱.۴۷ |
| د ټکټانې لګښت | ۲۷۸.۸۹ | ۳۱۱.۱۸ | ۱۱.۵۷ |
| د ټکټانې خالص عاید | ۱,۵۴۴.۹۲ | ۱,۷۲۱.۸۹ | ۱۱.۴۵ |
| د غیر ټکټانې عاید | ۱,۷۱۶.۰۲ | ۲,۴۷۲.۷۳ | ۴۴.۰۹ |
| د غیر ټکټانې لګښتونه | ۱,۴۴۷.۷۳ | ۱,۵۵۶.۳۰ | ۷.۵۰ |
| د معاشاتو لګښت | ۱,۰۶۲.۶۰ | ۱,۱۵۸.۰۵ | ۸.۹۸ |
| د پور تخصیصول | ۳۶۲.۹۳ | ۱۲۳.۷۲ | - ۶۵.۹۱ |
| د مالیې مخکې ګټه/زیان | ۳۸۷.۶۸ | ۱,۳۵۶.۵۵ | ۲۴۹.۹۱ |
| د مالیې وروسته ګټه/زیان | ۱۰۶.۶ | ۱,۱۷۹.۰۷ | ۱۰۰۶.۰۶ |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۶.۶ د اسعارو خطر

د اسعارو پرانیستی عمومي وضعیت د خطر کچه تر ډېره حده پورې د بانکونو لخوا په هغه محدوده کې په پام کې نیول شوې چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوې ده. بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د عمومي پرانیستي وضعیت لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې دي، پرته له څلورو بانکونو څخه چې د اسعارو د پرانیستي عمومي وضعیت او همدا ډول د اسعارو د انفرادي وضعیت (د امریکایي ډالرو او یورو اوړد مهاله وضعیت) له ټاکل شویو حدودو څخه سرغړونه کړې ده.

دا بانکونه باید خپل اسعاري وضعیت په ټاکلي محدوده کې عیار کړي، که نه نو د امریکایي ډالرو د ارزښت کموالی د بانکونو د لا زیان لامل کېدای شي.

د بانکي نظام په مقرراتي پانګې باندې د اسعارو په نرخ کې د بدلونونو اغیزه ښکاره کوي چې د اسعارو د ۲۰ سلنې مبادلوي ارزښت د لوړېدو سره د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۲.۳۸ میلیارده افغانۍ ډېریږي او د دې برعکس راکمیدلی شي. په ورته وخت کې ۴ سلنه بدلون ۴۷۷ میلیونو افغانیو په کچه بدلون راولي او کمېدل یې د دې بر عکس بدلون راوستلی شي.

### ۷.۶ د ګټانې د نرخ خطر

ټول بانکي نظام د ګټانې د نرخ د حساس وضعیت څخه برخمن دی. خو بیا هم د بانکونو د ګټانې نرخ د حساسیت د مهال وېش محاسبه ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ګټانې خالص عاید به په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې په بازار کې د ګټانې د ۰.۰۳ سلنې نرخ د زیاتوالي (د ګټانې د زیاتیدونکي نرخ شاک) له امله ۸۵۳ میلیونه افغانۍ ته زیات شي. برعکس، که چېرې د ګټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه ټیټوالی (د ګټانې د ټیټیدونکي نرخ شاک) وموږ له ګټانې څخه ترلاسه شوی عاید به ۸۵۳ میلیونه افغانۍ ټیټ شي. که چیرې د پنځو بانکونو د ګټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه زیات شي دا کار به د راتلونکو ۱۲ میاشتو په ترڅ کې د دې بانک د خالصې ګټانې عاید راکم کړي.

د بانکونو د شتمنیو د حساسیت په میزان باندې د فشار راوړلو عمده لامل د پوراینې د ګټانې د اداینې په نسبت د شتمنیو د ګټانې د اداینې زیاتوالی دی. که څه هم دا کار د بانکونو د خالصه ګټانې کچه او ګټه زیاتوي، خو په بازار کې د نرخونو د ناڅاپي کموالي له امله بانکونه ډېر زیانمنوي.

### ۸.۶ د اسلامي بانکدارۍ کړنې

اسلامي بانکداري له یوه بانک او شپږو دریځو څخه جوړ دی چې د ټول بانکي نظام په شتمنیو کې ۱۰.۶۸ سلنه، په نا خالصو پورونو کې ۲۷.۹۲ سلنه او په امانتونو کې ۱۰.۳۰ سلنه ونډې لري.

د اسلامي بانکدارۍ سکتور په یاده ربعه کې د خپلو عمده مالي شاخصونو په برخه کې مثبت بهیر درلودلی، لکه څنګه چې د هغه د ټولیزه شتمنیو له ودې څخه ښکاره کیږي چې زیاتره د امانتونو د لوړوالي له امله تمویل شوی دی. د اسلامي بانکدارۍ د شپږو څانګو له ډلې د څلورو څانګو کړنې منفي دي او د یو بشپړ اسلامي بانک د اکویټۍ پانګه په سالمه کچه کې پاتې شوې چې عمده لامل یې د ګټورتیا زیاتوالی او ترڅنګ یې کافي نغدي وضعیت ښودل شوی دی. دا په داسې حال کې ده چې ناخالصه مالي تمویل او پانګونې لوړېدونکی بهیر درلودلی چې اصلي لامل یې نوی مالي تمویل او پانګونې ښودل شوي دي.

د اسلامي بانکدارۍ ټولیزه شتمنۍ د ۱۳۹۸ مالي کال په

دویمه ربعه کې ۳۳.۰۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۳۱.۳۳ میلیارده افغانیو په پرتله ۵.۵۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د اسلامي بانکدارۍ د شتمنیو د زیاتوالي اصلي لامل د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې په خزانه کې د نغدي پیسو، پانګې اچونې او نورو ټولو شتمنیو زیاتوالی ښودل شوی دی.

ټولیزه ناخالصه مالي تمویل او د پانګونې پورتوفولیو د ارزونې لاندې ربعه کې ۱۲.۲۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې دورې په پرتله ۸.۵۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. دا زیاتوالی په عمده توګه د صکوکو نوي مالي تمویل او د مرابحې مالي تمویل پورې اړه لري چې په ورته وخت کې د مرابحې د مالي تمویل تسویه هم ترسره شوې ده.

له سلنې پلوه، د ټولیزه ناخالصه مالي تمویل او پانګونې پورتوفولیو په برخه کې د مرابحې تمویل ۱.۵۳ سلنه او د صکوکو تمویل ۷ سلنه جوړوي.

ټولیزه امانتونه چې د اسلامي بانکدارۍ بنسټیزه تمویلي سرچینه جوړوي، د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۲۷.۳۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ټولیزه امانتونو د ټیټیدو اصلي لامل د موده ایز او سپما امانتونو کې زیاتوالی دی چې د ټولیزه امانتونو ۶۵.۲۶ سلنه جوړوي. په ورته وخت کې د اسلامي بانکدارۍ موده ایز او د سپما امانتونه په ترتیب سره ټولیزه امانتونو ۲۵.۹۸ او ۳۹.۲۸ سلنه جوړوي.

له بلې خوا، د افغانۍ په وړاندې د امریکایي ډالر د ارزښت لوړوالی هم د دې سکتور د ټولیزه امانتونو د زیاتوالي لامل شوی دی. په داسې حال کې چې جاري امانتونه په دې ربعه کې ټیټیدونکی بهیر درلودلی، د اسلامي بانکدارۍ لپاره داسې فرعي قوانین نشته چې د مالي پانګې لپاره بیل حد او اندازه ولري. د یو بشپړ اسلامي بانک پانګه د مقرراتي حد څخه پورته ساتل شوې ده. د دې سکتور ټولیزه پانګه د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربعه کې ۱.۰۶ سلنه راټیټه شوې چې لامل یې خسارې ښودل شوي دي.

د اسلامي بانکدارۍ د څلورو دریځو له ډلې د څلور واړه دریځو مالي پانګه منفي ثابته شوې، په داسې حال کې چې د بشپړ اسلامي بانک د مقرراتي پانګې نسبت بیا د خطر په اساس د ۱۲ سلنه عیار شوي شتمنیو حد ته ډېر نږدې دی. اسلامي بانکدارۍ د تېر کال د ورته دورې د ۱۱۱.۳۵ میلیونه افغانۍ خالصې ګټې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په دوو لومړیو ربعو (د ۲۰۱۹ جون) کې ۲۵۹ میلیونه افغانۍ خالصه زیان کړی دی. دغه بدلون له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه او له پانګې ترلاسه شوې ګټه د تېر کال (۲۰۱۸ جون) د ۱ او ۶ سلنې په پرتله د ۲۰۱۹ کال په جون میاشت کې ۲.۱۰ سلنه او ۱۴.۲۶ سلنې ته رسولی دی. د اسلامي بانکدارۍ د دریځو د نقدینګۍ او اسعاري وضعیت د مرکزي بانک د ټاکلو معیارونو (۲۰ سلنه چټکه او ۱۵ سلنه د پراخه سیالیت نسبت او ± ۴۰ سلنه د عمومي اسعاري وضعیت او ± ۲۰ د انفرادي اسعاري وضعیت) او د عمومي او انفرادي اسعارو پر په اساس (د امریکایي ډالر اوږدمهاله وضعیت)، برابر دي. له بلې خوا، بشپړ اسلامي بانک د مرکزي بانک لخوا د دواړه اسعاري حدودو سره په ټکر کې قرار لري.

**۱.۸.۶ د اسلامي بانکدارۍ د برخې شتمنۍ**

د اسلامي بانکدارۍ ټولیزه شتمنۍ د ارزونې لاندې ربعې په مهال ۳۳.۰۸ میلیارده افغانۍ (۴۱۲.۴۰ میلیونه امریکایي ډالر) ته رسیږي چې د تیرې دورې (د ۲۰۱۸ مارچ) د ۹.۲۷ سلنې ټیټوالي په پرتله ۵.۵۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د اسلامي بانکدارۍ د ټولیزه شتمنیو د زیاتوالي اصلي لامل د امانتونو ډېروالی ښول شوی دی.


د ټولیزه شتمنیو ډله بندي ښکاره کوي چې په خزانه کې

نغدې پيسې، د پانګونې حساب او نورو ټولو شتمنيو کې زياتوالی ثبت کړی دی.

د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې د شتمنيو د زياتوالي په پام کې نيولو سره څرګنديږي چې د يو بشپړ اسلامي بانک د ودې نرخ تر ټولو لوړ ۸۱.۸۹ سلنه دی، د اسلامي بانکدارۍ په دريو دريځو کې د ودې کچه ۱۸.۱۰ سلنه ثبت شوې په داسې حال کې چې پاتې درې دريځو بيا د شتمنيو په برخه کې ټيټوالی تجربه کړی دی.

د اسلامي بانکدارۍ په ټوليزه شتمنۍ کې د يو بشپړ اسلامي بانک ونډه ۴۹ سلنه ثبت شوې، د دولتي بانکونو د اسلامي بانکدارۍ د دريځې ۲۸ سلنه او د خلورو خصوصي بانکونو د اسلامي بانکدارۍ دريځو بيا په ټوليزه شتمنۍ کې ۳۷ سلنه ونډه ثبت کړې ده. د ۲۰۱۸ کال د جون مياشتې څخه د ۲۰۱۹ کال تر جون مياشتې پورې د اسلامي بانکدارۍ د شتمنيو بهير په ۱۳.۶ ګراف کې ښودل شوی دی.

**۱۴.۶ ګراف: د اسلامي بانکوالۍ د شتمنيو بهير**




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت، د افغانستان بانک

**۵.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ د نظام شتمنۍ، د ۱۳۹۸ مالي کال دويمه ربعه**

| د اسلامي بانکدارۍ سکتور شتمنۍ، په معکوس ترتيب سره، د ۲۰۱۹ کال د جون مياشت | | | |
|---|---|---|---|
| پرله پسې شمېرې | د بانکونو نومونه | شتمنۍ (په ميليون افغانۍ) | د سکتور د ټوليزه شتمنيو د سلنې په توګه د انفرادي بانکونو حجم |
| ۱ | د افغانستان اسلامي بانک | ۱۶،۲۸۲.۸۸ | ۴۹.۲۱ |
| ۲ | د افغان يونايټډ بانک د اسلامي بانکدارۍ څانګه | ۴،۶۲۰.۳۱ | ۱۴.۹۶ |
| ۳ | د افغان ملي بانک د اسلامي بانکدارۍ څانګه | ۴،۵۵۴.۷۳ | ۱۳.۷۶ |
| ۴ | د غضنفر بانک د اسلامي بانکدارۍ څانګه | ۳،۱۹۷.۸۳ | ۹.۶۶ |
| ۵ | د ميوند بانک د اسلامي بانکدارۍ څانګه | ۳،۱۲۴.۹۴ | ۹.۴۴ |
| ۶ | د افغانستان د نړيوال بانک د اسلامي بانکدارۍ څانګه | ۱،۱۸۵.۵۸ | ۳.۵۸ |
| ۷ | د نوي کابل بانک د اسلامي بانکدارۍ څانګه | ۱۲۱.۰۴ | ۰.۳۶ |
| ټول | | ۳۳،۰۸۷.۳٤ | ۱۰۰.۰۰ |

سرچينه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمريت، د افغانستان بانک

د ۲۰۱۹ کال د دسمبر او جنورۍ میاشتې پرمهال د اسلامي بانکدارۍ شتمنیو کې نوسانات د مشتریانو په جاري امانتونو کې کموالي ښودل شوی دی. د اسلامي بانکدارۍ د شتمنیو پورتوفولیو اجزاوې په خزانه کې نغدې پیسې او د ټکټاپې پرته د افغانستان بانک باندې طلبات (۴۰.۳۵ سلنه)، د بانکونو ترمنځ طلبات (۱۵.۵۲ سلنه)، د مرابحې خالصه مالي تمویل (۱۶.۴۶ سلنه)، پانګه اچونه (د اجارې لپاره ترلاسه شوي صکوک او شتمنۍ)، ۱۷.۷۷ سلنه او نورې شتمنۍ د ټولیزه شتمنیو ۶.۹۶ سلنه جوړوي.

**جدول ۶.۶: د اسلامي بانکوالۍ د نظام ټولیزه شتمنۍ او پوراینې، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه**

| شرح | د ۱۳۹۸ کب<br>د ۲۰۱۹ مارچ | د ۱۳۹۸ غبرګولی<br>د ۲۰۱۹ جون | د ټولیزه شتمنیو/پوراینو سلنه | درې میاشتنۍ وده |
|---|---|---|---|---|
| شتمنۍ | مبلغ په میلیون افغانی | | | |
| په خزانه کې نغدې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات | ۱۲,۴۰۳ | ۱۳,۳۵۱ | ۴۰٪ | ۷.۶۵٪ |
| د بانکونو ترمنځ طلبات | ۵,۱۳۹.۸۷ | ۵,۱۳۶.۶۸ | ۱۵.۵۲٪ | -۰.۰۶٪ |
| د مرابحې مالي تمویل (خالصه) | ۵,۵۲۱.۵۶ | ۵,۴۴۹.۰۴ | ۱۶٪ | -۱٪ |
| پانګه اچونه (صکوک او نور) | ۵,۵۰۴.۴۷ | ۵,۸۸۰.۶۰ | ۱۸ | ۷٪ |
| نورې شتمنۍ | ۲,۱۲۴.۰۶ | ۲,۶۳۳.۸۸ | ۸٪ | ۲۴٪ |
| | ۶۴۵.۴۱۸ | ۶۳۶.۰۲۷ | ۲.۱٪ | -۲.۹٪ |
| **ټولیزه شتمنۍ** | **۳۱,۳۳۵.۵۶** | **۳۳,۰۸۷.۳۴** | | **۵.۵۹٪** |
| **پوراینې** | | | | |
| امانتونه | ۲۵,۸۳۲.۰۳ | ۲۷,۳۸۲.۷۳ | ۹۳٪ | ۶.٪ |
| نورې پوراینې | ۱,۷۶۲.۹۲ | ۱,۷۶۲.۹۲ | ۵٪ | ۲۱٪ |
| ټولیزه پوراینې | ۲۷,۴۹۸.۵۰ | ۲۹,۲۹۱.۱۰ | | ۷٪ |
| مالي پانګه | ۳,۸۳۷.۰۵ | ۳,۷۹۶.۲۴ | | -۱.۰۶٪ |
| **ټولیزه پوراینې + پانګه** | **۳۱,۳۳۵.۵۵** | **۳۳,۰۸۷.۳۴** | | **۵.۵۹٪** |
| | | | | |

سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

- **د مرابحې نګه (ناخالصه) مالي تمویل او پانګه اچونه (صکوک)**

د ۱۳۹۸ په غبرګولی (۲۰۱۹ جون) کې د اسلامي بانکدارۍ د مرابحې ناخالصه مالي تمویل او پانګې اچونې (صکوک او نور) ۱۲.۲۹ میلیارده افغانۍ (۱۵۳.۲۷ میلیونه ډالر) ته رسیږي چې د ۱۳۹۷ مالي کال د کب میاشتې (۲۰۱۹ مارچ) په پرتله ۸.۳۶ سلنه یا ۴۷۲.۶۹ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي او د ټولیزه شتمنیو ۳۷.۱۶ سلنه جوړوي، په داسې حال کې چې د مرابحې ناخالصه مالي تمویل ۶.۳۱ میلیارده افغانۍ (۷۸.۷۷ میلیونه امریکایي ډالر) دي او (صکوک او نورو) د پانګو اچونو ارزښت ۵.۵۰ میلیارده افغانۍ (۶۸.۶۰ میلیونه امریکایي ډالر) ته رسیږي چې د ټولیزه شتمنۍ ۱۷.۵۵ سلنه جوړوي.
په افغانۍ نومول شوي ټولیزه مالي تمویل او پانګې اچونې ۵.۲۲ میلیارده افغانۍ (۶۵.۱۷ میلیونه امریکایي ډالره) ثبت کړې چې د ټولیزه ناخالصه مالي تمویل او پانګې اچونې ۴۲.۵۲ سلنه یا د ټولیزه شتمنیو ۱۵.۷۷ سلنه جوړوي. دا په داسې حال کې ده چې په امریکایي ډالرو نومول شوي مالي تمویل او پانګې اچونې ۷.۰۶ میلیارده افغانۍ (۸۸.۰۹ میلیونه امریکایي ډالر) ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه مالي تمویل او پانګې اچونې ۵۷.۴۷ سلنه یا د ټولیزه شتمنۍ ۲۱.۳۶ سلنه جوړوي.

د ټولیزه مالي تمویل او پانګې اچونې په پورتوفولیو کې د زیاتوالي اصلي لامل د پانګې اچونې په بیه لرونکو پاڼو (صکوکو) کې ۳۷۹.۲۹ میلیونه افغانۍ زیاتوالی او د مرابحې په مالي تمویل کې ۹۶.۵۶ میلیونه افغانۍ ډېروالی په ګوته شوی دی. په ورته وخت کې د مرابحې خالصه مالي تمویل په یاده ربعه کې ۷۲.۵۲ میلیونه افغانۍ کموالی تجربه کړی چې اصلي لامل یې د خسارې په زیرمو کې زیاتوالی دی.

په ټولیزه ناخالصه پانګې اچونې او مالي تمویل کې د زیاتوالي عمده عوامل د ارزونې لاندې موده کې د صکوکو او مرابحې نوی مالي تمویل دی. همدا ډول، د مرابحې مالي تمویل تسویه او اقساط په یاده ربعه کې ترلاسه شوي دي.

په هېواد کې د مرابحې مالي تمویل پر سکتور پور ورکړې باندې د اسلامي بانکدارۍ دریځو واکمنې ډېره ده چې د سکتور د مرابحې د ټولیزه ناخالصه مالي تمویل ۸۷.۲۴ سلنه جوړوي، په داسې حال کې چې د مرابحې په ټولیزه مالي تمویل کې د یو بشپړ اسلامي بانک ونډه ۱۲.۷۵ سلنه ده. په صکوکو کې د ټولیزه پانګې اچونې بیه لرونکې پاڼې چې د هېواده بهر وربادنې پانګه اچونې شوې ده، د یو بشپړ اسلامي بانک لخوا د ۸۱.۱۴ سلنې ونډه په واک کې ده او پاتې ۱۸.۸۵ سلنه یې د دوو سوداګریزو بانکونو د اسلامي بانکدارۍ څانګو تر مالکیت لاندې دي.

د اسلامي بانکدارۍ د ټولیزه ناخالصه مالي تمویل او پانګې اچونې تجزیه او شننه کې د مرابحې د حصول وړ مبلغ ۶.۴۱ میلیارده افغانۍ چې د تېرې دورې په پرتله ۱.۵۳ سلنه زیاتوالي ښکاره کوي او د ناخالصه مالي تمویل او پانګې اچونې ۵۲.۱۷ سلنه جوړوي، شامل دي. کمېډونکی مشارکه ۱۱۷.۶۳ میلیونه افغانۍ یا ۰.۹۵ سلنې ته رسېږي، د دوامداره مشارکې ارزښت ۵۳.۸۰ میلیونه افغانۍ ته رسیږي. د صکوکو پانګه اچونه ۳.۷۵۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېرې دورې په پرتله ۳۷۹.۲۹ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي او د ټولیزه ناخالصه مالي تمویل او پانګې اچونې ۳۰.۴۹ سلنه جوړوي. د اجارې لپاره ترلاسه شوې شتمنۍ ۱.۹۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې په یاده ربعه کې د ناخالصه مالي تمویل او پانګې اچونې ۱۵.۹۲ سلنه جوړوي.

د پانګې اچونې (صکوکو) په پورتوفولیو کې زیاتوالی د یو بانک په اسلامي بانکدارۍ څانګې او په بشپړ اسلامي بانک کې لیدل شوی دی. دلته باید یادونه وشي چې د نوي کابل بانک د اسلامي بانکدارۍ څانګه د مالي تمویل او پانګې اچونې فعالیتونه نه لري.

**۷.۶ جدول: د محصول پر بنسټ د اسلامي بانکوالۍ په نظام کې مالي تمویل او پانګونه (ناخالصه)، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه**

| شمېره | محصول | د ۲۰۱۹ مارچ | د ۲۰۱۹ جون | په مبلغ کې توپیر | د توپیر سلنه | د ناخالصه پانګې اچونې او مالي تمویل د سلنې په توګه محصولات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | مبلغ په میلیون افغانی | | | | |
| ۱ | د مرابحې د حصول وړ مبلغونه | ۶،۳۱۹.۷۲ | ۶،۴۱۶.۲۹ | ۹۶.۵۶ | ۱.۵۳ ٪ | ۵۲.۱۷ ٪ |
| ۲ | کمېډونکی مشارکه | ۱۲۴.۱۰۳ | ۱۱۷.۶۳ | (۶.۴۶) | ۵٪ | ۱٪ |
| ۳ | د دوامداره مشارکې مالي تمویل | ۵۰.۵۰۳ | ۵۳.۸۰ | ۳.۳۰ | ۷٪ | ۰.۴۳٪ |
| ۴ | د پانګې اچونې بیه لرونکي پاڼې (صکوک) | ۲،۱۱۴.۷۷ | ۲،۴۴۴.۱۲ | ۳۲۹.۳۵ | ۱۶٪ | ۱۹.۸۷٪ |
| ۵ | د اجارې لپاره ترلاسه شوي شتمنۍ | ۱،۹۵۸.۷۸ | ۱،۹۵۸.۷۸ | ۰ | ۰٪ | ۱۶٪ |
| ۶ | نورې پانګې اچونې | ۱،۲۵۶.۳۰ | ۱،۳۰۶.۲۴ | ۴۹.۹۴ | ۴٪ | ۱۰.۶۲٪ |
| ټولیز مبلغ | | ۱۱،۸۲۴.۱۹ | ۱۲،۲۹۶.۸۹ | ۴۷۲.۷ | ۳.۹۹٪ | ۱۰۰٪ |


سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۱۵.۶ ګراف: د محصول پر بنسټ د اسلامي بانکوالۍ د نظام پانګونه او مالي تمویل، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمې ربعې پرتله**




سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۱۶.۶ ګراف: د محصول په اساس پانګې اچونې او مالي تمویل، د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه**




سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

- **د مالي تمویل او پانګونې د زیان زیرمې**

د ۲۰۱۹ زیږدیز کال د جون میاشتې په پای کې د اسلامي بانکدارۍ ټولیزه تخصیص شوي مبلغونه ۸۱۳.۲۱ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې د مالي تمویل په پرتله ۱۷۵.۰۹ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي او د مرابحې مالي تمویل لپاره ۱۶۹.۰۸ میلیونه افغانۍ او د حصول وړ حساب لپاره ۶ میلیونه افغانۍ ثبت شوي دي.

دې برخې لپاره ځانګړې شوي پورونو کې ۹۶۷.۲۴ میلیونه افغانۍ د مرابحې مالي تمویل او ۲۱ میلیونه افغانۍ د حصول وړ مبلغ حساب، شامل دي. د مرابحې مالي تمویل لپاره ځانګړې شوي پورونه د تیرې ربعې د ۱۲.۶۲ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې د ټولیزه ناخالصه مالي تمویل ۱۵.۰۷ سلنه جوړوي.


- **د بانکونو ترمنځ طلبات**

د اسلامي بانکدارۍ د بانکونو ترمنځ طلبات چې د شتمنۍ په کټګورۍ کې څلورمه لویه کټګوري ده، د ۱۳۹۸ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۵.۱۳ میلیارده افغانۍ ( ۶۴.۰۲ میلیونه امریکایي ډالرو ) ته رسیږي چې د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۱۵.۵۲ جوړوي. د یادونې وړ ده چې په افغانیو د بانکونو

ترمنځ طلبات ۵.۸۴ سلنه، په امریکایي ډالرو د بانکونو ترمنځ طلبات ۹۰.۷۵ سلنه او په نورو اسعارو د بانکونو ترمنځ طلبات ۳.۴ سلنه ثابته پاتې دي. د ډېرو معلوماتو لپاره د ۶.۱۶ ګراف ته مراجعه وکړئ.

د اسلامي بانکدارۍ له شپږو دریځو څخه دوه دریځو او یو بشپړ اسلامي بانک د بانکونو ترمنځ طلبات لري چې په دې ډله کې ۲.۲۱ میلیارده افغانۍ موده ایز امانتونه او ۲.۹۱ میلیارده افغانۍ جاري امانتونه، د بانکونو ترمنځ طلبات چې د جنسي مرابحې په توګه کارول کېږي، د بانکونو ترمنځ لېږد رالېږد او د خپلو بانکونو سره د تسویې معاملې، شامل دي.

**۱۷.۶ ګراف: د بانکونو ترمنځ طلبات، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه**




سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

- **په خزانه کې نغدي پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات**

د ۲۰۱۹ مالي کال د جون میاشتې په پای کې د اسلامي بانکدارۍ په خزانه کې نغدې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات ۱۳.۳۵ میلیارده افغانۍ (۱۶۶.۴۱ میلیونه امریکایي ډالر) ته رسیږي چې د تېرې ربعې په پرتله ۹۴۸.۲۶ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. په خزانه کې نغدي پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات تر ټولو لویه کټګوري ده او د دې برخې د ټولیزه شتمنیو ۴۰ سلنه جوړوي. په خزانه کې د نغدي پیسو او د افغانستان بانک باندې د طلباتو ډېروالی زیاتره په خزانه کې د نغدي پیسو په برخه کې رامنځ ته شوی دی. د دې زیاتوالي عمده لامل د ارزونې لاندې ربعه کې د دې برخې د ټولیزه امانتونو زیاتوالی په ګوته شوی دی. په خزانه کې نغدي پیسې او د افغانستان بانک باندې طلباتو کې ۵.۱۳ میلیارده افغانۍ په خزانه کې د نغدي پیسو، ۵.۷۸ میلیارده افغانۍ د افغانستان بانک سره د غیر ټکټانې جاري حساب او ۲.۴۲ میلیارده افغانۍ د افغانستان بانک سره د الزامي زیرمې شامل دي.


**۲.۸.۶ ټولیزه امانتونه**

امانتونه چې د مالي تمویل عمده سرچینه او د پوراینو مهمه برخه جوړوي، ۲۷.۳۸ میلیارده افغانۍ (۳۴۱.۳۰ میلیونه امریکایي ډالر) ته رسیږي چې د ټولیزه پوراینې ۹۳ سلنه جوړوي او د تېرې ربعې د ۲۵.۸۳ میلیارده افغانۍ (۳۲۱.۹۷ میلیونه امریکایي ډالر) یا ۱۰.۶۶ سلنې ودې په پرتله ۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ټولیزه امانتونو کې ډېروالی زیاتره په موده ایز امانتونو (۱.۱۳ میلیارده افغانۍ یا ۱۹.۶۲ سلنه) او وروسته د سپما امانتونه (۷۸۱.۲۶ میلیون افغانۍ یا ۸.۱۱ سلنه) کې رامنځ ته شوی، په داسې حال کې چې په تېره ربعه کې په موده ایز او سپما امانتونو کې په ترتیب سره ۱.۹۱ میلیارده افغانۍ یا ۲۷.۷۲ سلنه زیاتوالی راغلی دی. همدا ډول، د دې سکتور جاري امانتونه ۴۱۶.۷۹ میلیونه افغانۍ یا ۴ سلنه ټیټوالی موندلی دی.

د دې ترڅنګ، ډېروالی زیاتره په افغانۍ امانتونو کې رامنځ ته شوی، په داسې حال کې چې د امریکایي ډالرو امانتونو د ټولیزه امانتونو یو میلیون یا ۳۳.۴۵ سلنه جوړوي او د تېرې دورې په پرتله ۱۱.۸۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول، د امریکایي ډالرو امانتونه ۱۵.۷۹ میلیارده افغانۍ (۱۹۶.۸۲ میلیون امریکایي ډالر) یا د ټولیزه امانتونو ۵۷.۶۶

سلنه جوړوي چې د تېرې دورې په پرتله ۱۰ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. په ټولیزه امانتونو کې د یو بشپړ اسلامي بانک ونډه تر ټولو زیاته ده چې ۵۱.۰۴ سلنې ته رسېږي او ورپسې د ۴۸.۹۵ سلنې ونډې سره د اسلامي بانکدارۍ څانګې واقع کېږي. د دې سکتور د مشتریانو د ۹.۱۶ میلیارده افغانۍ ( ۱۱۴.۱۹ میلیونه امریکایي ډالره) په افغانۍ امانتونه دي. د بانکي نظام ټولیزه امانتونه له ۹.۲۱ میلیارده افغانۍ جاري امانتونو، ۶.۸۹ میلیارده افغانۍ موده ایزه امانتونو او ۱۰.۴۲ میلیارده افغانۍ د سپما امانتونو څخه جوړ شوي دي. د سلنې له پلوه، جاري امانتونه د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۳۴.۷۳ سلنه، موده ایزه امانتونه ۲۵.۹۸ سلنه او د سپما امانتونه ۳۹.۲۸ سلنه جوړوي او د مشتریانو د امانتونو ۲۶.۵۲ میلیارده افغانۍ او د بانکونو د امانتونو ۸۵۵.۳۶ میلیونه افغانۍ رانغاړي. د بانکونو امانتونه د ټولیزه امانتونو یوازې ۳.۱۲ سلنه جوړوي.

**۱۸.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي، د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه**




سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۳.۸.۶ نقدینګي


د اسلامي بانکدارۍ د ټولو دریځو او د یو بشپړ اسلامي بانک د نقدینګۍ وضعیت د پراخه سیالیت نسبت (۱۵ سلنې) او د چټکه سیالیت نسبت (۲۰ سلنې) لپاره د ټاکل شوي حد څخه پورته دي. د بانکي سکتور د پراخه سیالیت نسبت منځنی حد د تېرې دورې (۲۰۱۹ مارچ) د ۵۴.۴۴ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې دوره کې ۵۱.۵۷ سلنې ته رسېږي چې ۲.۸۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. له کومه چې په هېواد کې د پانګې بازار نشته دی، د بانکي سکتور سیالیت لوړ پاتې شوی دی. په عموم توګه، کولای شو د نقدینګۍ خطر د یو داسې خطر په توګه تعریف کړو چې پکې د پور اخیستونکو او امانت ایښودونکو د تقاضا پرځای کولو لپاره کافي سیاله شتمنۍ نه وي. ټول بانکونه اړ دي چې د سیالیت نسبت په یو معقوله کچه کې وساتي څو د نقدینګۍ اړوند کومه ستونزه پیښه نه شي. د دې لپاره، اسلامي بانک او د اسلامي بانکدارۍ دریځې باید د شتمنیو یوه مسؤوله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دندې د بانک د سیاستونو په پام کې نیولو سره د نیمګړتیاوو د تحلیل او تجزیې له لارې د بانک د نقدینه ګۍ، د حساسیت د ټیسټ، د سناریو د شننې، د نغدي جریان د شننې او داسې نورو له مدیریت څخه عبارت دي. (د زیاتو معلوماتو لپاره ۸.۶ جدول وګورئ)

**۸.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ د مالي ټینګښت مهم شاخصونه، د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه**

| نسبت (په سلنه) | د ۲۰۱۹ مارچ | ۲۰۱۹ جون |
|---|---|---|
| د ټولیزه شتمنۍ په وړاندې سیالې شتمنۍ | ۵۶ ٪ | ۵۵.۸۷ ٪ |
| د لنډمهاله پوراینو په وړاندې سیالې شتمنۍ | ۲۱۹۴٪ | ۳۲۷۱٪ |
| د ټولیزه فنډونو لپاره اسعاري مالي فنډونه | ۶۸٪ | ۵۸.۶۷٪ |
| د ټولیزه مالي تمویل لپاره اسعاري مالي تمویلونه | ۷۲٪ | ۷۰٪ |
| له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه (ROA) | (۵.۲۱) | (۰.۲۱۲) |
| له پانګې ترلاسه شوې ګټه (ROE) | (۲۶.۰۶) | (۱.۸۳۱) |

سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۱۹.۶ ګراف: د اسلامي بانکونو د مالي پانګې بهیر، د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه**




سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۴۸.۶ پانګه

د اسلامي بانکدارۍ پانګه ۳.۷ میلیارده افغانۍ (۴۷.۳۱ میلیون امریکایي ډالر) ته رسېږي چې د تېرې دورې (د ۲۰۱۹ مارچ) د ۳.۸۳ میلیارده افغانۍ (۴۷.۸۲ میلیون امریکایي ډالر) په پرتله ۱.۰۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د اکویټي په ټولیزه پانګه کې دا ټیټوالی د ربعې په اوږدو کې د خسارې له امله رامنځ ته شوی دی. د افغانستان د اسلامي بانک د پانګې د کفایت نسبت د تنظیم شوي حد څخه پورته دی. د اسلامي بانکدارۍ ځانګو کې د خاوندانو ونډې (چې د سیالۍ شتمنۍ په بڼه نه دي خو د پانګې اچونې ملکیت ارزښت لري او د دودیز بانک څخه اسلامي بانکدارۍ دریځو ته لېږدول یا ورکړل شوي دي)، شامل دي. د تېرو کلونو ساتل شوي ګټې/خسارې، نور پراخه عواید (د ثابته شتمنیو د بیاځلي ارزښت ټاکنې له لارې ترلاسه شوي عواید) او د روان کال ګټې/زیان، هم رانغاړي. د دې برخې د مالي پانګې بهیر چې پورته ویل شوی، د ۱۸.۶ ګراف کې توضیح شوی دی.

د اسلامي بانکدارۍ یوه دریځه د دې برخې په ټولیزه پانګه کې تر ټولو زیاته ونډه ۷۰.۵۸ سلنه لري او ورپسې یو بشپړ اسلامي بانک ۳۴.۷۲ سلنه ونډه لري.

### ۵۸.۶ ګټورتیا

**د ربعې پر بنسټ شننه**

اسلامي بانکدارۍ د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې ۶۹.۷۳ میلیونه افغانۍ خالصه زیان کړی چې د تېرې دورې د ۲۱۸.۲۱ میلیونه افغانۍ په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د اسلامي بانکدارۍ د شپږو دریځو له ډلې پنځو دریځو د تېرې دورې د ۲۴۵.۳۵ میلیونه افغانۍ په پرتله ۱۳۰.۷۷ میلیونه افغانۍ خالصه زیان ثبت کړی دی. په دې ربعه کې د خسارې د کموالي عمده عامل د ۱۹۶.۹۷ میلیون افغانۍ په ارزښت د خالصه پورونو په تخصیص کې کموالی، ښودل شوی دی. د دې سکتور د خسارې اصلي لامل د دوو بانکونو د اسلامي بانکدارۍ دریځو او د یو بشپړ اسلامي بانک لخوا د ۲۱۷ میلیون افغانۍ په ارزښت د ناخالصه پورونو ځانګړی کول دی. د پور په تخصیص کې د اسلامي بانکدارۍ د دوو دریځو ونډه ۲۰۰ میلیون افغانۍ او د یو بشپړ اسلامي بانک بیا ۱۷ میلیون افغانۍ ښودل شوې ده. همدا رنګه، د اسلامي بانکدارۍ دریځو ۹۰ میلیونه افغانۍ پور بیرته راټول کړی چې له دې ډلې د اسلامي بانکدارۍ دریو دریځو د ۷۰.۵۶ میلیون افغانۍ او یو بشبړ اسلامي بانک بیا ۱۹.۴۹ میلیون افغانۍ بیرته ترلاسه کړي دي.

د دې ترڅنګ، یو بشپړ اسلامي بانک د ارزونې لاندې ربعه کې ۴۲.۸۱ میلیون افغانۍ خالصه ګټه کړې ده. د ویلو وړ ده چې دا ګټه د اسعارو د بیاځلي ارزښت ټاکنې له لارې ترلاسه شوې او د بانک لپاره اصلي عاید نه ګڼل کېږي. د اسعارو د دې ارزښت ټاکنې څخه مخکې د بانک خساره ۱۲۴.۸۲ میلیون افغانۍ ښودل شوې ده.

- **عمومي بهیر: د ۱۳۹۸ مالي کال له مرغومې تر غبرګولي (د ۲۰۱۹ له جنورۍ تر جونه پورې)**

د ګټورتیا په برخه کې په ټولیزه توګه د اسلامي بانکدارۍ

د ۱۳۹۷ مالي کال د ورته مودې د ۱۱۱.۳۴ میلیونه افغانۍ خالصه ګټې په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړيو دوو ربعو کې ۲۵۹.۳۴ میلیونه افغانۍ (۳.۲۳۲ میلیون امریکایی ډالر) خالصه زیان کړی، چې عمده لامل یې له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټه د تېرې دورې د ۱.۰۴ سلنې په پرتله په دې دوره کې ۲.۱۰ سلنې ته رسېدلې ده.

د تېر کال د خالصه ګټې عمده برخه د ګټې له پلوه ترلاسه شوی عاید او د غیر ګټې عواید دي چې د اسلامي بانکدارۍ پنځو دریڅو او یو بشپړ اسلامي بانک پورې اړه لري. د دې سکتور خساره ۴۵۳.۷۳ میلیون افغانۍ ثبت شوې چې د اسلامي بانکدارۍ د دریو دریڅو او د یو بشپړ اسلامي بانک لخوا د خالصه پورونو تخصیص کچه ۹۷.۷۴ سلنې ته رسېږي. همدا ډول، د غیر ګټې کټګورۍ (عملیاتي لګښت) په لګښتونو کې ۲۴۶ میلیونه افغانۍ زیاتوالی هم د خسارې په ډېروالي کې رول لري. دا په داسې حال کې ده چې د خالصې ګټې له پلوه ترلاسه شوی عاید او اسعاري ګټې زیاتې شوې او په دې موده کې د لګښت بهیر تجدید شوی دی. اسلامي بانکدارۍ د تېرې دورې (د ۲۰۱۸ جون) د ۱۷۷ میلیونه افغانۍ ګټې په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې ۳۱۲.۸۵ میلیون افغانۍ خساره کړې ده. د یادولو وړ ده چې په تېره دوره کې د اسلامي بانکدارۍ دریو څانګو هم خساره کړې وه. یوازینی بشپړ اسلامي بانک د شپږو میاشتو (دوو ربعو) په موده کې د اسعارو د بیاځلې ارزښت ټاکنې له لارې د ۳۰۸ میلیون افغانۍ په ارزښت زیاتوالي سره په ټولیزه توګه

**۹.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ د نظام د ګټې او زیان جدول، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه**

| د ګټې او زیان جدول (مبلغ په میلیون افغانۍ) | | | |
|---|---|---|---|
| نوم | د ۲۰۱۹ مارچ | د ۲۰۱۹ جون | توپیر |
| له ګټې ترلاسه شوی عاید | ۱۹۶.۸۴ | ۲۲۰.۴۶ | ۲۳.۶۲ |
| د ګټې لګښت | ۸۰.۵۶ | ۹۵.۳۰ | ۱۴.۷۴ |
| د ګټې خالص عاید | ۱۱۶.۲۸ | ۱۲۵.۱۶ | ۸.۸۷ |
| د ګټې پرته نور عواید | ۹۲.۴۵ | ۱۰۵.۳۶ | ۱۲.۹۰ |
| د ګټې پرته نور لګښتونه | ۲۷۳.۰۹ | ۲۹۹.۰۳ | ۲۳.۲۵ |
| د اسعارو د بیاځلي ارزښت ټاکنې څخه مخکې عاید (خساره) | (۳۹۳.۳۸) | (۱۹۵.۸۹) | ۱۹۷.۴۹ |
| د خالصه پورونو تخصیص | ۳۲۶.۳۵ | ۱۲۷.۳۸ | (۱۹۸.۹۷) |
| د اسعارو د بیاځلي ارزښت ټاکلو ګټه/زیان | ۱۳۵.۱۰ | ۱۴۳.۵۸ | ۸.۴۷ |
| د مالیاتو څخه مخکې ګټه/زیان | (۴۰.۰۵) | (۱۷.۵۲) | ۲۲.۶۳ |
| د مالیې وروسته د ګټې خالص عاید/خساره | (۲۱۸.۲۱) | (۶۹.۷۳) | ۱۴۸.۴۸ |

سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک


په ټولیزه توګه، د اسلامي بانکدارۍ سکتور اووه ډوله مالي محصولات وړاندې کوي. د ۲۰۱۹ کال په دویمې ربعې کې د مالي تمویل څخه ترلاسه شوي ګټې په لاندې جدول کې ښودل شوي دي.

**۱۰.۶ جدول: د شریعت مطابق د سترو محصولاتو د ډولونو پر بنسټ ترلاسه شوې ګټه د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه**

| د شریعه قوانینو سره د برابر تړون د مهم ډول د ګټو ارزښت (مبلغ په میلیون افغانی) | | | |
|---|---|---|---|
| محصولات | د ۲۰۱۹ مارچ | د ۲۰۱۹ جون | توپیر |
| د بانکونو سره موده ایزه امانتونه | ۱۹.۱۱۸ | ۲۲.۰۹ | ۲.۹۷ |
| د نورو مالي ادارو د امانتونو د ګټې عواید | ۱۸.۱۸۳ | ۲۰.۳۹ | ۲.۲۱ |
| مرابحه | ۱۰۶.۲۳۵ | ۱۲۲.۹۵ | ۱۶.۷۱ |
| کمپنونکی مشارکه | ۹.۱۷۳ | ۳.۲۱۳ | (۵.۹۶) |
| صکوک | ۲۰.۷۷۸ | ۳۵ | ۱۱.۴۵ |
| اجاره | ۲۳.۳۵۱ | ۱۹.۵۷ | (۳.۷۷) |
| **د ګټې ټولیزه عاید** | **۱۹٦.۸٤۷** | **۲۲۰.٤٦** | **۲۳.٦۲** |

سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۲۰.۶ ګراف: د شریعت مطابق د محصولاتو له سترو برخو څخه ترلاسه شوې ګټه، د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ او دویمه ربعه**




سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۱۱.۶ جدول: د اسلامي بانکوالۍ د نظام د ټولو کارکوونکو، پور اخیستونکو او امانت ایښودونکو شمېر، د ۱۳۹۸ مالي کال تر دویمې ربعې پورې**

| موارد | شمېر |
|---|---|
| د بشپړې ورځې افغان کارکوونکي | ۱،۰۱۷ |
| د بشپړې ورځې بهرني کارکوونکي | ۴ |
| اوسني پور اخیستونکي | ۸۱۹ |
| اوسني امانت ایښودونکي | ۳۴۶،۰۲۳ |

سرچینه: د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو لوی آمریت، د افغانستان بانک






د ریاست د دفتر عمومی آمریت
info@dab.gov.af
ټلیفون: +۹۳ ۲۰ ۲۱۰۴۱۴۶